# نجم القرآن

## د قرآن کریم اسانه ترجمه او تفسیر



ډاکټر محمد عثمان نظامي

سپاره نمبر 2

# بسم الله الرحمن الرحيم

سَيَقُولُ السُّفَهَاءُ مِنَ النَّاسِ مَا وَلَّاهُمْ عَنْ قِبْلَتِهِمُ الَّتِي كَانُوا عَلَيْهَا ۚ قُلْ لِلَّهِ الْمَشْرِقُ وَالْمَغْرِبُ ۚ يَهْدِي مَنْ يَشَاءُ إِلَىٰ صِرَاطٍ مُسْتَقِيمٍ ﴿142﴾

د انسان او آخرت په منځ کې دغيبو ديوال حائل (ولاړ) دی،تر څو چې انسان د مرګ پواسطه د دې ديوال نه تير نشي د هغې پورې د آخرت يو شی يعنی نه جنت ليدلای شي او نه دوزخ،خو دوزخ او جنت دواړو ته لارې د دنيا نه ورغلي دي،چې الله تعالی دواړه لارې انسان ته ورښودلي دي،د هر انسان په فطرت کې ئې د دې لارو پوره نقشه انسان ته اچولي ده،ټول پيغمبران او آسماني کتابونه يې انسانانو ته د همدې لارو د ورښودلو دپاره دنيا ته رااليږلي دي،دواړه لارې ئې انسان ته دومره زياتې روښانه کړې دي او ځای په ځای ئې دومره علامې او نښې په هره لار کې ايښي دي،چې د لارې د غلطيدو او يا ورکيدو امکان او ګنجايش په کې هيڅ نشته دی،نو اوس يو سړی چې ښه پوهيږي،او د لمر په شان ورته ښکاريږي، چې دا د جنت لار ده، او دا د دوزخ لار ده ،او بيا هم د جنت لار پريږدي او د دوزخ په لار ځي،نو آيا د ده نه نور لوی کم عقل شته دی؟ نو ځکه قرآنکريم کافرانو او منکرانو ته کم عقل وايي.

مديني منوری ته د هجرت نه ورسته ۱۶ يا ۱۷ مياشتې مسلمانانو د بيت المقدس طرف ته لمونځ وکړو،او بيا يې د الله تعالی د حکم په اساس د بيت الله شريف خواته مخ واړولو،فرمايي:

| |
|---|
| سَيَقُولُ ژر دی چې وبه وايي السُّفَهَاءُ كم عقلان مِنَ النَّاسِ د انسانانو نه(د خلكو نه) مَا ( چې) څه شي وَلَّاهُمْ وګرځول هغوی(مسلمانان) عَنْ قِبْلَتِهِمُ د هغوی د قبلې نه الَّتِي هغه(قبله) كَانُوا چې ؤو دوی عَلَيْهَا ۚ په هغې باندې(يعنى چې هغې ته يې لمونځ كولو،چې بيت المقدس ؤو).چې واقعاً همداسې وشول ،ځنو خلكو به ويل چې په مسلمانانو څه وشول چې بيت المقدس خو د ټولو پيغمبرانو قبله وه او دوی پريښوده،چا به ويل: دا خو مسلمانانو د يهودانو سره د ضد او كينې په سبب قبله بدله كړه،او بعضو به ويل چې مسلمانان پخپل دين كې متردد او په شک كې دي،نو د دوی د اعتراضونو په جواب كې الله تعالى فرمايي: |
| قُلْ ووايه(ای محمد صلى الله عليه وسلم!كافرانو ته) لِلَّهِ الله لره دي الْمَشْرِقُ مشرق وَالْمَغْرِبُ ۚ او مغرب.(يعنى الله تعالى په كوم خاص طرف كې محدود نه دی، بلكې مشرق،مغرب،شمال او جنوب ټول د الله تعالى دي ،او مونږ قبله د الله تعالى د حكم په اساس بدله كړې ده ،مخكې د الله تعالى حكم ؤ چې بيت المقدس ته لمونځ كوئ نو مونږ د الله تعالى حكم منلو ،او اوس د الله تعالى حكم دی چې د بيت الله خواته لمونځ كوئ ،نو مونږ د الله حكم منو او د كعبې شريفې خواته لمونځ كوو. |
| يَهْدِي هغه جل جلاله هدايت كوي(سمه لار ښايي) مَنْ يَشَاءُ چا ته چې ئې غواړي إِلَىٰ صِرَاطٍ مُسْتَقِيمٍ سمې لارې ته(اسلام ته). ﴿142﴾ |

وَكَذَٰلِكَ جَعَلْنَاكُمْ أُمَّةً وَسَطًا لِتَكُونُوا شُهَدَاءَ عَلَى النَّاسِ وَيَكُونَ الرَّسُولُ
عَلَيْكُمْ شَهِيدًا ۗ وَمَا جَعَلْنَا الْقِبْلَةَ الَّتِي كُنْتَ عَلَيْهَا إِلَّا لِنَعْلَمَ مَنْ يَتَّبِعُ
الرَّسُولَ مِمَّنْ يَنْقَلِبُ عَلَىٰ عَقِبَيْهِ ۚ وَإِنْ كَانَتْ لَكَبِيرَةً إِلَّا عَلَى الَّذِينَ هَدَى
اللَّهُ ۗ وَمَا كَانَ اللَّهُ لِيُضِيعَ إِيمَانَكُمْ ۚ إِنَّ اللَّهَ بِالنَّاسِ لَرَءُوفٌ رَحِيمٌ ﴿143﴾

| |
|---|
| وَكَذَٰلِكَ او همدارنګه جَعَلْنَا ګرځولي يئ مونږ كُمْ تاسو أُمَّةً يو امت وَسَطًا بهتر(غوره) لِتَكُونُوا د دې دپاره چې شئ تاسو شُهَدَاءَ شاهدان عَلَى النَّاسِ په خلكو باندې وَيَكُونَ او شي الرَّسُولُ پيغمبر عليه سلام عَلَيْكُمْ په تاسو باندې شَهِيدًا ۗ شاهد. |
| يعنى لكه څنګه چې تاسو ته بهتره قبله دركول شوي ده،همدارنګه تاسو د ټولو نه افضل او بهتر امت هم جوړشوئ يئ،د دې دپاره چې په آخرت كې تاسو په خلكو او پيغمبر عليه سلام په تاسو باندې شاهد شي،د دې وضاحت په احادثو كې داسې راغلئ دى: كله چې الله تعالى د قيامت په ورځ پيغمبرانو عليهم سلام نه پوښتنه وكړي چې آيا تاسو ځما پيغام خلكو ته رسولئ ؤو؟دوى عليهم سلام چې جواب وركړي چې هو:نو الله تعالى به وفرمايي چې:څوک شاهد لرئ؟پيغمبران عليهم سلام به ووايې چې هو!محمد صلى الله عليه وسلم او د هغه عليه سلام امت،چنانچه دا امت به شاهدې وركړي. |
| وَمَا جَعَلْنَا او نه وه مقرر كړي مونږ الْقِبْلَةَ قبله الَّتِي هغه(قبله) كُنْتَ چې ته وې عَلَيْهَا په هغې باندې(چې لمونځ دې ورته كولو) إِلَّا مګر(مقرره كړې وه مونږ دا قبله) لِنَعْلَمَ د دې دپاره چې بيل(او ښكاره) كړو مونږ مَنْ هغه څوک يَتَّبِعُ چې پيروي كوي الرَّسُولَ د پيغمبر صلى الله عليه وسلم مِمَّنْ د هغه چانه يَنْقَلِبُ چې بيرته ګرځي(د اسلام نه) عَلَىٰ عَقِبَيْهِ ۚ په پوندو خپلو(كفر ته) وَإِنْ او بيشكه كَانَتْ (دا بدلول د قبلې) ؤو لَكَبِيرَةً يقيناً ډير سخت(كار) .يعنى د مكې د مسلمانانو دپاره دا ډير لوى او سخت كار ؤو چې:د ابراهيم عليه سلام قبله پريږدې او بيت المقدس ته مخ واړوي،او د هغو يهودانو او نصاراوو دپاره چې په مدينه منوره كې مسلمانان شوي ؤو د هغوى دپاره دا ډير سخت كار ؤو چې بيت المقدس چې د سليمان عليه سلام څخه د عيسى |

| |
|---|
| عليه سلام د وخت پورې قبله وه،چې دوی دې بيت المقدس پرېږدي او بيت الله شريف ته دې مخ واړوي. |
| إِلَّا مګر(دا د قبلې بدلول سخت کار نه ؤو) عَلَى الَّذِينَ په هغو خلکو باندې هَدَى اللَّهُ ۗ چې الله تعالی ورته هدايت کړئ ؤو(يعنی مؤمنان پکې کامياب شو،د پيغمبر عليه سلام پيروي يې پرته د شک نه وکړه وَمَا كَانَ اللَّهُ او نه دی الله تعالی لِيُضِيعَ چې ضايع کړي إِيمَانَكُمْ ۚ ايمان (لمونځونه) ستاسو(ځنو مسلمانانو ته داشک پيدا شو چې هغه لمونځونه چې د بيت المقدس خواته شوي دي هغه به څنګه شوي وي،قبول شوي به يې او که ضايع شو،نو دا د دې جواب دی چې الله تعالی ستاسو ايمان(لمونځونه)نه دې ضايع کړي،دا د قبلې بدلول خو په تاسو امتحان ؤو،چې سوچه مؤمنان د شک کوونکو او منافقانو څخه بيل او ښکاره شي) إِنَّ اللَّهَ بيشکه الله تعالی بِالنَّاسِ په خلکو لَرَءُوفٌ يقيناً ډېر نرمي کوونکئ رَحِيمٌ بې حده رحم کوونکئ دی.﴿143﴾ |

قَدْ نَرَىٰ تَقَلُّبَ وَجْهِكَ فِي السَّمَاءِ ۖ فَلَنُوَلِّيَنَّكَ قِبْلَةً تَرْضَاهَا ۚ فَوَلِّ وَجْهَكَ شَطْرَ الْمَسْجِدِ الْحَرَامِ ۚ وَحَيْثُ مَا كُنْتُمْ فَوَلُّوا وُجُوهَكُمْ شَطْرَهُ ۗ وَإِنَّ الَّذِينَ أُوتُوا الْكِتَابَ لَيَعْلَمُونَ أَنَّهُ الْحَقُّ مِنْ رَبِّهِمْ ۗ وَمَا اللَّهُ بِغَافِلٍ عَمَّا يَعْمَلُونَ
﴿144﴾

| |
|---|
| الله تعالی فرمايي: |
| قَدْ يقيناً نَرَىٰ مونږ ګورو(ای محمد صلی الله عليه وسلم) تَقَلُّبَ ګرځول وَجْهِكَ د مخ ستا فِي السَّمَاءِ ۖ آسمان ته(د دې دپاره چې وحې راشي او کعبه قبله جوړه شي) فَلَنُوَلِّيَنَّكَ نو خامخا مونږ ګرځوو تا قِبْلَةً (يوی)قبلې ته تَرْضَاهَا ۚ چې ته خوښوې |

هغه(يعنى كعبه شريفه) فَوَلِّ نو وګرځوه وَجْهَكَ مخ خپل
شَطْرَ په لوري الْمَسْجِدِ الْحَرَامِ ۚ د مسجد الحرام وَحَيْثُ او هر
چيرته مَا كُنْتُمْ چې ياستئ تاسو فَوَلُّوا نو وګرځوئ تاسو
وُجُوهَكُمْ مخونه خپل شَطْرَهُ ۗ په لوري د هغه(يعنى د مسجد
الحرام طرف ته) وَإِنَّ او بيشكه الَّذِينَ هغه خلک أُوتُوا چې
ورکول شوئ دوى ته الْكِتَابَ كتاب (يهود او نصارى) لَيَعْلَمُونَ
بيشكه پوهيږي دوى أَنَّهُ چې دغه ( د قبلې د بدلولو حكم) الْحَقُّ
حق دى مِنْ رَبِّهِمْ ۗ د طرفه د رب د دوى وَمَا اللَّهُ او نه دى
الله تعالى بِغَافِلٍ بې خبره عَمَّا د هغه څه نه يَعْمَلُونَ چې دوى
يې كوي. ﴿144﴾

يعنى د كتابيانو په آسماني كتابونو كې دا خبره ښكاره ده چې:ختم
المرسلين صلى الله عليه وسلم به د يوڅه مودې دپاره د بيت
المقدس په لوري لمونځ كوي،او بيا به د كعبې شريفې په لوري
لمونځ كوي،او ټولو ته دا معلومه ده چې د محمد صلى الله عليه
وسلم د امت اصلي او دائمي قبله د قيامت پورې كعبه شريفه
ده،خو د كينې او حسد په وجه هر څه يې چې په خوله راځي هغه
وايي.

وَلَئِنْ أَتَيْتَ الَّذِينَ أُوتُوا الْكِتَابَ بِكُلِّ آيَةٍ مَا تَبِعُوا قِبْلَتَكَ ۚ وَمَا أَنْتَ بِتَابِعٍ
قِبْلَتَهُمْ ۚ وَمَا بَعْضُهُمْ بِتَابِعٍ قِبْلَةَ بَعْضٍ ۚ وَلَئِنِ اتَّبَعْتَ أَهْوَاءَهُمْ مِنْ بَعْدِ مَا
جَاءَكَ مِنَ الْعِلْمِ ۙ إِنَّكَ إِذًا لَمِنَ الظَّالِمِينَ ﴿145﴾

وَلَئِنْ او حتى كه أَتَيْتَ راوړي ته الَّذِينَ هغو خلكو ته أُوتُوا چې
ورکول شوئ دى هغوى ته الْكِتَابَ كتاب(تورات او انجيل) بِكُلِّ
هر (قسم ) آيَةٍ نښې(او دلايل) مَا تَبِعُوا پيروي نه كوي هغوى

قِبْلَتَكَ ۚ د قبلې ستا(يعنی د کعبې شريفې) وَمَا أَنْتَ او نه ته بِتَابِعٍ پیروي کونکئ(تابع کيدونکئ) ئې قِبْلَتَهُمْ ۚ د قبلې د هغوی(يعنی دوباره د بيت المقدس، د الله تعالی د دې حکم نه وروسته چې کعبه قبله شوه) وَمَا بَعْضُهُمْ او نه بعضې د هغوی بِتَابِعٍ پیروي کوونکې(تابع کيدونکي) دي قِبْلَةَ د قبلې بَعْضٍ ۚ د بعضو(يهودانو د بيت المقدس غربې طرف ته مخ کولو،حال دا چې نصاراوو د مريم عليها سلام د اعتکاف کولو کوټه چې د بيت المقدس په شرقي خوا کې وه،خپله قبله جوړه کړې وه) وَلَئِنِ او يقيناً که چيرته اتَّبَعْتَ ته پیروي وکړې أَهْوَاءَهُمْ د غوښتنو د هغوی(يعنی دوباره د يهودانو د غوښتنو په اساس بيت المقدس ته مخ واړوې) مِنْ بَعْدِمَا وروسته د دې جَاءَكَ چې راغلئ تاته مِنَ الْعِلْمِ ۙ د علم څخه(يعنی وروسته د دې حکم نه چې مخ د کعبې شريفې په لور واړوه،نو که تا د کتابيانو غوښتنه ومنله) إِنَّكَ بيشکه ته به إِذًا دغه وخت کې لَمِنَ الظَّالِمِينَ (نعوذبالله) خامخا د ظلمانو نه ئې. ﴿145﴾

الَّذِينَ هغه (خلک) آتَيْنَا چې ورکړئ مونږ هُمُ هغوی (ته) الْكِتَابَ کتاب(يعنی يهود او نصاری) يَعْرِفُونَهُ دوی پيژني هغه(محمد صلی الله عليه وسلم،قرآنکريم او کعبه شريفه چې د قيامت پورې د مسلمانانو قبله ده،داسې چې:) كَمَا لکه څنګه يَعْرِفُونَ چې پيژني هغوی أَبْنَاءَهُمْ ۖ ځامن خپل وَإِنَّ او بيشکه فَرِيقًا يوه ډله مِنْهُمْ د هغوی نه(د يهودو د علماوو نه) لَيَكْتُمُونَ يقيناً پټوي دوی الْحَقَّ حق (د نبي عليه سلام صفتونه او د قبلې بدلول په تورات کې) وَ په داسې حال کې هُمْ (چې) هغوی يَعْلَمُونَ پوهيږي(په دې خبره چې مونږ حق پټوو) ﴿146﴾

الْحَقُّ مِنْ رَبِّكَ ۖ فَلَا تَكُونَنَّ مِنَ الْمُمْتَرِينَ ﴿147﴾

يهودان د قبلې په باره کې حق پټوي، په دې باره کې:

الله تعالی فرمايي:

الْحَقُّ حق(همغه دي چې:) مِنْ رَبِّكَ ۖ ستا د رب د لوري دي فَلَا تَكُونَنَّ نو مه کيږه ته مِنَ الْمُمْتَرِينَ د شک کوونکو نه. ﴿147﴾

وَلِكُلٍّ وِجْهَةٌ هُوَ مُوَلِّيهَا ۖ فَاسْتَبِقُوا الْخَيْرَاتِ ۚ أَيْنَ مَا تَكُونُوا يَأْتِ بِكُمُ اللَّهُ جَمِيعًا ۚ إِنَّ اللَّهَ عَلَىٰ كُلِّ شَيْءٍ قَدِيرٌ ﴿148﴾

وَلِكُلٍّ او د هر چا دپاره وِجْهَةٌ يوه لوری دی هُوَ چې هغه مُوَلِّيهَا ۖ مخ اړوي هغې (لوري) ته فَاسْتَبِقُوا نو مخکې کيږئ تاسو(يو دبل نه) الْخَيْرَاتِ ۚ نيکيو ته أَيْنَ مَا هر چيرته تَكُونُوا چې ياستئ تاسو يَأْتِ را به ولي بِكُمُ تاسو اللَّهُ الله تعالی جَمِيعًا ۚ ټول(د قيامت په ورځ د اعمالو د جزا دپاره) إِنَّ اللَّهَ بيشکه الله تعالی عَلَىٰ په كُلِّ شَيْءٍ هر شي باندې قَدِيرٌ قادر دی. ﴿148﴾

وَمِنْ حَيْثُ خَرَجْتَ فَوَلِّ وَجْهَكَ شَطْرَ الْمَسْجِدِ الْحَرَامِ ۖ وَإِنَّهُ لَلْحَقُّ مِنْ رَبِّكَ ۗ وَمَا اللَّهُ بِغَافِلٍ عَمَّا تَعْمَلُونَ ﴿149﴾

وَمِنْ حَيْثُ او د کوم ځای نه خَرَجْتَ چې اوځې ته فَوَلِّ نو واړوه وَجْهَكَ مخ ستا شَطْرَ طرف ته الْمَسْجِدِ الْحَرَامِ ۖ د مسجد الحرام(يعنی کعبې ته) وَإِنَّهُ او بيشکه دغه(مخ اړول کعبې ته) لَلْحَقُّ يقيناً حق دي مِنْ د (طرفه) رَبِّكَ ۗ د رب د ستا وَمَا اللَّهُ او نه دی الله تعالی بِغَافِلٍ بې خبره عَمَّا د هغو(اعمالو نه) تَعْمَلُونَ چې تاسو يې کوئ. ﴿149﴾

وَمِنْ حَيْثُ خَرَجْتَ فَوَلِّ وَجْهَكَ شَطْرَ الْمَسْجِدِ الْحَرَامِ ۚ وَحَيْثُ مَا كُنْتُمْ فَوَلُّوا وُجُوهَكُمْ شَطْرَهُ لِئَلَّا يَكُونَ لِلنَّاسِ عَلَيْكُمْ حُجَّةٌ إِلَّا الَّذِينَ ظَلَمُوا مِنْهُمْ فَلَا تَخْشَوْهُمْ وَاخْشَوْنِي وَلِأُتِمَّ نِعْمَتِي عَلَيْكُمْ وَلَعَلَّكُمْ تَهْتَدُونَ ﴿150﴾

وَمِنْ حَيْثُ او د كوم ځاى نه خَرَجْتَ چې وځې ته فَوَلِّ نو واړوه وَجْهَكَ مخ د ستا شَطْرَ طرف ته الْمَسْجِدِ الْحَرَامِ ۚ د مسجد الحرام(يعنى كعبې خوا ته) وَحَيْثُ مَا او هر چيرته كُنْتُمْ چې ياستئ تاسو فَوَلُّوا نو واړوئ وُجُوهَكُمْ مخونه ستاسو شَطْرَ طرف ته هُ د هغه(مسجدالحرام) لِئَلَّا يَكُونَ د دې پاره چې نه وي لِلنَّاسِ خلكو ته(يعنى يهودانو او مشركانو ته) عَلَيْكُمْ په تاسو باندې حُجَّةٌ اعتراض (ځكه چې په تورات كې ليكلي دي چې د آخرې رسول او آخري امت نښه دا ده چې كعبې ته به مخ كوي،او دا به د هغوى ابدي قبله وي،نو كه نبي عليه سلام او مؤمنان كعبې ته مخ وانه ړوي،نو يهوديان به دا اعتراض وكړي،او شک به ورته پيدا شي چې تاسو آخري امت نه يئ او مشركانو به ويل چې دا څنګه نبي دی چې دعوه د ابراهيم عليه سلام د امت كوي خو ابراهيمي قبلې يا كعبې ته لمونځ نه كوي. إِلَّا مګر الَّذِينَ هغه كسان ظَلَمُوا چې ظالمان دي مِنْهُمْ د دوى نه(يعنى د قبلې د بدلولو نه وروسته هم سره د دې چې ښه پوهيږي خو بيا هم حق پټوي او اعتراضونه كوي،مثلاً د مكې ځنو مشركانو به ويل:لكه څنګه چې نبي عليه سلام او مسلمانانو ته زمونږ د قبلې حقانيت اوس معلوم شو او غوره يې كړه ،همداسې به زمونږ نورې خبرې هم ورو ورو ومني،او يهودا نو به ويل چې: مسلمانانو ته وروسته د دې څخه چې زمونږ د قبلې حقانيت ورته معلوم شو ،هغه يې ومنله،مګر يوازې د حسد،كينې او

نفساني غوښتنو په سبب يې هغه پرېښوده.) فَلَا تَخْشَوْ نو مه
وېرېږئ هُمْ د دوی نه (يعنی د دې دروغ جنو ظلمانو د
اعتراضونو او دلائلو نه) وَاخْشَوْنِي او ځما نه ووېرېږئ(ځما
نافرماني مه کوئ) وَلِأُتِمَّ او د دې دپاره چې پوره کړم زه
نِعْمَتِي نعمت خپل عَلَيْكُمْ په تاسو باندې وَلَعَلَّكُمْ او د دې دپاره
چې تاسو تَهْتَدُونَ سمه لار پيدا کړئ ﴿150﴾

كَمَا أَرْسَلْنَا فِيكُمْ رَسُولًا مِنْكُمْ يَتْلُو عَلَيْكُمْ آيَاتِنَا وَيُزَكِّيكُمْ وَيُعَلِّمُكُمُ
الْكِتَابَ وَالْحِكْمَةَ وَيُعَلِّمُكُمْ مَا لَمْ تَكُونُوا تَعْلَمُونَ ﴿151﴾

دا د قبلې بدليدل هم داسې يو نعمت دی:

كَمَا لکه څنګه چې أَرْسَلْنَا درلېږلې دی مونږ فِيكُمْ په تاسو
کې رَسُولًا رسول مِنْكُمْ د ستاسو څنې(دپاره د پوره کولو د
نعمت خپل په تاسو) يَتْلُو چې لولي عَلَيْكُمْ په تاسو باندې
آيَاتِنَا آياتونه زمونږ وَيُزَكِّيكُمْ او پاکوي تاسو(د کفر او شرک نه
ستاسو عقيدې
پاکوي) وَيُعَلِّمُكُمُ او درښيي تاسو ته الْكِتَابَ قرآنکريم
وَالْحِكْمَةَ او سنت(يا رازونه د دين) وَيُعَلِّمُكُمْ او درښيي تاسوته
مَا هغه څه لَمْ تَكُونُوا تَعْلَمُونَ چې تاسو پرې نه پوهيدلئ ﴿151﴾

فَاذْكُرُونِي أَذْكُرْكُمْ وَاشْكُرُوا لِي وَلَا تَكْفُرُونِ ﴿152﴾

مخکې ذکر شو چې الله تعالی لوی نعمتونه يعنی د قرآنکريم،او
نبي کريم صلی الله عليه وسلم په شان لوی نعمتونه ،او بهتره قبله
درکړه،نو اوس فرمايي چې د دې نعمتونو په مقابل تاسو هم:

فَاذْكُرُونِي نو تاسو ما يادوئ أَذْكُرْكُمْ زه به تاسو ياد كړم
وَاشْكُرُوا لِي او شُكر وباسئ ماته وَلَا تَكْفُرُونِ او كفر(انكار او ناشكري) مه كوئ ﴿152﴾

يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا اسْتَعِينُوا بِالصَّبْرِ وَالصَّلَاةِ ۚ إِنَّ اللَّهَ مَعَ الصَّابِرِينَ ﴿153﴾

د دې نه په مخكې آيت كې ذكر شو چې: فَاذْكُرُونِي أَذْكُرْكُمْ وَاشْكُرُوا لِي وَلَا تَكْفُرُونِ.نو په فَاذْكُرُونِي كې ټول عبادتونه او په وَاشْكُرُوا لِي كې

په ټولو نعمتونو باندې شُكر كول لازم شو،چې د دې دواړو كارونو آدا كول دومره آسان كار نه دى،خو د صبر كولو او لمونځ په كولو سره آسانيږي.

يَا أَيُّهَا الَّذِينَ اى هغو كسانو آمَنُوا چې ايمان مو راوړئ دى(اى مؤمنانو) اسْتَعِينُوا مرسته غواړئ (د الله تعالى نه) بِالصَّبْرِ په صبر وَالصَّلَاةِ ۚ او لمانځه سره إِنَّ بيشكه اللَّهَ الله تعالى مَعَ الصَّابِرِينَ د صبر كوونكو سره دى. ﴿153﴾

وَلَا تَقُولُوا لِمَنْ يُقْتَلُ فِي سَبِيلِ اللَّهِ أَمْوَاتٌ ۚ بَلْ أَحْيَاءٌ وَلَٰكِنْ لَا تَشْعُرُونَ ﴿154﴾

د الله تعالى په اطاعت باندي د صبر كولو يوه لويه نمونه د الله تعالى په لار كي جهاد او ژوند د لاسه وركول دي. نو د دوى په باره كي خبرى مه كوئ چي دوى ګني نه پوهيدل او هسي يي ځانونه مړه كړل او د دنيا د مزو نه لاړل،چي د د دي آيت شانزول هم همداسي دى،كله چي د بدر په غزا كي ۱۴ تنه صحابه كرام رضى الله عنهم شهيدان شو،نو خلكو ويلي چي فلانكئ مړ شو،او د دنيا د خوندونو نه محروم شو،نو دا مبارک آيت نازل شو:

وَلَا تَقُولُوا او مه وايئ لِمَنْ هغه چاته يُقْتَلُ چي وژل كيږي فِي سَبِيلِ په لار كي اللَّهِ د الله تعالى أَمْوَاتٌ ۚ مړه بَلْ بلكي أَحْيَاءٌ ژوندي دي وَلَٰكِنْ او ليكن لَا تَشْعُرُونَ تاسو نه پوهيږئ.(د دوى په ژوند) ﴿154﴾+

څوک چي: د الله په لار كي ووژل شي،هغه ته به جنت ته د ننوتلو دپاره د آخرت د ورځي پورې انتظار كول نه وي،بلكي شهيدانو ته مسقيماً د شهادت په وخت كي جنت ته داخله وركول كيږي،لهذا هغوى ژوندي دي.خو مونږ يي په ژوند نه پوهيږو(بيان القرآن)
د صحيح مسلم حديث شريف دى چي: د شهيدانو روحونه د شنو مرغانو په ججورو كي اچول كيږي،په جنت كي به ګرځي،خوراک به كوي او د عرش لاندي قنديلونو كي به آرام كوي

وَلَنَبْلُوَنَّكُمْ بِشَيْءٍ مِنَ الْخَوْفِ وَالْجُوعِ وَنَقْصٍ مِنَ الْأَمْوَالِ وَالْأَنْفُسِ وَالثَّمَرَاتِ ۗ وَبَشِّرِ الصَّابِرِينَ ﴿155﴾

وَلَنَبْلُوَنَّكُمْ او حتماً مونږ امتحانوو تاسو بِشَيْءٍ په یو شي سره مِنَ الْخَوْفِ د ویرې وَالْجُوعِ او د ولږې وَنَقْصٍ او په نقصان سره مِنَ الْأَمْوَالِ د مالونو وَالْأَنْفُسِ او د ځانونو وَالثَّمَرَاتِ ۗ او د میوو وَبَشِّرِ او زیری ورکړه الصَّابِرِينَ صبر کوونکو ته( یعنی چې په ځاني او مالي امتحانونو کې یې صبر وکړو، او کامیاب شو ،دوی ته د جنت زیری او خوشخبري ورکړه.) ﴿155﴾

الَّذِينَ إِذَا أَصَابَتْهُمْ مُصِيبَةٌ قَالُوا إِنَّا لِلَّهِ وَإِنَّا إِلَيْهِ رَاجِعُونَ ﴿156﴾

صبر کوونکي الَّذِينَ هغه خلک دي إِذَا چې کله أَصَابَتْهُمْ وررورسیږي هغوی ته مُصِيبَةٌ یو مصیبت قَالُوا (نو) وایي هغوی إِنَّا بیشکه مونږ لِلَّهِ د الله تعالی یو وَإِنَّا او بیشکه مونږ إِلَيْهِ هغه جل جلاله ته رَاجِعُونَ ورګرځیدونکي یو. ﴿156﴾

أُولَٰئِكَ عَلَيْهِمْ صَلَوَاتٌ مِنْ رَبِّهِمْ وَرَحْمَةٌ ۖ وَأُولَٰئِكَ هُمُ الْمُهْتَدُونَ ﴿157﴾

أُولَٰئِكَ دغه خلک، عَلَيْهِمْ په دوی باندې صَلَوَاتٌ عنایتونه(بخښنې)دي مِنْ رَبِّهِمْ د طرفه د رب د دوی نه وَرَحْمَةٌ ۖ او رحمت دی وَأُولَٰئِكَ او دغه کسان هُمُ هم دوی الْمُهْتَدُونَ سمه لار موندونکي دي(حق ته) ﴿157﴾

إِنَّ الصَّفَا وَالْمَرْوَةَ مِنْ شَعَائِرِ اللَّهِ ۖ فَمَنْ حَجَّ الْبَيْتَ أَوِ اعْتَمَرَ فَلَا جُنَاحَ عَلَيْهِ أَنْ يَطَّوَّفَ بِهِمَا ۚ وَمَنْ تَطَوَّعَ خَيْرًا فَإِنَّ اللَّهَ شَاكِرٌ عَلِيمٌ ﴿158﴾

په راتلونکي آیت باندې د بنه پوهیدلو دپاره د یو څه معلومات ذکر کول ضرور دي.

صفا او مروه په مکه معظمه کې دوه غرونه دي،د مکې خلک د
ابراهیم علیه سلام د زماني نه حجونه کوي چې د حج په دوران کې
د صفا او مروه د غرونو څخه طواف هم کوي،د جاهلیت په زمانه
کې کافرانو دوه بتان په دې غرونو ودرولي ؤو چې عامو خلکو
ګمان کولو چې ګني دوی طواف د دې بتانو د تعظیم او احترام دپاره
کوي،نو د اسلام په زمانه کې چې بتان لرې شو نو د مکې خلکو
فکر کولو چې شاید د صفا او مروه طواف هم نور بند شي او ګناه به
وي،همدارنګه د مدینې منورې انصارو د جاهلیت په وخت کې هم د
صفا او مروه د غرونو نه طواف بد ګڼلو،او نه یې کولو،نو چې
اسلام راغئ دوی هم په تشویش کې شو، د نبي علیه سلام څخه یې
پوښتنه وکړه چې:مونږ خو پخوا د صفا او مروه طواف نه کولو
اوس څه وکړو:نو په دې

| مناسبت آیت نازل شو:الله تعالی فرمایي: |
|---|
| إِنَّ بیشکه الصَّفَا صفا وَالْمَرْوَةَ او مروه مِنْ د شَعَائِرِ نښو اللَّهِ ۖ د الله تعالی ځنې دي فَمَنْ نو هر څوک حَجَّ چې هغه حج کوي الْبَيْتَ د بیت الله شریف أَوِ اعْتَمَرَ یا عمره کوي فَلَا نو نشته جُنَاحَ ګناه عَلَيْهِ په هغه باندې أَنْ يَطَّوَّفَ چې طواف وکړي بِهِمَا ۚ د دې دواړو(یعنی د صفا او مروه سعې ګناه نه ده،نه پخوا د بتانو د احترام دپاره وي او نه اوس بلکې دا د حج دپاره دي،او واجب دي. وَمَنْ او څوک تَطَوَّعَ چې پخپله خوښه وکړي خَيْرًا یوه نیکي فَإِنَّ نو بیشکه اللَّهَ الله تعالی شَاكِرٌ شکر قبلونکئ عَلِيمٌ ښه عالم دی.﴿158﴾ |

إِنَّ الَّذِينَ يَكْتُمُونَ مَا أَنْزَلْنَا مِنَ الْبَيِّنَاتِ وَالْهُدَىٰ مِنْ بَعْدِ مَا بَيَّنَّاهُ لِلنَّاسِ
فِي الْكِتَابِ ۙ أُولَٰئِكَ يَلْعَنُهُمُ اللَّهُ وَيَلْعَنُهُمُ اللَّاعِنُونَ ﴿159﴾

إِنَّ بیشکه الَّذِينَ هغه خلک يَكْتُمُونَ چې هغوی پټوي مَا هغه څه أَنْزَلْنَا چې نازل کړي دي مونږ مِنَ الْبَيِّنَاتِ د ښکاره دلیلونو وَالْهُدَىٰ او هدایت څخه مِنْ بَعْدِ مَا وروسته د هغې بَيَّنَّاهُ چه بیان کړي دي مونږ. هغه لِلنَّاسِ خلکو(بني اسرائيلو) ته فِي الْكِتَابِ ۙ په کتاب(تورات)کې أُولَٰئِكَ دغه خلک يَلْعَنُهُمُ لعنت کوي په دوی اللَّهُ الله تعالی وَيَلْعَنُهُمُ او لعنت کوي په دوی اللَّاعِنُونَ لعنت کونکي. ﴿159﴾

إِلَّا الَّذِينَ تَابُوا وَأَصْلَحُوا وَبَيَّنُوا فَأُولَٰئِكَ أَتُوبُ عَلَيْهِمْ ۚ وَأَنَا التَّوَّابُ الرَّحِيمُ ﴿160﴾

الله تعالی فرمای:

إِلَّا مګر الَّذِينَ هغه خلک تَابُوا چې توبه وباسي وَأَصْلَحُوا اوځان اصلاح کړي وَبَيَّنُوا او حق بیان کړی فَأُولَٰئِكَ نو دغه خلک أَتُوبُ عَلَيْهِمْ ۚ زه د دوی توبه قبلوم وَأَنَا او زه التَّوَّابُ ښه توبه قبلونکئ الرَّحِيمُ ( او) بي حده مهربان یم. ﴿160﴾

إِنَّ الَّذِينَ كَفَرُوا وَمَاتُوا وَهُمْ كُفَّارٌ أُولَٰئِكَ عَلَيْهِمْ لَعْنَةُ اللَّهِ وَالْمَلَائِكَةِ وَالنَّاسِ أَجْمَعِينَ ﴿161﴾

إِنَّ (مګر) بیشکه الَّذِينَ هغه خلک كَفَرُوا چې کافران دي وَمَاتُوا او مړه شي وَ په داسي حال کي هُمْ چې دوی كُفَّارٌ کافران وي(نه يې توبه ویستلې وي،نه يې ځان اصلاح کړئ وي او نه يې حق بیان کړئ وي أُولَٰئِكَ دغه خلک عَلَيْهِمْ په دوی باندې دی لَعْنَةُ اللَّهِ لعنت د الله تعالی وَالْمَلَائِكَةِ او(لعنت) د ملائکو وَالنَّاسِ او(لعنت) د خلکو أَجْمَعِينَ ټولو. ﴿161﴾

خَالِدِينَ فِيهَا ۖ لَا يُخَفَّفُ عَنْهُمُ الْعَذَابُ وَلَا هُمْ يُنْظَرُونَ ﴿162﴾

| |
|---|
| خَالِدِينَ همیشه به وي فِيهَا ۖ په دغه(لعنت یا جهنم)کښ لَا يُخَفَّفُ نه به سپکیږي (کمیږي) عَنْهُمُ د دوی څنې الْعَذَابُ عذاب وَلَا هُمْ او نه به دوی ته يُنْظَرُونَ مهلت ورکول کیږي. ﴿162﴾ |

وَإِلَٰهُكُمْ إِلَٰهٌ وَاحِدٌ ۖ لَا إِلَٰهَ إِلَّا هُوَ الرَّحْمَٰنُ الرَّحِيمُ ﴿163﴾

| |
|---|
| وَإِلَٰهُكُمْ او معبود ستاسو،(لایق د عبادت) إِلَٰهٌ معبود وَاحِدٌ ۖ یو دی(لایق د عبادت یو دی) لَا إِلَٰهَ نشته بل معبود(لایق د عبادت) إِلَّا مګر هُوَ هغه جل جلاله الرَّحْمَٰنُ ډیر مهربان الرَّحِيمُ بې حده رحم کوونکۍ دی ﴿163﴾ |

د مکي مشرکانو او کافرانو به ویل چي دا څنګه کیدای شي چي یو اِلَه(یو لایق د عبادت دی وي) او چي مسلمانان دا خبره کوي چي: اِلَه یا لایق د عبادت یو دی نو دوی څه دلیل لري.نو دا آیت نازل شو چي:

إِنَّ فِي خَلْقِ السَّمَاوَاتِ وَالْأَرْضِ وَاخْتِلَافِ اللَّيْلِ وَالنَّهَارِ وَالْفُلْكِ الَّتِي تَجْرِي فِي الْبَحْرِ بِمَا يَنْفَعُ النَّاسَ وَمَا أَنْزَلَ اللَّهُ مِنَ السَّمَاءِ مِنْ مَاءٍ فَأَحْيَا بِهِ الْأَرْضَ بَعْدَ مَوْتِهَا وَبَثَّ فِيهَا مِنْ كُلِّ دَابَّةٍ وَتَصْرِيفِ الرِّيَاحِ وَالسَّحَابِ الْمُسَخَّرِ بَيْنَ السَّمَاءِ وَالْأَرْضِ لَآيَاتٍ لِقَوْمٍ يَعْقِلُونَ ﴿164﴾

| |
|---|
| إِنَّ بیشکه فِي خَلْقِ په پیداکیدلو السَّمَاوَاتِ د آسمانونو وَالْأَرْضِ او ځمکه کي وَاخْتِلَافِ او په بدلولو اللَّيْلِ د شپې |

وَالنَّهَارِ او ورځ کې وَالْفُلْكِ او په کشتۍ کې الَّتِي هغه چې
تَجْرِي رواني وي فِي الْبَحْرِ په بحر کې بِمَا د هغه څه سره
(يعنی هغو مالونو سره) يَنْفَعُ چې فايده کوي النَّاسَ خلکو ته
وَمَا او په هغه(څه)کې أَنْزَلَ اللَّهُ چې نازلې کړي دي الله تعالى
مِنَ السَّمَاءِ د آسمان نه مِنْ مَاءٍ د اوبو څخې فَأَحْيَا نو
راژوندۍ(راشنه) کړه (الله تعالى) بِهِ په دغه(اوبو)سره
الْأَرْضَ ځمکه بَعْدَ وروسته مَوْتِهَا د مرګ(وچيدو)د هغې نه
وَبَثَّ او خواره کړه (الله تعالى) فِيهَا په هغې کې(ځمکه کې)
مِنْ كُلِّ د هر قسم دَابَّةٍ خوځيدونکو څخه وَتَصْرِيفِ او په
لړيدلو الرِّيَاحِ د بادونو کې وَالسَّحَابِ او په وريځو کې
الْمُسَخَّرِ مُسخر شوي(يعنی تابع شوي) بَيْنَ په منځ السَّمَاءِ د
آسمان وَالْأَرْضِ او ځمکه کې لَآيَاتٍ بيشکه نښې دي(د الله
تعالى د وجود او يو والي) لِقَوْمٍ هغو خلکو ته يَعْقِلُونَ چې
عقل لري. ﴿164﴾

يعنی د کائناتو پيداکيدل،جوړيدل او چلول د کائناتو د خالق د
وجود ثبوت دی،او په کائناتو کې هماهنګي،نظم،يو قسم
قوانين(مثلاً هر چيرته د نور سرعت،برقي مقناطسي قوت،د
جازبې قوت،کازمالوجيکل کانستانټ و غيره ټول يو قسم دي،چې
دا د دي ثبوت دی چې د کائناتو يو پاچا دی،يعنی يو الله پيدا کړي
دي او يو الله ئې چلوي،ځکه که يو ملک کې دوه يا ډير پاچاهان
وي،بيا خو د ملک په يو ځای کې به د يو پاچا قوانين وي او بل
ځای کې به د بل پاچا قوانين وي،او مهمه خو دا ده چې د
پاچاهانو په منځ کې حتماً اختلافات او جنګونه منځ ته راځي او
په ملک کې د امن او نظم په ځای بې امنې او بې نظمې او د
ابادۍ او ترقۍ په ځای تباهي او بربادې منځ ته راځي،نو که د
کائناتو هم نعوذبالله دوه يا ډېر پاچاهان وُو نو خامخا به يې په
خپلو کې اختلافات لرل، د کائناتو په يو ځای کې به يو قسم

قوانين ؤو او په بل ځاى كي به بل قسم قوانين ؤ،يو به يو قسم انسانان ، حيوانات و غيره پيدا كول او بل به بل قسم، يعنى هر يو به په خپلو خپلو ډيزاينونو باندي مخلوق جوړولو، او په خپلو كي به يې سره جنګونه كول، چې په دې صورت كې به نه په كائناتو كې نظم ؤو،نه به سكون ؤو، بلكې كائنات به تباه او برباد شوي ؤو،پس په كائناتو كې د يو قسم قوانينو او ډيزانونو،نظم،امن او هماهنګى موجوديت د دې ثبوت دى چې د كائناتو صرف يو خالق او يو پاچا دى چه الله تعالى دى.

وَمِنَ النَّاسِ مَنْ يَتَّخِذُ مِنْ دُونِ اللَّهِ أَنْدَادًا يُحِبُّونَهُمْ كَحُبِّ اللَّهِ ۖ وَالَّذِينَ آمَنُوا أَشَدُّ حُبًّا لِلَّهِ ۗ وَلَوْ يَرَى الَّذِينَ ظَلَمُوا إِذْ يَرَوْنَ الْعَذَابَ أَنَّ الْقُوَّةَ لِلَّهِ جَمِيعًا وَأَنَّ اللَّهَ شَدِيدُ الْعَذَابِ ﴿165﴾

وَمِنَ النَّاسِ او ځنې د خلكو نه مَنْ يَتَّخِذُ هغه څوک دي چې نيسي مِنْ دُونِ اللَّهِ پرته د الله تعالى نه،د الله جل جلاله سره أَنْدَادًا شريكان (د الله تعالى په ځاى بتانو او انسانانو ته عبادت كوي،او دا عقيده لري،چې: بتان او انسانان خلكو ته خير او شر،عزت او دولت وركولاى شي،نو په دې خاطر:) يُحِبُّونَهُمْ محبت كوي دوى د هغوى سره(شريكانو سره) كَحُبِّ اللَّهِ ۖ په شان د محبت د الله تعالى(يعنى د دې دپاره ورسره مينه كوي،عزت يې كوي او تعظيم او احترام يې كوي چې:ګڼي دا بتان او انسانان د دوى هر ضرورت پوره كولاى شي) وَالَّذِينَ او هغوى آمَنُوا چې ايمان يې راوړئ دى أَشَدُّ ډېر كلک دي حُبًّا لِلَّهِ ۗ په محبت كې د الله تعالى(يعنى كه د مشركانو كوم حاجت د دوى د معبودانو پواسطه پوره نه شي،او يا يې په تكليف كې

| |
|---|
| زياتوالئ راشي،نور نو نه هغې بت يا زيارت يا بابا يا پير ته،نه نور ورځې او نه ورسره محبت كوي،بلكې د هغه درگاه پرېږدي او د بل بت يا زيارت يا بابا او يا پير دربار ته ورځې،ليكن د مؤمين خبره داسې نه ده،د مؤمين محبت او مينه د الله تعالى سره هيڅكله نه كميږي،بلكې د تكليف او مصيبت په وخت كې نوره هم زياتيږي، الله تعالى ته رجوع كوي او نور هم خپل رب ته كيږي،نو دا دی د مشرک او مؤمين د محبت فرق. نيزدې وَلَوْ او كه يَرَى ليدلى ؤو الَّذِينَ هغو خلكو ظَلَمُوا چې ظلم يې كړئ دی(بتان او انسانان يې د الله تعالى سره شريكان او معبودان نيولي دي،نو كه دوی هغه صحنه او منظره ليدلې وه : ) إِذْ كله چې يَرَوْنَ دوی ووينې الْعَذَابَ عذاب (دآخرت نو پوه شوې به ؤو ) أَنَّ چې بيشكه الْقُوَّةَ طاقت لِلَّهِ خاص د الله تعالى سره دی جَمِيعًا ټول وَأَنَّ او بيشكه چې اللَّهَ الله تعالى شَدِيدُ سخت الْعَذَابِ عذاب والا دی. ﴿165﴾ |
| يعنى كه دوی هغه صحنه او منظره د عذاب ليدلې وه كوم عذاب چې په آخرت كې گنهگارو ته وروكول كيږي،نو پوه شوې به ؤو چې پرته د الله تعالى څخه د بل هيڅ چا سره نه زور شته او نه طاقت.نو هيڅ كله به يې نه شرک كړئ ؤو،او نه به يې وكړي، او نه به پرته د الله تعالى څخه د چا نه د خير او شر طمع وكړي،او نه به بل چا ته سر ټيټ كړي. |
| |

إِذْ تَبَرَّأَ الَّذِينَ اتُّبِعُوا مِنَ الَّذِينَ اتَّبَعُوا وَرَأَوُا الْعَذَابَ وَتَقَطَّعَتْ بِهِمُ الْأَسْبَابُ ﴿166﴾

د قيامت په ورځ:كله چې:د حشر په ميدان كې پيروان او مُريدان د خپلو فاسدو رهبرانو او جعلي او فاسدو پيرانو سره مخ شي،نو په ځای د دې چې پيروان او مريدان د هغوی نه خفه او

ناراځه شي،برعکس او سرچپه فاسد رهبران او جعلي پیران به د مریدانو نه بیزاري ښکاره کړي،او ورته به وایې چې مونږ تاسو نه یئ ګمراه کړي،نه مو دربانديِ زور کړئ دی،او نه مو دعوت درکړئ دی.او که چا ملایکې یا کوم نیک کس خپل معبود جوړ کړئ وي او د الله تعالی سره یې شریک کړئ وي،هغوی به هم تريِ نه انکار وکړي چې تاسو نه مونږ ته عبادت کړئ دی او نه درنه خبر یو.

الله تعالی فرمایي:

إِذْ کله چې تَبَرَّأَ بیزاره شي الَّذِينَ هغه خلک اتُّبِعُوا چې متابعت یې شوئ دی(یعنی خلکو یې په دنیا کې پیرویِ کړي ده لکه ځنې فاسد مذهبي او سیاسي رهبران،نو کله چې دا رهبران او لیډران بیزاره شي) مِنَ الَّذِينَ د هغو خلکو څخه اتَّبَعُوا چې د دوی پیروي یې کوله(په دنیا کې ) وَرَأَوُا او ووینې دوی الْعَذَابَ عذاب وَتَقَطَّعَتْ او قطع شي بِهِمُ د دوی الْأَسْبَابُ ټولې اړیکې(رشتې) ﴿166﴾

یعنی چې فاسد سیاسي او مذهبي رهبران او جعلي پیران به د هغو خلکو نه بیزاره شي،چا چې په دنیا کې د دې رهبرانو او پیرانو لمنې نیولې وي،د دوی په اشارو به یې ظلمونه کول،خلک به یې وژل،د خلکو عزتونه به یې لوټول،د دوی د دروغجنو وعدو په سبب به یې د الله او د رسول خبرې نه منلې،نو کله چې پیروان د رهبرانو او جعلي او فاسدو پیرانو بیزارې وګورې،نو د دوی سره شوې ټولې د دروغو وعدې او امیدونه به یې قطع شي،او رهبران او پیران به د دوی سره څه کومک وکړي؟هغوی خو به پخپله په عذاب کې ګیر وي.نو دوی به وایې:

وَقَالَ الَّذِينَ اتَّبَعُوا لَوْ أَنَّ لَنَا كَرَّةً فَنَتَبَرَّأَ مِنْهُمْ كَمَا تَبَرَّءُوا مِنَّا ۗ كَذَٰلِكَ يُرِيهِمُ اللَّهُ أَعْمَالَهُمْ حَسَرَاتٍ عَلَيْهِمْ ۖ وَمَا هُمْ بِخَارِجِينَ مِنَ النَّارِ ﴿167﴾

وَقَالَ او وايي به الَّذِينَ هغه خلک اتَّبَعُوا چې پيروي يې کړي وه(په دنيا کې د فاسدو رهبرانو او پيرانو) لَوْ أَنَّ کاشکې که چيرته لَنَا مونږ ته كَرَّةً (دنيا ته)بيا تلل وَى فَنَتَبَرَّأَ نو مونږ به بيزاره شوي ؤو مِنْهُمْ د هغوى نه كَمَا لکه څنګه چې تَبَرَّءُوا هغوى بيزاره شو مِنَّا ۗ زمونږ نه(نن د قيامت په ورځ) كَذَٰلِكَ همدارنګه يُرِيهِمُ ورښيي هغوى ته اللَّهُ الله تعالى أَعْمَالَهُمْ عملونه د هغوى حَسَرَاتٍ دپاره د افسوسونو عَلَيْهِمْ ۖ په هغوى باندې(يعنى د افسوسونو د زياتولو دپاره به ورته د دوى بد اعمال ورښيې،نو دوى به وايي چې:کاشکې چې دا بد عمل مې نه ؤ کړئ،او دا مې نه ؤ کړئ،کاشکې چې د نبي عليه سلام څخه مې انکار نه ؤ کړئ،کاشکې چې په قرآن مې ايمان راوړئ ؤ،کاشکې چې شرک مې نه ؤ کړئ او داسې نور نو ځکه قيامت ته يوم الحسرت يعنى د افسوسونو ورځ هم وايي) وَمَا او نه دي هُمْ هغوى بِخَارِجِينَ وتونکې مِنَ النَّارِ د اور نه. ﴿167﴾

يَا أَيُّهَا النَّاسُ كُلُوا مِمَّا فِي الْأَرْضِ حَلَالًا طَيِّبًا وَلَا تَتَّبِعُوا خُطُوَاتِ الشَّيْطَانِ ۚ إِنَّهُ لَكُمْ عَدُوٌّ مُبِينٌ ﴿168﴾

يَا أَيُّهَا النَّاسُ اى خلکو كُلُوا خورئ تاسو مِمَّا د هغو شيانو نه فِي الْأَرْضِ چې په ځمکه کې دي حَلَالًا حلال طَيِّبًا پاک

وَلَا تَتَّبِعُوا اوپیروي مه کوئ خُطُوَاتِ د قدمونو(یعنی لارو) الشَّيْطَانِ د شیطان إِنَّهُ بیشکه هغه(شیطان) لَكُمْ تاسو ته عَدُوٌّ دښمن دی مُبِينٌ ښکاره. ﴿168﴾

یعنی د انسي او جني شیطانانو په وسوسو،نه د چا دپاره او نه د چا په خوله،هغه شیان چې الله تعالی درته حلال کړي دي ،په ځان یې مه حراموئ.صرف هغه شیان چې شریعت حلال کړې دي هغه حلال ګڼئ او هغه شیان چې شریعت حرام کړې دي هغه حرام ګڼئ،

إِنَّمَا يَأْمُرُكُمْ بِالسُّوءِ وَالْفَحْشَاءِ وَأَنْ تَقُولُوا عَلَى اللَّهِ مَا لَا تَعْلَمُونَ ﴿169﴾

إِنَّمَا بیشکه همدا خبره ده چې شیطان يَأْمُرُ امر کوي كُمْ تاسوته بِالسُّوءِ د بدی(د ګناه کولو) وَالْفَحْشَاءِ او د بې حیایی(کولو) وَأَنْ او چې تَقُولُوا ووایئ تاسو عَلَى اللَّهِ په الله تعالی باندې مَا هغه خبرې لَا تَعْلَمُونَ چې تاسو پرې نه پوهیږئ ﴿169﴾

وَإِذَا قِيلَ لَهُمُ اتَّبِعُوا مَا أَنْزَلَ اللَّهُ قَالُوا بَلْ نَتَّبِعُ مَا أَلْفَيْنَا عَلَيْهِ آبَاءَنَا ۗ أَوَلَوْ كَانَ آبَاؤُهُمْ لَا يَعْقِلُونَ شَيْئًا وَلَا يَهْتَدُونَ ﴿170﴾

وَإِذَا او کله چې قِيلَ ویل کیږي لَهُمُ هغوی ته اتَّبِعُوا چې پیروي کوئ مَا د هغه څه أَنْزَلَ چې نازل کړي دي اللَّهُ الله تعالی قَالُوا هغوی وایې بَلْ ( چې پیروي نه کوو) بلکې نَتَّبِعُ مونږ پیروي کوو مَا د هغې څه أَلْفَيْنَا چې لیدلي دي مونږ عَلَيْهِ په هغې باندې(د هغې په پیروی باندې) آبَاءَنَا ۗ پلرونه او نیکونه زمونږ أَوَلَوْ او آیا که چیرته كَانَ آبَاؤُهُمْ پلرونو او نیکونو د

دوی لَا يَعْقِلُونَ عقل نه استعمالولو شَيْئًا په هيڅ شي کې وَلَا يَهْتَدُونَ او په سمه لار نه ؤو(په غلطه لار روان ؤو،نو آيا دوی به بيا هم د پلرونو او د نيکونو د غلطولارو پيروي کوي )

وَمَثَلُ الَّذِينَ كَفَرُوا كَمَثَلِ الَّذِي يَنْعِقُ بِمَا لَا يَسْمَعُ إِلَّا دُعَاءً وَنِدَاءً ۚ صُمٌّ بُكْمٌ عُمْيٌ فَهُمْ لَا يَعْقِلُونَ ﴿171﴾

وَمَثَلُ او حال (يعنی مثال د دعوت کونکو) الَّذِينَ هغو خلکو ته كَفَرُوا چې کافران دي كَمَثَلِ لکه په شان د حال الَّذِي د هغه (شپون) دی يَنْعِقُ چې اواز کوي بِمَا داسې(څارويو ته) لَا يَسْمَعُ چې نه اوري(هيڅ) إِلَّا مګر تشه دُعَاءً بلنه وَنِدَاءً ۚ او غږ صُمٌّ کانه دي(د حق اوريدلو دپاره کانه دي،د حق اوريدلو ته غوږ نه نيسي) بُكْمٌ ګونګيان دي(د حق دويلو دپاره ګونګيان دي، حق نه وايې) عُمْيٌ ړانده دي(د حق د ليدلو دپاره ړانده دي حق ته نه ګوري) فَهُمْ نو هغوی لَا يَعْقِلُونَ نه پوهيږي. ﴿171﴾

يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا كُلُوا مِنْ طَيِّبَاتِ مَا رَزَقْنَاكُمْ وَاشْكُرُوا لِلَّهِ إِنْ كُنْتُمْ إِيَّاهُ تَعْبُدُونَ ﴿172﴾

يَا أَيُّهَا الَّذِينَ ای هغو کسانو آمَنُوا چې ايمان مو راوړی دی كُلُوا خورئ تاسو مِنْ طَيِّبَاتِ د پاکو،حلالو مَا هغو شيانو نه رَزَقْنَا چې درکړې دي مونږ كُمْ تاسو ته وَاشْكُرُوا او شکر وباسئ لِلَّهِ خاص الله تعالی ته(په دغو پاکو شيانو) إِنْ كُنْتُمْ که ياستئ تاسو (داسې چې) إِيَّاهُ خاص هغه جل جلاله ته تَعْبُدُونَ عبادت کوئ. ﴿172﴾

إِنَّمَا حَرَّمَ عَلَيْكُمُ الْمَيْتَةَ وَالدَّمَ وَلَحْمَ الْخِنْزِيرِ وَمَا أُهِلَّ بِهِ لِغَيْرِ اللَّهِ ۖ فَمَنِ اضْطُرَّ غَيْرَ بَاغٍ وَلَا عَادٍ فَلَا إِثْمَ عَلَيْهِ ۚ إِنَّ اللَّهَ غَفُورٌ رَحِيمٌ ﴿173﴾

إِنَّمَا بيشکه همدا خبره ده حَرَّمَ چي هغه جل جلاله حرام کړي دي عَلَيْكُمُ په تاسو باندې الْمَيْتَةَ (خوړل) د مُرداري وَالدَّمَ او د ويني وَلَحْمَ الْخِنْزِيرِ او د خنزير د غوښي وَمَا او د هغه څه أُهِلَّ چي اواز شوئ وي بِهِ په هغې باندې لِغَيْرِ اللَّهِ ۖ دپاره (د عزت او خوشالولو)د غيرالله(يعنی چې وواېي چې دا مې د پلانکي پير يا زيارت يا بت په نوم نذر کړي دی،نو د دي ذکر شوو شيانو خوړل قطعاً حرام دي) فَمَنِ اضْطُرَّ نو که څوک مجبور شو(د حرامو خوړلو ته،داسې مجبور شو چې د حرام خوراک نه پرته يې د مرګ خطر وي،خو چې ) غَيْرَ بَاغٍ نه سرکشي کونکئ وي(يعنی د الله د حکم نافرماني يې په زړه کې نه وي) وَلَا عَادٍ او نه د حد نه تيريدونکئ وي(يعنی په زړه کې يې داسې نه وي چې ښه ځان موړ کړم بلکې په زړه کې يې دا وي چې صرف د مرګ نه بچ شم،نو په دې صورت کې که د ضرورت په اندازه حرام شی وخوري فَلَا نو نشته إِثْمَ ګناه عَلَيْهِ ۚ په هغه باندې

إِنَّ بيشکه اللَّهَ الله تعالی غَفُورٌ ښنونکئ رَحِيمٌ او بې حده رحم کوونکئ دی.﴿173﴾

إِنَّ الَّذِينَ يَكْتُمُونَ مَا أَنْزَلَ اللَّهُ مِنَ الْكِتَابِ وَيَشْتَرُونَ بِهِ ثَمَنًا
قَلِيلًا ۙ أُولَٰئِكَ مَا يَأْكُلُونَ فِي بُطُونِهِمْ إِلَّا النَّارَ وَلَا يُكَلِّمُهُمُ اللَّهُ يَوْمَ الْقِيَامَةِ
وَلَا يُزَكِّيهِمْ وَلَهُمْ عَذَابٌ أَلِيمٌ ﴿174﴾

إِنَّ بيشكه الَّذِينَ هغه خلک يَكْتُمُونَ چې پټوي مَا هغه(احکام) أَنْزَلَ چې نازل کړي دي اللَّهُ الله تعالى مِنَ الْكِتَابِ د کتاب نه وَيَشْتَرُونَ او اخلي هغوی بِهِ په دې(پټولو د الله تعالى د احکامو) ثَمَنًا قيمت قَلِيلًا ۙ لږ.(ځکه چې د الله تعالى د آيتونو په مقابيل کې ټوله دنيا هم هيڅ قيمت نه لري) أُولَٰئِكَ دغه خلک مَا يَأْكُلُونَ نه خوري(نه اچوي) فِي بُطُونِهِمْ په ګيډو د هغوی کې إِلَّا مګر النَّارَ اور(د دوزخ په ګيډو کې اچوي) وَلَا يُكَلِّمُهُمُ او خبرې به نه کوي اللَّهُ الله تعالى د دوی سره يَوْمَ په ورځ الْقِيَامَةِ د قيامت وَلَا يُزَكِّيهِمْ او نه به هغه جل جلاله پاک کړي دوی د ګناهونو نه(ګنهګار مسلمانان به د يو وخت پورې په دوزخ کې وي کله چې د ګناه نه پاک شي نو بيا به ئې الله تعالى جنت ته ليږي،خو دا خلک چې د الله تعالى احکام او حقيقت د خلکو نه پټوي،او د خپل ځانه غلطې مشورې او فتوې خلکو ته ورکوي،دوی به هيڅکله نه د ،ګناه نه پاک شي او نه به جنت ته داخيل شي) وَلَهُمْ او دوی ته عَذَابٌ عذاب دی أَلِيمٌ دردناک. ﴿174﴾

أُولَٰئِكَ الَّذِينَ اشْتَرَوُا الضَّلَالَةَ بِالْهُدَىٰ وَالْعَذَابَ بِالْمَغْفِرَةِ ۚ فَمَا
أَصْبَرَهُمْ عَلَى النَّارِ ﴿175﴾

أُولَٰئِكَ دغه الَّذِينَ هغه خلک دي اشْتَرَوُا چې اخستې يې ده الضَّلَالَةَ ګمراهي(غلطه لار) بِالْهُدَىٰ په بدل د هدايت(سمې لار کې) وَالْعَذَابَ او (اخستئ يې دی) عذاب بِالْمَغْفِرَةِ ۚ په بدل د ببښنې

کې فَمَا أَصْبَرَ نو (تعجب دی چې)څومره صبر کوونکي دي هُمْ
دوی عَلَى النَّارِ په اور(د دوزخ) ﴿175﴾

ذَٰلِكَ بِأَنَّ اللَّهَ نَزَّلَ الْكِتَابَ بِالْحَقِّ ۗ وَإِنَّ الَّذِينَ اخْتَلَفُوا فِي الْكِتَابِ
لَفِي شِقَاقٍ بَعِيدٍ ﴿176﴾

ذَٰلِكَ دا(عذاب دوی ته ) بِأَنَّ په دې سبب سره دی چې بیشکه
اللَّهَ الله تعالی نَزَّلَ نازل کړئ دی الْكِتَابَ کتاب بِالْحَقِّ ۗ په
حق سره(په ربښتیا سره) وَإِنَّ او بیشکه الَّذِينَ هغه خلک
اخْتَلَفُوا چې هغوی مخالفت کړئ دی فِي الْكِتَابِ په کتاب کې لَفِي
خامخا په (داسې) شِقَاقٍ مخالفت کې دي بَعِيدٍ (چې د حق
نه)لرې دی. ﴿176﴾

لَيْسَ الْبِرَّ أَنْ تُوَلُّوا وُجُوهَكُمْ قِبَلَ الْمَشْرِقِ وَالْمَغْرِبِ وَلَٰكِنَّ الْبِرَّ
مَنْ آمَنَ بِاللَّهِ وَالْيَوْمِ الْآخِرِ وَالْمَلَائِكَةِ وَالْكِتَابِ وَالنَّبِيِّينَ وَآتَى الْمَالَ عَلَىٰ
حُبِّهِ ذَوِي الْقُرْبَىٰ وَالْيَتَامَىٰ وَالْمَسَاكِينَ وَابْنَ السَّبِيلِ وَالسَّائِلِينَ وَفِي
الرِّقَابِ وَأَقَامَ الصَّلَاةَ وَآتَى الزَّكَاةَ وَالْمُوفُونَ بِعَهْدِهِمْ إِذَا عَاهَدُوا ۖ
وَالصَّابِرِينَ فِي الْبَأْسَاءِ وَالضَّرَّاءِ وَحِينَ الْبَأْسِ ۗ أُولَٰئِكَ الَّذِينَ صَدَقُوا ۖ
وَأُولَٰئِكَ هُمُ الْمُتَّقُونَ ﴿177﴾

لَيْسَ نه ده الْبِرَّ نیکي(یوازې دا کار) أَنْ چې تُوَلُّوا
واړوئ تاسو وُجُوهَكُمْ مخونه ستاسو قِبَلَ په طرف الْمَشْرِقِ د
مشرق وَالْمَغْرِبِ او مغرب وَلَٰكِنَّ او لیکن الْبِرَّ بهتره نیکي
مَنْ د هغه چا ده آمَنَ چې ایمان ئې راوړئ وي بِاللَّهِ په الله
تعالی وَالْيَوْمِ او په ورځ الْآخِرِ د آخرت وَالْمَلَائِكَةِ او په

پربنتو وَالْكِتَابِ او( په ټولو آسماني) كتابونو وَالنَّبِيِّينَ او ايمان
يې روړئ وي په(ټولو)پيغمبرانو وَآتَى او هغه وركوي الْمَالَ
مال عَلَىٰ په حُبِّهِ محبت د هغه جل جلاله کې ذَوِي الْقُرْبَىٰ
خپلوانو ته وَالْيَتَامَىٰ او يتيمانو ته وَالْمَسَاكِينَ او مسكينانو ته
وَابْنَ السَّبِيلِ (او وركوي مال په محبت د الله تعالى کې) مسافرانو ته
وَالسَّائِلِينَ او سوالګرو ته وَفِي الرِّقَابِ او (وركوي مال په محبت
د الله تعالى کې) په ازادولو د( مرَيو،يا د قرضدارانو په قرض
وركولو او د هغوى په غاړه خلاصولو کې) وَأَقَامَ اوادا كوي
الصَّلَاةَ لمونځ وَآتَى او وركوي الزَّكَاةَ زكات وَالْمُوفُونَ او
وفا كونكي(پوره كونكي)وي بِعَهْدِهِمْ په وعدو خپلو إِذَا كله چې
عَاهَدُوا ۖ وعده وكړي هغوى(د خالق يا د مخلوق سره) وَالصَّابِرِينَ
او صبر كونكي وي فِي الْبَأْسَاءِ په سختيو(مالي تكليفونو کې)
وَالضَّرَّاءِ او په تكليفونو(يعنى بدني تكليفونو يا مريضيو کې) وَحِينَ
الْبَأْسِ ۗ او په وخت د جنګ کې(په لار د الله تعالى کې د حق او
باطل په جنګ کې) أُولَٰئِكَ دغه(ذكر شوي خلک ) الَّذِينَ هغه خلک
دي صَدَقُوا ۖ چې رښتيني دي(صداقت يې كړئ دى ) وَأُولَٰئِكَ او
دغه خلک هُمُ هم دوى الْمُتَّقُونَ پرهيزګاران دي(د بدو كارونو
نه ځان ساتونكي دي) ﴿177﴾

يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا كُتِبَ عَلَيْكُمُ الْقِصَاصُ فِي الْقَتْلَى ۖ الْحُرُّ بِالْحُرِّ
وَالْعَبْدُ بِالْعَبْدِ وَالْأُنْثَىٰ بِالْأُنْثَىٰ ۚ فَمَنْ عُفِيَ لَهُ مِنْ أَخِيهِ شَيْءٌ فَاتِّبَاعٌ
بِالْمَعْرُوفِ وَأَدَاءٌ إِلَيْهِ بِإِحْسَانٍ ۗ ذَٰلِكَ تَخْفِيفٌ مِنْ رَبِّكُمْ وَرَحْمَةٌ ۗ فَمَنِ
اعْتَدَىٰ بَعْدَ ذَٰلِكَ فَلَهُ عَذَابٌ أَلِيمٌ ﴿178﴾

يَا أَيُّهَا الَّذِينَ اى هغو خلكو آمَنُوا چې ايمان مو راوړئ دى
كُتِبَ فرض شوئ دى عَلَيْكُمُ په تاسو باندې الْقِصَاصُ
قصاص(برابروالى) فِي الْقَتْلَى ۖ په وژل شويو كې(كه قصداً وي)
الْحُرُّ اصيل(ازاد) بِالْحُرِّ به د اصيل (ازاد په بدل كې قصاصيږي)
وَالْعَبْدُ او غلام به بِالْعَبْدِ د غلام (په بدل كې قصايږي ) وَالْأُنْثَىٰ
او ښځه به بِالْأُنْثَىٰ ۚ د ښځې(په بدل كې قصاصيږي،شيخ الاسلام
ابن تيميه رحمةالله عليه په السياسةالشرعية كې ليكي،كه څوک قصداً
قتل وكړي يعنى څوک مړ كړي،نو په دې باندې قصاص
واجبيږي،ليكن د مقتول يا وژل شوي وارثان قصاص هم اخستئ
شي،او كه غواړي معافي هم كولاى شي،او كه غواړي ديت هم
اخستئ شي،او د قاتل نه پرته بل څوک وژل جايز نه دي) فَمَنْ نو
هغه څوک(هغه قاتل) عُفِيَ چې عفوه وشي لَهُ هغه ته(د قصاص
څخه) مِنْ أَخِيهِ د طرف نه د (اسلامي)ورور د هغه(يعنى د مقتول
يا وژل شوي د وارث د خوانه) شَيْءٌ څه شى فَاتِّبَاعٌ نو لازم
ده (په دې عفوه كوونكي يا د مقتول يا وژل شوي په وارث)غوښتنه
د ديت(د قاتل څخه) بِالْمَعْرُوفِ په ښه وجه سره وَأَدَاءٌ او(لازم
دي ) وركول (د ديت د قاتل پواسطه) إِلَيْهِ هغه ته(د مقتول يا وژل
شوي وارث ته) بِإِحْسَانٍ ۗ په ښه وجه سره ذَٰلِكَ دغه كار(ديت يا
عفوه) تَخْفِيفٌ آساني ده مِنْ رَبِّكُمْ د طرفه د رب د ستاسو
وَرَحْمَةٌ ۗ او مهرباني ده( چې تاسو ته ئې اختيار دركړو) فَمَنِ پس
څوک چې اعْتَدَىٰ زياتولئ(تجاوز وكړي) بَعْدَ ذَٰلِكَ وروسته د
دې(فيصلې يعنى چې يا په قاتل ظلم وكړي او يا يې مړ كړي) فَلَهُ
نو ده ته دى عَذَابٌ أَلِيمٌ دردناک عذاب(په آخرت كې او قصاص
په دنيا كې،او دا د اول قاتل څخه زيات مجرم دى) ﴿178﴾

وَلَكُمْ فِي الْقِصَاصِ حَيَاةٌ يَا أُولِي الْأَلْبَابِ لَعَلَّكُمْ تَتَّقُونَ ﴿179﴾

وَلَكُمْ او تاسو ته فِي الْقِصَاصِ په قصاص کې حَيَاةٌ ژوندون دی يَا أُولِي الْأَلْبَابِ ای خاوندانو د عقلونو( که د بي ګناه خلکو قاتلان قصاص شي يو خو د دوی د شر او خطر څخه خلک خلاصيږي ، او بله دا چې نور خلک هم عبرت اخلي ځکه کله چې خلک وګوري چې د قاتل جزا صرف قصاص دی،يعنی د مقتول يا وژل شوي په بدل کې به پخپله قاتل يا وژونکئ وژل کيږي،نو بيا به هيڅوک هم زړه ونکړي چې څوک قتل يا مړ کړي،او د عامو خلکو ژوند به په آمن کې شي د دې دپاره چې تاسو لَعَلَّكُمْ تَتَّقُونَ ځان وساتئ (د ناحقو قتلونو او وينو تويولونه)﴿179﴾

كُتِبَ عَلَيْكُمْ إِذَا حَضَرَ أَحَدَكُمُ الْمَوْتُ إِنْ تَرَكَ خَيْرًا الْوَصِيَّةُ لِلْوَالِدَيْنِ وَالْأَقْرَبِينَ بِالْمَعْرُوفِ ۖ حَقًّا عَلَى الْمُتَّقِينَ ﴿180

كُتِبَ فرض شوئ دی عَلَيْكُمْ په تاسو باندې إِذَا کله چې حَضَرَ راشي أَحَدَكُمُ يو د ستاسو ته الْمَوْتُ مرګ إِنْ که تَرَكَ هغه پرې ايښئ وي خَيْرًا څه مال، الْوَصِيَّةُ وصيت کول لِلْوَالِدَيْنِ مور او پلار ته وَالْأَقْرَبِينَ او خپلوانو ته بِالْمَعْرُوفِ ۖ(د عرف مطابق) په انصاف سره حَقًّا (دا حکم)لازم دی عَلَى الْمُتَّقِينَ په پرهيزګارانو باندې ﴿180﴾

دا وصيت د ميراث د احکامو د نازليدو نه مخکې فرض ؤ خو د ميراث د احکامو د نازليدلو نه وروسته په مړ کيدونکي انسان اوس فرض نه دی ځکه چې د هر چا برخه الله تعالی معلومه کړې ده.

فَمَنْ بَدَّلَهُ بَعْدَمَا سَمِعَهُ فَإِنَّمَا إِثْمُهُ عَلَى الَّذِينَ يُبَدِّلُونَهُ ۚ إِنَّ اللَّهَ سَمِيعٌ عَلِيمٌ ﴿181﴾

فَمَنْ نو څوک بَدَّلَهُ چې بدلوي هغه (وصيت) بَعْدَمَا وروسته د هغې نه سَمِعَهُ چې واوري هغه(وصيت) فَإِنَّمَا نو بيشکه چې إِثْمُهُ ګناه د دې(بدلولو د وصيت) عَلَى الَّذِينَ په هغو خلکو ده يُبَدِّلُونَهُ چې بدلوي دوی هغه (وصيت) ۚ إِنَّ بيشکه اللَّهَ الله تعالی سَمِيعٌ ښه اوريدونکۍ دی عَلِيمٌ ښه پوهيدونکۍ دی. ﴿181﴾

فَمَنْ خَافَ مِنْ مُوصٍ جَنَفًا أَوْ إِثْمًا فَأَصْلَحَ بَيْنَهُمْ فَلَا إِثْمَ عَلَيْهِ ۚ إِنَّ اللَّهَ غَفُورٌ رَحِيمٌ ﴿182﴾

فَمَنْ نو څوک چې خَافَ ويره لري(تشويش) مِنْ د مُوصٍ وصيت کوونکي څخه جَنَفًا (په خطا سره)د ظلم أَوْ يا إِثْمًا (په قصد سره)د ګناه(يعنی چې انديښنه لري چې وصيت کوونکې په ناپوهۍ يا قصداً حق تلفي کړي ده) فَأَصْلَحَ او جوړه وکړي بَيْنَهُمْ په منځ د دوی کې فَلَا نو نشته إِثْمَ هيڅ ګناه عَلَيْهِ ۚ په ده باندې إِنَّ اللَّهَ بيشکه الله تعالی غَفُورٌ ډېر ښونکۍ رَحِيمٌ (او)بې حده رحم کوونکۍ دی. ﴿182﴾

يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا كُتِبَ عَلَيْكُمُ الصِّيَامُ كَمَا كُتِبَ عَلَى الَّذِينَ مِنْ قَبْلِكُمْ لَعَلَّكُمْ تَتَّقُونَ ﴿183﴾

يَا أَيُّهَا الَّذِينَ ای هغو خلكو آمَنُوا چې ايمان راوړئ دی تاسو(يعنی ای مؤمنانو) كُتِبَ فرض شوي ده عَلَيْكُمُ په تاسو باندې الصِّيَامُ روژه كَمَا لكه څنګه چې كُتِبَ فرض شوي وه عَلَى الَّذِينَ په هغو خلكو باندې مِنْ قَبْلِكُمْ چې مخكې د ستاسو نه وو(لكه پخوانې امتونه او پيغمبران د آدم عليه سلام پورې چې ستاسو نه مخكې تير شوي دي) لَعَلَّكُمْ د دې دپاره تَتَّقُونَ چې تاسو ځان وساتئ(د ګناهونو څخه او پرهيزګاران شئ). ﴿183﴾

أَيَّامًا مَعْدُودَاتٍ ۚ فَمَنْ كَانَ مِنْكُمْ مَرِيضًا أَوْ عَلَىٰ سَفَرٍ فَعِدَّةٌ مِنْ أَيَّامٍ أُخَرَ ۚ وَعَلَى الَّذِينَ يُطِيقُونَهُ فِدْيَةٌ طَعَامُ مِسْكِينٍ ۖ فَمَنْ تَطَوَّعَ خَيْرًا فَهُوَ خَيْرٌ لَهُ ۚ وَأَنْ تَصُومُوا خَيْرٌ لَكُمْ ۖ إِنْ كُنْتُمْ تَعْلَمُونَ ﴿184﴾

أَيَّامًا مَعْدُودَاتٍ ۚ يو څو ورځې شميرل شوي(يو څو شميرل شوي ورځې چې ۲۹ يا ۳۰ دي روژه ونيسئ) فَمَنْ نو هر څوک كَانَ چې هغه وي مِنْكُمْ د ستاسو څنې مَرِيضًا مريض أَوْ يا عَلَىٰ سَفَرٍ په سفر باندې (روژه خوړل ورته جايز دي،نو كه يوه يا څو روژې وخوري) فَ نو(په ده باندې لازم دي روژې نيول) فَعِدَّةٌ عِدَّةٌ په شمار(د خوړل شوو روژو) مِنْ د أَيَّامٍ ورځو أُخَرَ ۚ نورو نه(د رمضان د مياشتې نه وروسته چې څومره روژې يې خوړلي وي هغومره به نيسي) وَعَلَى الَّذِينَ او په هغو خلكو باندې يُطِيقُونَهُ چې هغوی طاقت لري د روژې(د نيولو خو د تكليف او مشقت سره،لكه بوډاګان،مريضان،حامله ښځې او ماشوم ته شيده وركوونكې ښځې چې روژې نيولئ شي خو په تكليف سره

يې نيسي نو په دوی باندې ) فِدْيَةٌ فديه ورکول دي(د هرې روژې
په بدل کې) طَعَامُ خواړه مِسْكِينٍ ۖ د يو مسکين(د هرې روژې
په بدل کې به يو مسکين ته خوراک ورکوي. فَمَنْ او هر څوک
تَطَوَّعَ چې هغه پخپله خوښه(زياتوالی)وکړي خَيْرًا په خيرات يا
نيکۍ کې(يعنې دوه يا درې مسکينانو ته خوراک ورکړي يا يو ته د
يوې ورځې د خوراک نه زيات ورکړي) فَهُوَ نو دغه(زياتوالئ
په خيرات يا نيکۍ کې خَيْرٌ بهتر دی لَهُ ۚ هغه ته وَأَنْ تَصُومُوا
او روژه نيول خَيْرٌ بهتر دي لَكُمْ ۖ تاسوته(د فديې د ورکولو
نه،که د وسې مو پوره وي) إِنْ كُنْتُمْ که چيرې تاسو تَعْلَمُونَ
پوهيږئ(د روژې په فضيليت باندې) ﴿184﴾

شَهْرُ رَمَضَانَ الَّذِي أُنْزِلَ فِيهِ الْقُرْآنُ هُدًى لِلنَّاسِ وَبَيِّنَاتٍ مِنَ
الْهُدَىٰ وَالْفُرْقَانِ ۚ فَمَنْ شَهِدَ مِنْكُمُ الشَّهْرَ فَلْيَصُمْهُ ۖ وَمَنْ كَانَ مَرِيضًا أَوْ
عَلَىٰ سَفَرٍ فَعِدَّةٌ مِنْ أَيَّامٍ أُخَرَ ۗ يُرِيدُ اللَّهُ بِكُمُ الْيُسْرَ وَلَا يُرِيدُ بِكُمُ الْعُسْرَ
وَلِتُكْمِلُوا الْعِدَّةَ وَلِتُكَبِّرُوا اللَّهَ عَلَىٰ مَا هَدَاكُمْ وَلَعَلَّكُمْ تَشْكُرُونَ ﴿185﴾

شَهْرُ مياشت رَمَضَانَ د رمضان(روژې) الَّذِي
هغه(مياشت) ده أُنْزِلَ چې نازل شوئ دی فِيهِ په
دې(مياشت)کې الْقُرْآنُ قرآنکريم(د رمضان يا د روژې د مياشتې
په ۲۴ تمه شپه د لوح محفوظ نه ټول قرآن په يو ځل اول آسمان ته
نازل شوئ دی او د اول آسمان نه په ۲۳ کلونو کې په حضرت
محمد صلی الله عليه وسلم باندې لږ-لږ نازل شوئ دی) هُدًى چې
هدايت دی لِلنَّاسِ انسانانو ته وَبَيِّنَاتٍ او روښانه دلايل دي مِنَ
الْهُدَىٰ د هدايت(د سمې لارې) وَالْفُرْقَانِ ۚ او فرقان دی(د حق او د
باطل بيلونکئ دی) فَمَنْ نو هر څوک شَهِدَ چې وګوري مِنْكُمُ

د ستاسو ځني الشَّهْرَ مياشت د رمضان فَلْيَصُمْهُ ۖ نو هغه دې
روژه ونيسي د هغې (د رمضان د مياشت) وَمَنْ او هر څوک
كَانَ چې وي مَرِيضًا مريض أَوْ يا عَلَىٰ سَفَرٍ په سفر باندې
وي(نو روژه خوړل ورته جايز دي،نو كه يوه يا زياتې روژې
وخوري) فَعِدَّةٌ ف نو( په ده باندې لازم دي روژې نيول) عِدَّةٌ
په شمار(د خوړل شوو روژو) مِنْ د أَيَّامٍ ورځو أُخَرَ ۚ نورو
نه(يعنى څومره روژې يې چې خوړلي دي د رمضان يا روژې د
مياشتې نه وروسته به يې په نورو مياشتو كې نيسي) يُرِيدُ غواړي
اللَّهُ الله تعالى بِكُمُ په تاسو باندې الْيُسْرَ آساني وَلَا يُرِيدُ او نه
غواړي هغه جل جلاله بِكُمُ په تاسو باندې الْعُسْرَ سختي
وَلِتُكْمِلُوا او(الله تعالى غواړي)چې پوره كړئ تاسو الْعِدَّةَ شمار(د
روژو) وَلِتُكَبِّرُوا او چې بيان كړئ تاسو لويې د اللَّهَ الله تعالى
عَلَىٰ مَا په هغې(طريقه) هَدَاكُمْ چې هغه جل جلاله ښودلې ده
تاسوته وَلَعَلَّكُمْ او د دې دپاره چې تاسو تَشْكُرُونَ شكر وباسئ(د
الله تعالى) ﴿185﴾

وَإِذَا سَأَلَكَ عِبَادِي عَنِّي فَإِنِّي قَرِيبٌ ۖ أُجِيبُ دَعْوَةَ الدَّاعِ إِذَا دَعَانِ ۖ
فَلْيَسْتَجِيبُوا لِي وَلْيُؤْمِنُوا بِي لَعَلَّهُمْ يَرْشُدُونَ ﴿186﴾

وَإِذَا او هر كله چې سَأَلَكَ پوښتنه وكړي ستا نه عِبَادِي
بندګان ځما عَنِّي په باره كې ځما فَإِنِّي نو بيشكه زه قَرِيبٌ ۖ
نيزدې يم(خپلو بندګانو ته) أُجِيبُ زه قبلوم دَعْوَةَ دعا الدَّاعِ د
دعا كونكي إِذَا هر كله دَعَانِ ۖ چې دعا غواړي ځما نه
فَلْيَسْتَجِيبُوا لِي نو دوى دې ځما حكم ومني وَلْيُؤْمِنُوا بِي او په ما
باندې دې ايمان راوړي لَعَلَّهُمْ د دې دپاره چې دوى يَرْشُدُونَ
سمه لار پيدا كړي. ﴿186﴾

أُحِلَّ لَكُمْ لَيْلَةَ الصِّيَامِ الرَّفَثُ إِلَىٰ نِسَائِكُمْ ۚ هُنَّ لِبَاسٌ لَكُمْ وَأَنْتُمْ
لِبَاسٌ لَهُنَّ ۗ عَلِمَ اللَّهُ أَنَّكُمْ كُنْتُمْ تَخْتَانُونَ أَنْفُسَكُمْ فَتَابَ عَلَيْكُمْ وَعَفَا عَنْكُمْ ۖ
فَالْآنَ بَاشِرُوهُنَّ وَابْتَغُوا مَا كَتَبَ اللَّهُ لَكُمْ ۚ وَكُلُوا وَاشْرَبُوا حَتَّىٰ يَتَبَيَّنَ
لَكُمُ الْخَيْطُ الْأَبْيَضُ مِنَ الْخَيْطِ الْأَسْوَدِ مِنَ الْفَجْرِ ۖ ثُمَّ أَتِمُّوا الصِّيَامَ إِلَى
اللَّيْلِ ۚ وَلَا تُبَاشِرُوهُنَّ وَأَنْتُمْ عَاكِفُونَ فِي الْمَسَاجِدِ ۗ تِلْكَ حُدُودُ اللَّهِ فَلَا
تَقْرَبُوهَا ۗ كَذَٰلِكَ يُبَيِّنُ اللَّهُ آيَاتِهِ لِلنَّاسِ لَعَلَّهُمْ يَتَّقُونَ ﴿187﴾

د روژې په باره کې:

په اول کې حکم داسې وو چې:څوک به د روژه ماتي نه وروسته ویده شو،نو بیا به ئې نه خوړل او څکل کولای شو او نه به ښځې ته نیږدې کیدلای شو،بلکې دهغې وخت نه به یې روژه شروع شوه او خوړل،څکل او ښځو ته به نیږدې کیدل حرام شو،دا حکم لږ سخت وو،او ځنې صحابه کرام سهواً ښځو ته نیږدې شول،بیا الله تعالی په دې حکم کې آساني راوسته،او دا آیت نازل شو!فرمایې:

أُحِلَّ حلال شوي دي لَكُمْ تاسو ته لَيْلَةَ په شپه د الصِّيَامِ روژې کې الرَّفَثُ نزدې کیدل إِلَىٰ نِسَائِكُمْ ۚ ښځو ته د ستاسو هُنَّ هغوی لِبَاسٌ لباس(جامې) دي لَكُمْ تاسو ته وَأَنْتُمْ او تاسو لِبَاسٌ لباس یاستئ لَهُنَّ ۗ هغوی ته عَلِمَ معلوم دي اللَّهُ الله تعالی ته أَنَّكُمْ بیشکه چې تاسو كُنْتُمْ تَخْتَانُونَ خیانت کولو أَنْفُسَكُمْ د خپلو ځانونو سره(د ویده کیدو وروسته به ښځو ته نیزدې کیدلئ) فَتَابَ نو هغه جل جلاله رحم وکړو عَلَيْكُمْ په تاسو باندې(په حکم کې ئې درته آساني راوسته یعنی ټوله شپه یې ښځو ته د نیزدې کیدلو او د خوراک کولو اجازه درکړه) وَعَفَا او هغه جل جلاله بښنه وکړه عَنْكُمْ ۖ تاسو ته فَالْآنَ نو اوس بَاشِرُو نیزدې

کيږئ هُنَّ هغوی ته وَابْتَغُوا او غواړئ تاسو مَا هغه
څه(اولاد) كَتَبَ چې ليکلي دي اللَّهُ الله تعالی لَكُمْ ۚ تاسوته(په
لوح محفوظ يا تقدير کې،يعنی کله چې ښځو ته نيزدې کيږئ نو د
نيک اولاد نيت کوئ،يوازې دا نيت مکوئ چې صرف خپل
خواهشات پوره کوئ ) وَكُلُوا او خوراک کوئ تاسو وَاشْرَبُوا او
څکل کوئ تاسو حَتَّىٰ تر هغې پورې چې يَتَبَيَّنَ ښکاره شي لَكُمُ
تاسو ته الْخَيْطُ تار الْأَبْيَضُ سپين مِنَ الْخَيْطِ د تار الْأَسْوَدِ تور
نه مِنَ الْفَجْرِ ۖ د صبا ثُمَّ أَتِمُّوا بيا پوره کړئ( ونيسئ) الصِّيَامَ
روژه إِلَى اللَّيْلِ ۚ د شپې پورې وَلَا تُبَاشِرُو او مه نيزدې کيږئ
هُنَّ هغوی ته(ښځو ته) وَ په داسې حال کې چې أَنْتُمْ تاسو
عَاكِفُونَ اعتکاف کونکې يئ فِي الْمَسَاجِدِ ۗ په مسجدونو کې تِلْكَ
دغه حُدُودُ اللَّهِ د الله تعالی حدود دي(احکام دي) فَلَا تَقْرَبُو نو مه
نيزدې کيږئ تاسو(مه ماتوئ) هَا ۗ دغه(حدود يا احکام) كَذَٰلِكَ
همدارنګه يُبَيِّنُ بيانوې اللَّهُ الله تعالی آيَاتِهِ آياتونه د هغه جل
جلاله لِلنَّاسِ انسانانو ته لَعَلَّهُمْ د دې دپاره چې هغوی يَتَّقُونَ
متقيان شي ﴿187﴾

وَلَا تَأْكُلُوا أَمْوَالَكُمْ بَيْنَكُمْ بِالْبَاطِلِ وَتُدْلُوا بِهَا إِلَى الْحُكَّامِ لِتَأْكُلُوا
فَرِيقًا مِنْ أَمْوَالِ النَّاسِ بِالْإِثْمِ وَأَنْتُمْ تَعْلَمُونَ ﴿188﴾

وَلَا تَأْكُلُوا او مه خورئ تاسو أَمْوَالَكُمْ مالونه ستاسو بَيْنَكُمْ
په منځ ستاسو کې بِالْبَاطِلِ په نارواه سره(په ناحقه سره) وَتُدْلُوا
او مه وړئ(او مه ورکوئ) بِهَا دغه (مالونه) إِلَى الْحُكَّامِ حاکمانو
ته(د رشوت په توګه) لِتَأْكُلُوا د دې دپاره چې وخورئ تاسو
فَرِيقًا يوه حصه(يوه برخه) مِنْ أَمْوَالِ د مالونو النَّاسِ د خلکو

بِالْإِثْمِ په ظلم سره وَ حال دادی أَنْتُمْ چې تاسو تَعْلَمُونَ پوهیږئ(چې تاسو نارواه او ظلم کوئ،څکه چې ستاسو د چالاکی او حاکم یا قاضي ته د رشوت ورکولو پواسطه دبل چا مال،ستاسو خوشي،خو لیکن حلالیږي درته نه،بلکه پخپله هم حرام خورئ، او په اولاد هم حرام خورئ،او بیا ګیلې د اولاد نه کوئ،ګیلې د ښځې نه کوئ چه بې احترامې مې کوې،حقیقت دا دی چه دا ستا د جرم د دنیا عذاب دی،چې د اولاد او د ښځې د بې احترامی په شکل ئې درکوي، او نور به په آخرت کې درکوي.) ﴿188﴾

يَسْأَلُونَكَ عَنِ الْأَهِلَّةِ ۖ قُلْ هِيَ مَوَاقِيتُ لِلنَّاسِ وَالْحَجِّ ۗ وَلَيْسَ الْبِرُّ بِأَنْ تَأْتُوا الْبُيُوتَ مِنْ ظُهُورِهَا وَلَٰكِنَّ الْبِرَّ مَنِ اتَّقَىٰ ۗ وَأْتُوا الْبُيُوتَ مِنْ أَبْوَابِهَا ۚ وَاتَّقُوا اللَّهَ لَعَلَّكُمْ تُفْلِحُونَ ﴿189﴾

يَسْأَلُونَكَ پوښتنه کوي دوی ستا نه عَنِ الْأَهِلَّةِ ۖ د سپوږمی د نری کیدلو او غټیدلو په باره کې(د رسول الله صلی الله علیه وسلم نه پوښتنه وشوه چې ای د الله رسوله:په دې کې څه حکمت او راز دی چې سپوږمی اول لکه د تار نری وي بیا په قرار-قرار غټیږي او کله چې پوره غټه او ګرده شي نو بیرته وړیږي تر څو چې بیرته د تار پشان نری شي،یعنی د لمر غوندې په یو حال نه پاتي کیږي،جواب د الله تعالی د خوانه ورکول شوفرمایې:) قُلْ ووایه(ای محمد صلی الله علیه وسلم دوی ته) هِيَ (چې) دا(نرې کیدل او غټیدل د سپوږمی) مَوَاقِيتُ وختونه تعینول(معلومول) دي لِلنَّاسِ د خلکو دپاره وَالْحَجِّ ۗ او د حج دپاره. څوک چې تجربه لري هغوی پرته د غلطی څخه د سپوږمی د شکل په لیدلو سره سمدستي پوهیږي چې نن د میاشتې څویمه شپه ده،مثلاً اوله شپه ،دوهمه شپه،لسمه شپه او نور یعنی د میاشتې د هري ورځې او شپې

دپاره سپوږمۍ یو خاص شکل لري ،چې په ترتیب سره د ورځو نه جمعې یا هفتې،او د جمعونه میاشتې او د میاشتو نه کلونه او د کلونو نه پیړۍ جوړیږي،او انسانانو ته د هر شي او هر کار د کولو وخت او تاریخ معلومیږي.

د جاهلیت په وخت کې رواج ووچې کله به د حج نه بیرته کور ته راتلل او یا به د احرام په حال کې ورته کور ته د تلو ضرورت شو نو کورونو ته به د دروازو د لارې څخه نه ننوتل بلکه د کور د شاګانو د خواو نه به یا په بام راښتل او یا به یې دیوالونه سوري کول او کور ته به ننوتل او دا کار به یې ثواب ګڼلو.

وَلَيْسَ او نه ده الْبِرُّ نیکي بِأَنْ چې تَأْتُوا راځئ تاسو الْبُيُوتَ کورونو ته مِنْ ظُهُورِهَا د طرف نه د شاګانو د هغو وَلَٰكِنَّ او لیکن الْبِرَّ نیکي دا ده چې مَنِ څوک اتَّقَىٰ ۗ پرهیزګاري وکړي. وَأْتُوا او ورځئ الْبُيُوتَ کورونو ته مِنْ أَبْوَابِهَا ۚ د دروازو د لارې د هغو وَاتَّقُوا او ویریږئ اللَّهَ د الله تعالی نه لَعَلَّكُمْ بنایي چې تاسو تُفْلِحُونَ کامیاب شئ. ﴿189﴾

وَقَاتِلُوا فِي سَبِيلِ اللَّهِ الَّذِينَ يُقَاتِلُونَكُمْ وَلَا تَعْتَدُوا ۚ إِنَّ اللَّهَ لَا يُحِبُّ الْمُعْتَدِينَ ﴿190﴾

وَقَاتِلُوا او جنګ کوئ تاسو فِي سَبِيلِ په لار کې اللَّهِ د الله تعالی الَّذِينَ د هغو خلکو سره يُقَاتِلُونَكُمْ چې جنګ کوي هغوی ستاسو سره وَلَا تَعْتَدُوا ۚ او تیری(زیاتی) مه کوئ تاسو إِنَّ اللَّهَ بیشکه الله تعالی لَا يُحِبُّ نه خوښوي الْمُعْتَدِينَ تیري کونکي(زیاتي کونکي) ﴿190﴾

وَاقْتُلُوهُمْ حَيْثُ ثَقِفْتُمُوهُمْ وَأَخْرِجُوهُمْ مِنْ حَيْثُ أَخْرَجُوكُمْ ۚ وَالْفِتْنَةُ أَشَدُّ مِنَ الْقَتْلِ ۚ وَلَا تُقَاتِلُوهُمْ عِنْدَ الْمَسْجِدِ الْحَرَامِ حَتَّىٰ يُقَاتِلُوكُمْ فِيهِ ۖ فَإِنْ قَاتَلُوكُمْ فَاقْتُلُوهُمْ ۗ كَذَٰلِكَ جَزَاءُ الْكَافِرِينَ ﴿191﴾

وَاقْتُلُو او وژنئ تاسو هُمْ هغوی حَيْثُ هر چیرته ثَقِفْتُمُو چې پیدا کوئ تاسو هُمْ هغوی وَأَخْرِجُو او وباسئ تاسو هُمْ هغوی مِنْ حَيْثُ د هر ځای نه أَخْرَجُو چې ویستلي یاستئ هغوی كُمْ ۚ تاسو وَالْفِتْنَةُ او فتنه(شرک،او د دین نه اړول) أَشَدُّ ډېره سخته(ګناه) ده مِنَ الْقَتْلِ ۚ د وژلو نه وَلَا تُقَاتِلُو او تاسو جنګ مکوئ هُمْ د هغوی سره عِنْدَ الْمَسْجِدِ الْحَرَامِ د مسجد الحرام سره حَتَّىٰ د هغې پورې يُقَاتِلُو چې هغوی جنګ شروع کړي كُمْ ستاسو سره فِيهِ ۖ په هغې کې(مسجدالحرام کې) فَإِنْ نو که قَاتَلُو دوی جنګیږي كُمْ ستاسو سره فَاقْتُلُو نو تاسو(هم)ووژنئ هُمْ ۗ هغوی كَذَٰلِكَ همداسې جَزَاءُ جزا ده الْكَافِرِينَ د داسې کافرانو. ﴿191﴾

فَإِنِ انْتَهَوْا فَإِنَّ اللَّهَ غَفُورٌ رَحِيمٌ ﴿192﴾

فَإِنِ نو که انْتَهَوْا دوی منع شو فَإِنَّ نو بیشکه اللَّهَ الله تعالی غَفُورٌ بښونکئ رَحِيمٌ او رحم کونکئ دی ﴿192﴾

که کفر او شرک یې پرېښودو او ایمان یې راوړو ،نور نو ورسره جنګ مه کوئ ځکه چې اوس خو ستاسو ورونه شول.

وَقَاتِلُوهُمْ حَتَّىٰ لَا تَكُونَ فِتْنَةٌ وَيَكُونَ الدِّينُ لِلَّهِ ۖ فَإِنِ انْتَهَوْا فَلَا عُدْوَانَ إِلَّا عَلَى الظَّالِمِينَ ﴿193﴾

وَقَاتِلُو او جنګیږئ تاسو هُمْ د هغوی سره حَتَّىٰ د هغي
پورې لَا تَكُونَ چي پاتې نشي فِتْنَةٌ فتنه(شرک او فساد) وَيَكُونَ
او شي الدِّينُ دين(اطاعت او عبادت) لِلَّهِ ۖ خاص د الله دپاره(چې د
یو الله دین حاکم شي) فَإِنِ نو که انْتَهَوْا دوی منع شو(یا یې
شرک پریښودو او ایمان یې راوړو او یا د جزیې په قبلولو سره د
جنګ نه منع شول) فَلَا عُدْوَانَ نو هیڅ زیاتی(او تیري)نشته(یعنی
بیا ورسره نور جنګ مه کوئ) إِلَّا مګر عَلَى الظَّالِمِينَ په
ظالمانو باندې(یعنی جنګ به د هغه چا سره کوئ چې هغه ظالم وي
او نه منع کیږي) ﴿193﴾

الشَّهْرُ الْحَرَامُ بِالشَّهْرِ الْحَرَامِ وَالْحُرُمَاتُ قِصَاصٌ ۚ فَمَنِ اعْتَدَىٰ
عَلَيْكُمْ فَاعْتَدُوا عَلَيْهِ بِمِثْلِ مَا اعْتَدَىٰ عَلَيْكُمْ ۚ وَاتَّقُوا اللَّهَ وَاعْلَمُوا أَنَّ اللَّهَ
مَعَ الْمُتَّقِينَ ﴿194﴾

څلور میاشتې چې عبارت دی د ذوالقعده، ذوالحجه،محرم او
رجب دا حرامې یا عزتمندې میاشتې دي، په دې میاشتو کې جنګ
او د چا هر قسم بې عزتي کول منع دي،مسلمانانو ته الله تعالی
فرمایي:که کافران په دې حرامو میاشتو کې په تاسو حمله وکړي
یعنی جنګ د کافرانو د خوانه شروع شي نو تاسو ته هم د جنګ
کولو اجازه شته دي چه جنګ ورسره وکړئ.فرمایي:

الشَّهْرُ الْحَرَامُ حرامه میاشت بِالشَّهْرِ الْحَرَامِ په بدل د
حرامې میاشت کې(یعنی که کافران په حرامه میاشت کې په تاسو
حمله وکړي،نو تاسو هم په همدې حرامه میاشت کې سمدستي جواب
ورکړئ او جنګ ورسره وکړئ) وَالْحُرُمَاتُ او ټول عزتونه
قِصَاصٌ ۚ برابر دي(یعنی که کافرانو ستاسو هر قسم بې عزتي کړې

وي،تاسو هم د اسلامي شريعت په چوکاټ کې د خپلې بې عزتۍ بدل ترې واخلئ) فَمَنِ نو څوک چې اعْتَدَىٰ تيرى کوي (زياتى) عَلَيْكُمْ په تاسو باندې فَاعْتَدُوا نو تاسو ( هم د شريعت په چوکاټ کې) تيرى کوئ عَلَيْهِ په هغه باندې(يعنى د هغه د تيري يا تجاوز جواب ورکوئ،مګر) بِمِثْلِ په شان مَا د هغه تيري اعْتَدَىٰ چې هغه يې کوي عَلَيْكُمْ ۚ په تاسو باندې(يعنى د مسلمان مطلب د کافرانو وژل او دوزخ ته رسول نه دي بلکه کافرانو ته نصيحت او دالله تعالى د دين تبليغ او جنت ته رسول دي،هغوى خو نه پوهيږي،خو مسلمان به هميشه د هغوى د شر نه د ځان خلاصولو او د هغوى د اصلاح کولو کوشش کوي، وَاتَّقُوا او ويريږئ تاسو اللَّهَ د الله تعالى څخه وَاعْلَمُوا او پوه شئ تاسو أَنَّ چې بيشکه اللَّهَ الله تعالى مَعَ الْمُتَّقِينَ د پرهيزګارانو سره دی. ﴿194﴾

وَأَنْفِقُوا فِي سَبِيلِ اللَّهِ وَلَا تُلْقُوا بِأَيْدِيكُمْ إِلَى التَّهْلُكَةِ ۛ وَأَحْسِنُوا ۛ إِنَّ اللَّهَ يُحِبُّ الْمُحْسِنِينَ ﴿195﴾

وَأَنْفِقُوا او خرڅ کوئ فِي سَبِيلِ په لار کې اللَّهِ د الله تعالى وَلَا تُلْقُوا او تاسو مه غورزوئ(ځانونه خپل) بِأَيْدِيكُمْ په خپلو لاسونو إِلَى التَّهْلُكَةِ ۛ هلاکت ته وَأَحْسِنُوا ۛ او نيک عملونه کوئ إِنَّ اللَّهَ بيشکه الله تعالى يُحِبُّ محبت کوي الْمُحْسِنِينَ د نيک عمل کونکو سره. ﴿195﴾

وَأَتِمُّوا الْحَجَّ وَالْعُمْرَةَ لِلَّهِ ۚ فَإِنْ أُحْصِرْتُمْ فَمَا اسْتَيْسَرَ مِنَ الْهَدْيِ ۖ وَلَا تَحْلِقُوا رُءُوسَكُمْ حَتَّىٰ يَبْلُغَ الْهَدْيُ مَحِلَّهُ ۚ فَمَنْ كَانَ مِنْكُمْ مَرِيضًا أَوْ

بِهِ أَذًى مِنْ رَأْسِهِ فَفِدْيَةٌ مِنْ صِيَامٍ أَوْ صَدَقَةٍ أَوْ نُسُكٍ ۚ فَإِذَا أَمِنْتُمْ فَمَنْ تَمَتَّعَ بِالْعُمْرَةِ إِلَى الْحَجِّ فَمَا اسْتَيْسَرَ مِنَ الْهَدْيِ ۚ فَمَنْ لَمْ يَجِدْ فَصِيَامُ ثَلَاثَةِ أَيَّامٍ فِي الْحَجِّ وَسَبْعَةٍ إِذَا رَجَعْتُمْ ۗ تِلْكَ عَشَرَةٌ كَامِلَةٌ ۗ ذَٰلِكَ لِمَنْ لَمْ يَكُنْ أَهْلُهُ حَاضِرِي الْمَسْجِدِ الْحَرَامِ ۚ وَاتَّقُوا اللَّهَ وَاعْلَمُوا أَنَّ اللَّهَ شَدِيدُ الْعِقَابِ ﴿196﴾

وَأَتِمُّوا او پوره ادا کړئ الْحَجَّ حج وَالْعُمْرَةَ او عمره لِلَّهِ ۚ خاص د الله تعالى دپاره(کله چې د حج نیت وکړئ،او احرام وتړئ،نو بیا په تاسو لازم دي چې سر ته یې ورسوئ،داسې نه شئ کولای چې په نیمایې کې یې پرېږدئ،او احرام خلاص کړئ) فَإِنْ او که چیرې أُحْصِرْتُمْ منع شوئ تاسو(یعنی نیت مو کړئ دی،احرام مو تړلئ دی،خو یا د دښمن یا مریضی په سبب نشئ کولای چې حج او عمره سرته ورسوئ) فَمَا نو(په دې صورت کې واجب دي په تاس

و)هغه څه اسْتَيْسَرَ چې آسان دي مِنَ الْهَدْيِ ۖ د قربانی(یعنی د هر سبب د کبله چې د حج او عمرې د پوره سر ته رسولو څخه منع شوئ،نو دم(وینه یا قرباني)دربانديې اوړي،نو د خپل توان سره به یو حیوان حلالوئ یعنی قرباني به کوئ ) وَلَا تَحْلِقُوا او مه خرَیئ رُءُوسَكُمْ سرونه خپل حَتَّىٰ د هغې پورې يَبْلُغَ چې ورسیږي الْهَدْيُ قرباني مَحِلَّهُ ۚ ځای د حلالې خپلي ته(د حلالې د ځای مطلب د امام ابو حنیفه رحمت الله علیه په نزد حرم دی،یعنی د چا په لاس به خپل د قربانی حیوان او یا یې قیمت ولیږي چې د حرم په حدودو کې یې د ده دطرف نه قرباني کړي او کله چې د قربانی نه مطمئن شي نو بیا به سر و خرَیي،او د امام مالک او امام شافعي رحمهماالله په نزد په کوم ځای کې چې منع شوئ وی هم هلته دې قرباني وکړي.مطلب دا دی چې د قربانی څخه مخکې سر خرَیلای نشي )

فَمَنْ نو څوک كَانَ چې وي مِنْكُمْ ستاسو څنې مَرِيضًا
مريض أَوْ يا بِهِ أَذًى ده ته څه تکلیف وي مِنْ رَأْسِهِ د سر(نو د
ضروورت په اساس سر خربیل ورته رواه دي،مګر) فَفِدْيَةٌ نو
(لازمه ده په ده)فدیه مِنْ صِيَامٍ د روژو څخه(چې درې ورځې
روژه نیول دي) أَوْ صَدَقَةٍ یا د خیرات (چې شپږ مسکینانو ته
خواړه ورکول دي) أَوْ نُسُكٍ ۚ یا د قربانۍ(د یو پسه حلالول) فَإِذَا
بیا کله چې أَمِنْتُمْ په آمن کې شئ تاسو(د کوم سبب په اساس چې
تاسو د حج او عمرې نه منع شوي وئ،لکه دښمن یا مریضي،نو کله
چې داسبب ختم شي او ستاسو په عمره او حج کې څه خلل رانشي
فَمَنْ نو څوک چې( د حج نه مخکې مکې ته ورسیږي،او) تَمَتَّعَ
بِالْعُمْرَةِ فایده واخلي د عمرې(عمره وکړي،او یو ځای یې کړي )
إِلَى الْحَجِّ د حج سره فَمَا نو (واجب دي په ده باندې)هغه شی
اسْتَيْسَرَ چې آسان وي مِنَ الْهَدْيِ ۚ د قربانۍ(چې یو پسه یا د اوښ
یا غوایې اومه برخه ده) فَمَنْ نو څوک چې لَمْ يَجِدْ پیدا نه کړي(د
نو(واجب دي) په ده باندې قربانۍ ځاروَی یا حیوان) فَصِيَامُ
روژې نیول ثَلَاثَةِ أَيَّامٍ درې ورځې فِي الْحَجِّ په حج کې(د حج په
ورځوکې) وَسَبْعَةٍ او اوه(روژې نورې) إِذَا کله چې رَجَعْتُمْ ۗ
وګرځئ تاسو (چې د حج نه بیرته لاړ شئ په کور کې به یې نیسئ)
تِلْكَ دا(روژې) عَشَرَةٌ لس (ورځې) دي كَامِلَةٌ ۗ پوره (د جاهلیت
په زمانه کې خلکو فکر کولو چې په یو سفر سره د حج او عمرې
دواړو ادا کول ګناه ده یعني د حج دپاره باید سرې بیل سفر وکړي
او عمرې دپاره بیل،په دې مبارک آیت الله تعالی د هغو خلکو دپاره
چې د حرم د حدودو یا میقاتونو څخه دباندې اوسیږي،او د حج د
کولو دپاره مکې ته ځي،نو د دوی دپاره یې آساني راوستي ده،یعنی
د حرم د حدودو یا میقاتونو څخه دباندې اوسیدونکي عربان او د

خارجي ملکونو خلک کولای شي چې په یو سفر سره حج هم وکړي او عمره هم وکړي،خو دا حکم د هغو خلکو دپاره نه دی څوک چې د حرم په حدودو یا د میقاتونو په داخل کې اوسېږي،دوی به د عمرې دپاره بیل او د حج دپاره بیل سفر کوي ځکه چې د دوی دپاره مشکل کار نه دی، فرمایي: ذَٰلِكَ دا حکم (چې حج او عمره په یو سفر کولای شئ) لِمَنْ د هغه چا دپاره دی لَمْ يَكُنْ چې نه وي أَهْلُهُ کورنۍ د ده حَاضِرِي اوسیدونکي(خوا شا) الْمَسْجِدِ الْحَرَامِ ۚ د مسجدالحرام وَاتَّقُوا او ویریږئ اللَّهَ د الله تعالی نه وَاعْلَمُوا او پوه شئ تاسو أَنَّ اللَّهَ چې بیشکه الله تعالی شَدِيدُ سخت الْعِقَابِ عذاب ورکونکی دی. ﴿196﴾

الْحَجُّ أَشْهُرٌ مَعْلُومَاتٌ ۚ فَمَنْ فَرَضَ فِيهِنَّ الْحَجَّ فَلَا رَفَثَ وَلَا فُسُوقَ وَلَا جِدَالَ فِي الْحَجِّ ۗ وَمَا تَفْعَلُوا مِنْ خَيْرٍ يَعْلَمْهُ اللَّهُ ۗ وَتَزَوَّدُوا فَإِنَّ خَيْرَ الزَّادِ التَّقْوَىٰ ۚ وَاتَّقُونِ يَا أُولِي الْأَلْبَابِ ﴿197﴾

الْحَجُّ د حج (وخت) أَشْهُرٌ یو څو میاشتې دي مَعْلُومَاتٌ ۚ معلومې (چې عبارت دي د شوّال،ذوالقعدې او ذوالحجې د لس ورځو څخه) فَمَنْ نو څوک فَرَضَ چې نیت وکړي فِيهِنَّ په دغو (میاشتو)کې الْحَجَّ د حج فَلَا رَفَثَ نو نه دې نیږدې کیږي ښځو ته وَلَا او نه دې کوي فُسُوقَ ګناه وَلَا او نه دې کوي جِدَالَ جنګ فِي الْحَجِّ ۗ په حج کې(د حج په ورځو کې) وَمَا او هغه څه تَفْعَلُوا چې کوئ تاسو مِنْ خَيْرٍ د یو نیک(کار) نه يَعْلَمْهُ پوهیږي په هغې(نیک کار کولو ستاسو) اللَّهُ ۗ الله تعالی وَتَزَوَّدُوا او توښه(مصارف د حج) واخلئ(د ځان سره،په کفر کې داسې رواج وو چې ځینې خلکو به تش لاس تلل ثواب ګڼلو،او دې ته یې توکل ویلې،خو هلته به یې بیا سوال کولو او خلک به یې

تنګول،نو الله تعالی هغو خلکو ته چې وسه يې کيږي آمر کوي،چې
د حج کولو مصارف درسره اخلئ او بيا ځئ،او که د مصارفو وسه
او قدرت نه لرئ نو مه ځئ،ځکه چې هم پخپله سرګردانيږئ او هم
نور سرګردانوئ. فَإِنَّ نوبيشکه خَيْرَ الزَّادِ بهترينه توښه
التَّقْوَىٰ ۚ ځان ساتل دي(د سوال کولو نه،يعنی چې د سوال نه پرې
بچ شئ او حج د سوال کولو سبب جوړ نکړئ.) وَاتَّقُونِ او ځما نه
ويريږئ يَا أُولِي اى خاوندانو الْأَلْبَابِ د عقل. ﴿197﴾

لَيْسَ عَلَيْكُمْ جُنَاحٌ أَنْ تَبْتَغُوا فَضْلًا مِنْ رَبِّكُمْ ۚ فَإِذَا أَفَضْتُمْ مِنْ
عَرَفَاتٍ فَاذْكُرُوا اللَّهَ عِنْدَ الْمَشْعَرِ الْحَرَامِ ۖ وَاذْكُرُوهُ كَمَا هَدَاكُمْ وَإِنْ كُنْتُمْ
مِنْ قَبْلِهِ لَمِنَ الضَّالِّينَ ﴿198﴾

لَيْسَ نشته عَلَيْكُمْ په تاسو باندې جُنَاحٌ ګناه أَنْ چې
تَبْتَغُوا غواړئ تاسو(په ورځو د حج کې) فَضْلًا د الله تعالی
فضل(يعنی مال او دولت د تجارت پواسطه) مِنْ رَبِّكُمْ ۚ د رب خپل
نه فَإِذَا بيا کله چې أَفَضْتُمْ راوګرځئ تاسو مِنْ عَرَفَاتٍ د
عرفات نه فَاذْكُرُوا نو ذکر کوئ اللَّهَ د الله تعالی عِنْدَ الْمَشْعَرِ
الْحَرَامِ ۖ د مشعرالحرام سره(يعنی مزدلفه کې به د مغرب او عشاء
دواړه لمونځونه يوځای ادا کړئ) وَاذْكُرُوهُ او هغه جل جلاله
(داسې) يادوئ كَمَا لکه څنګه چې هَدَاكُمْ هغه جل جلاله تاسو
ته لارښودنه کړې ده وَإِنْ كُنْتُمْ او بيشکه چې وئ تاسو مِنْ قَبْلِهِ
مخکې د دې هدايت(او لارښودنې)څنې لَمِنَ الضَّالِّينَ د ګمراهانو
څنې(سمه لار درنه ورکه وه) ﴿198﴾

د کفر په وخت کې يو غلطي دا وه چې د مکې شريفې خلک
به د عرفات پورې تلل او د هغې ځای نه به بيا مکې ته د طواف
دپاره راتلل،مګر قريش به عرفات ته نه تلل د دې په خاطر چې

عرفات د حرم د حدودو نه دباندې دی،نو دوی به په مزدلفه کې په دې خاطر ودریدل، چې مزدلفه د حرم په حدودو کې داخل ده.نو ځکه الله تعالی وفرمایل چې د هغه ځای یعنی عرفات نه چې ټول خلک طواف ته راځي،تاسو هم هلته(عرفات) ورځئ:

ثُمَّ بیا أَفِيضُوا راګرځئ تاسو (واپس کیږئ ای قریشو ) مِنْ حَيْثُ د هغه ځای نه(عرفات نه) أَفَاضَ النَّاسُ چې راګرځي(واپس کیږي نور)خلک ( مزدلفې ته، یعنی د عرفات نه خلک مزدلفې ته راځي او د مغرب او عشاء لمونځونه یو ځای ادا کوي) وَاسْتَغْفِرُوا او بښنه غواړئ تاسو اللَّهَ ۚ د الله تعالی نه إِنَّ اللَّهَ بیشکه الله تعالی غَفُورٌ ښه بښونکئ رَحِيمٌ بې حده رحم کونکئ دی ﴿199﴾

فَإِذَا قَضَيْتُمْ مَنَاسِكَكُمْ فَاذْكُرُوا اللَّهَ كَذِكْرِكُمْ آبَاءَكُمْ أَوْ أَشَدَّ ذِكْرًا ۗ فَمِنَ النَّاسِ مَنْ يَقُولُ رَبَّنَا آتِنَا فِي الدُّنْيَا وَمَا لَهُ فِي الْآخِرَةِ مِنْ خَلَاقٍ ﴿200﴾

د جاهلیت په وخت کې رواج وو چې:د حج د مراسمو د ادا کولو یا خلاصیدلو نه به وروسته خلک درې ورځې په منَی کې ایساریدل او بازار به یې جوړلولو او د خپلو پلورونو او نیکونو صفتونه به یې کول،د هغوی لویې او فضایل به یې بیانول،نو په دې مبارک آیت کې الله تعالی فرمایي چې نیکونه مه یادوئ بلکه یوازې الله تعالی یادوئ.فرمایي:

فَإِذَا نو هر کله قَضَيْتُمْ چې ادا کړئ تاسو(پوره کړئ،خلاص کړئ) مَنَاسِكَكُمْ مراسم د حج ستاسو فَاذْكُرُوا نو یادوئ تاسو اللَّهَ الله تعالی كَذِكْرِكُمْ لکه څنګه چې یادول تاسو آبَاءَكُمْ نیکونه او پلرونه ستاسو أَوْ أَشَدَّ بلکه ډیر زیات ذِكْرًا ۗ

يادول(يعنى د پلرونو او نيكونو نه هم الله تعالى ډېر زيات يادوئ)
فَمِنَ النَّاسِ نو ځني د خلكو نه مَنْ هغه څوک دي يَقُولُ چې
وايي رَبَّنَا اى ربه زمونږ آتِنَا راكړه مونږ ته(هر څه ) فِي
الدُّنْيَا په دنيا كې وَمَا او نشته لَهُ ده ته فِي الْآخِرَةِ په آخرت
كې مِنْ خَلَاقٍ هيڅ برخه(د جنت) ﴿200﴾

وَمِنْهُمْ مَنْ يَقُولُ رَبَّنَا آتِنَا فِي الدُّنْيَا حَسَنَةً وَفِي الْآخِرَةِ حَسَنَةً
وَقِنَا عَذَابَ النَّارِ ﴿201﴾

وَمِنْهُمْ او ځني د دوى نه مَنْ هغه څوک دي يَقُولُ چې
وايي رَبَّنَا اى ربه زمونږ آتِنَا راكړه مونږ ته فِي الدُّنْيَا په
دنيا كې حَسَنَةً نيكي(نعمتونه) وَفِي الْآخِرَةِ او په آخرت كې
حَسَنَةً (هم)نيكي(جنت) وَقِنَا او وساتي مونږ عَذَابَ النَّارِ د
عذاب د اور نه(د دوزخ نه). ﴿201﴾

أُولَٰئِكَ لَهُمْ نَصِيبٌ مِمَّا كَسَبُوا ۚ وَاللَّهُ سَرِيعُ الْحِسَابِ ﴿202﴾

أُولَٰئِكَ دغه خلک لَهُمْ دوى ته نَصِيبٌ لويه برخه ده مِمَّا
د هغو (نيكواعمالو) په سبب كَسَبُوا ۚ چې دوى كړي دي وَاللَّهُ او
الله تعالى سَرِيعُ الْحِسَابِ ژر د حساب اخستونكئ دى. ﴿202﴾

وَاذْكُرُوا اللَّهَ فِي أَيَّامٍ مَعْدُودَاتٍ ۚ فَمَنْ تَعَجَّلَ فِي يَوْمَيْنِ فَلَا إِثْمَ
عَلَيْهِ وَمَنْ تَأَخَّرَ فَلَا إِثْمَ عَلَيْهِ ۚ لِمَنِ اتَّقَىٰ ۗ وَاتَّقُوا اللَّهَ وَاعْلَمُوا أَنَّكُمْ إِلَيْهِ
تُحْشَرُونَ ﴿203﴾

وَاذْكُرُوا او ذكر كوئ تاسو اللَّهَ د الله تعالى فِي أَيَّامٍ په ورځو مَعْدُودَاتٍ ۚ شميرل شوو كې.(چې د ذوالحجې يولسمه،دولسمه او ديارلسمه درې ورځې دي،په دې ورځو كې خلك د حج نه فارغيږي(خلاصيږي)،په منَى كې اوسيږي،د شيطانانو ويشتل او د هر لمانځه نه وروسته تكبيرونه ويل كيږي.

فَمَنْ نو څوك چې: تَعَجَّلَ بيړه(تلوار) وكړي(په تلو كې د منيَ نه مكې ته) فِي يَوْمَيْنِ په دوه ورځو كې(چې يولسمه او دولسمه د ذى الحجى دي) فَلَا نو نشته إِثْمَ گناه عَلَيْهِ په هغه باندې(تلوار كونكې باندې) وَمَنْ او څوك چې تَأَخَّرَ تاخير وكړي(او درې ورځې په منَى كې پاتې شي) فَلَا نو نشته إِثْمَ گناه عَلَيْهِ ۚ په ده باندې (الله تعالى دواړه جايز كړي دي،خو بهتر او افضل درې ورځې دي،) او دا بې گناهي لِمَنِ د هغه چا دپاره ده اتَّقَىٰ ۗ چې پرهيز ئې كړئ وي(د گناهونو نه ئې ځان ساتلئ وي) وَاتَّقُوا او (تل)ويريږئ اللَّهَ د الله تعالى نه وَاعْلَمُوا او پوه شئ تاسو أَنَّكُمْ چې بيشكه تاسو إِلَيْهِ خاص هغه جل جلاله ته تُحْشَرُونَ ورټوليږئ( په قيامت كې د خپلو اعمالو د جزا او سزا د پاره) ﴿203﴾

وَمِنَ النَّاسِ مَنْ يُعْجِبُكَ قَوْلُهُ فِي الْحَيَاةِ الدُّنْيَا وَيُشْهِدُ اللَّهَ عَلَىٰ مَا فِي قَلْبِهِ وَهُوَ أَلَدُّ الْخِصَامِ ﴿204﴾

وَمِنَ او ځيني النَّاسِ د خلكو څخه مَنْ هغه څوك دى يُعْجِبُكَ چې په تعجب كې اچوي تا ( يُعْجِبُ چې په تعجب كې اچوي كَ تا) قَوْلُهُ خبرې د هغه(قَوْلُ خبرې ہُ د هغه) فِي الْحَيَاةِ په ژوند كې الدُّنْيَا د دنيا (د دنيا په كارونو لكه سياست او

تجارت کې ډېر چالا که او ډېره خوږه او پسته ژبه لري) وَيُشْهِدُ
او شاهد کوي(ګواه کوي) اللَّهَ الله تعالى عَلَىٰ په مَا هغه(څه
باندې) فِي قَلْبِهِ چې د هغه په زړه کې دي(چې خبرې کوي
قسمونه خوري،تا ته وايې چې په الله قسم دى چې ستا سره محبت
لرم،په زړه کې راباندې ډېر زيات ګران يې) و حال دا دى
چې(په زړه کې ) هُوَ هغه أَلَدُّ سخت الْخِصَامِ جګړه مار
دى(ستا سخت دښمن دى) ﴿204﴾

وَإِذَا تَوَلَّىٰ سَعَىٰ فِي الْأَرْضِ لِيُفْسِدَ فِيهَا وَيُهْلِكَ الْحَرْثَ وَالنَّسْلَ ۗ
وَاللَّهُ لَا يُحِبُّ الْفَسَادَ ﴿205﴾

وَإِذَا او كله چې تَوَلَّىٰ بيرته وګرځي(ستا نه لاړ شي)
سَعَىٰ كوشش كوي فِي الْأَرْضِ په ځمكه كې لِيُفْسِدَ چې فساد
وکړي فِيهَا په هغې کې وَيُهْلِكَ او تباه کړي الْحَرْثَ فصل
وَالنَّسْلَ ۗ او نسل(د ده په قسمونو او پسته خوله باور مه كوه،حقيت
دا دى چې دا چالاكه او قسم خور ستا دوست نه دى بلكې ستا د
مالونو او ځانونو دښمن دى.) و حال دا دى چې اَللَّهُ الله تعالى لَا
يُحِبُّ نه خوښوي الْفَسَادَ فساد ﴿205﴾

وَإِذَا قِيلَ لَهُ اتَّقِ اللَّهَ أَخَذَتْهُ الْعِزَّةُ بِالْإِثْمِ ۚ فَحَسْبُهُ جَهَنَّمُ ۚ وَلَبِئْسَ
الْمِهَادُ ﴿206﴾

وَإِذَا او كله چې قِيلَ ويل كيږي لَهُ هغه ته اتَّقِ چې
وويرېږه اللَّهَ د الله تعالى نه(چې منافقت او ګناه مه كوه) أَخَذَتْهُ
(نو) نيسي هغه(كوي هغه) الْعِزَّةُ غيرت بِالْإِثْمِ ۚ په ګناه كولو

سره(منافقت او ګناه کول ورته غیرت او د منافقت او ګناه پريښودل ورته بي غيرتي ښکاري) فَحَسْبُهُ نو کافي دی ده ته(داسې منافق ته) جَهَنَّمُ ۚ جهنم وَلَبِئْسَ او بیشکه(جهنم)ډير بد(خراب) الْمِهَادُ ځای د اوسيدلو دی. ﴿206﴾

وَمِنَ النَّاسِ مَنْ يَشْرِي نَفْسَهُ ابْتِغَاءَ

مَرْضَاتِ اللَّهِ ۗ وَاللَّهُ رَءُوفٌ بِالْعِبَادِ ﴿207﴾

وَمِنَ النَّاسِ او ځني د خلکو نه مَنْ هغه څوک دی يَشْرِي چې خرڅوي نَفْسَهُ ځان خپل ابْتِغَاءَ دپاره د طلب(او حاصلولو) مَرْضَاتِ د رضاء اللَّهِ ۗ د الله تعالی وَاللَّهُ او الله تعالی رَءُوفٌ مهربان دی بِالْعِبَادِ ( په داسې)بندګانو ﴿207﴾

يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا ادْخُلُوا فِي السِّلْمِ كَافَّةً وَلَا تَتَّبِعُوا خُطُوَاتِ الشَّيْطَانِ ۚ إِنَّهُ لَكُمْ عَدُوٌّ مُبِينٌ ﴿208﴾

يَا أَيُّهَا الَّذِينَ ای هغو خلکو آمَنُوا چې ايمان مو راوړی دی(ای مؤمنانو) ادْخُلُوا داخل شئ فِي السِّلْمِ په اسلام کې كَافَّةً پوره-پوره(د الله تعالی ټول احکام ومنئ،او په ټولو يو شان عمل کوئ،داسې نه چې په کوم حکم کې مو ګټه وي هغه منئ او عمل پرې کوئ،او کوم حکم چې ستاسو د ګټو په خلاف وي،په هغې عمل نه کوئ،اوهيلي او بهاني جوړوئ) وَلَا تَتَّبِعُوا او پيروي مه کوئ خُطُوَاتِ د قدمونو(او لارو) الشَّيْطَانِ ۚ د شيطان إِنَّهُ بيشکه دغه(شيطان) لَكُمْ تاسو ته عَدُوٌّ دښمن دی مُبِينٌ ښکاره. ﴿208﴾

فَإِنْ زَلَلْتُمْ مِنْ بَعْدِ مَا جَاءَتْكُمُ الْبَيِّنَاتُ فَاعْلَمُوا أَنَّ اللَّهَ عَزِيزٌ حَكِيمٌ ﴿209﴾

فَإِنْ نو كه چيرته زَلَلْتُمْ وخويدلئ(د انساني او جني شيطانانو په وسوسو د دين نه واوړئ) مِنْ بَعْدِ مَا وروسته د هغې جَاءَتْكُمُ چې راغلل تاسوته الْبَيِّنَاتُ ښكاره(او واضحه)دلايل فَاعْلَمُوا نوپوه شئ أَنَّ چې بيشكه اللَّهَ الله تعالى عَزِيزٌ (په هر چا باندې زورور حَكِيمٌ (او)حكمت والا دى(هيڅوک د الله د عذاب نه ځان نشي خلاصولاى) ﴿209﴾

چې د واضحه او ښكاره دلايلو سره-سره بيا هم دوى ايمان نه راوړي نو:

هَلْ يَنْظُرُونَ إِلَّا أَنْ يَأْتِيَهُمُ اللَّهُ فِي ظُلَلٍ مِنَ الْغَمَامِ وَالْمَلَائِكَةُ وَقُضِيَ الْأَمْرُ ۚ وَإِلَى اللَّهِ تُرْجَعُ الْأُمُورُ ﴿210﴾

هَلْ يَنْظُرُونَ آيا دوى انتظار كوي إِلَّا أَنْ پرته د دې چې يَأْتِيَهُمُ راشي دوى ته اللَّهُ الله تعالى فِي ظُلَلٍ په سيورو كې مِنَ الْغَمَامِ د وريځو وَالْمَلَائِكَةُ او ملائيكې(هم راشي) وَقُضِيَ او فيصله شي الْأَمْرُ ۚ كار(آيا دوى پرته د دې دبل څه انتظار كوي چې:الله تعالى ورته د وريځو په سيورو كې راشي،او ملائيكې هم ورسره وي،او د بندګانو تولې پريكړې وكړل شي) وَإِلَى اللَّهِ او د الله تعالى په لور تُرْجَعُ ګرځول كيږي الْأُمُورُ تول كارونه.(تول كارونه د الله تعالى په لور ګرځول كيږي) ﴿210﴾

سَلْ بَنِي إِسْرَائِيلَ كَمْ آتَيْنَاهُمْ مِنْ آيَةٍ بَيِّنَةٍ ۗ وَمَنْ يُبَدِّلْ نِعْمَةَ اللَّهِ مِنْ بَعْدِ مَا جَاءَتْهُ فَإِنَّ اللَّهَ شَدِيدُ الْعِقَابِ ﴿211﴾

سَلْ پوښتنه وکړه بَنِي إِسْرَائِيلَ د بني اسرائيلو نه كَمْ چې
څومره آتَيْنَاهُمْ مونږ ورکړي وي هغوی ته مِنْ آيَةٍ د
معجزو(يا نښو) بَيِّنَةٍ ۗ ښکاره (او څرګندو) څنې وَمَنْ يُبَدِّلْ او
هر څوک چې بدل کړي نِعْمَةَ اللَّهِ نعمت د الله تعالی(په ناشکری
سره) مِنْ بَعْدِ مَا وروسته د هغې جَاءَتْهُ چې راغئ ده ته فَإِنَّ
اللَّهَ نو بيشکه الله تعالی شَدِيدُ سخت الْعِقَابِ عذاب ورکونکئ
دی ﴿211﴾

زُيِّنَ لِلَّذِينَ كَفَرُوا الْحَيَاةُ الدُّنْيَا وَيَسْخَرُونَ مِنَ الَّذِينَ آمَنُوا ۘ وَالَّذِينَ اتَّقَوْا فَوْقَهُمْ يَوْمَ الْقِيَامَةِ ۗ وَاللَّهُ يَرْزُقُ مَنْ يَشَاءُ بِغَيْرِ حِسَابٍ ﴿212﴾

زُيِّنَ ښايسته شوئ دی لِلَّذِينَ هغو خلکو ته كَفَرُوا چې کافران
دي الْحَيَاةُ ژوند الدُّنْيَا د دنيا وَيَسْخَرُونَ او دوی توقي کوي(دا
دنياپرستان) مِنَ الَّذِينَ د هغو خلکو پورې آمَنُوا ۘ چې ايمان يې
راوړئ وي وَالَّذِينَ او هغه خلک اتَّقَوْا چې پرهيزګاران
دي(چې دې دنيا پرستانو به ورپورې توقي کولې) فَوْقَهُمْ دپاسه د
هغوی به وي(مؤمنان به د کافرانو په مقابل کې په اوچت او لوړ
مقام کې وي.) يَوْمَ په ورځ الْقِيَامَةِ ۗ د قيامت وَاللَّهُ او الله تعالی
يَرْزُقُ رزق ورکوي مَنْ يَشَاءُ چاته چې غواړي بِغَيْرِ حِسَابٍ
بې حسابه. ﴿212﴾

كَانَ النَّاسُ أُمَّةً وَاحِدَةً فَبَعَثَ اللَّهُ النَّبِيِّينَ مُبَشِّرِينَ وَمُنْذِرِينَ وَأَنْزَلَ مَعَهُمُ الْكِتَابَ بِالْحَقِّ لِيَحْكُمَ بَيْنَ النَّاسِ فِيمَا اخْتَلَفُوا فِيهِ ۚ وَمَا اخْتَلَفَ فِيهِ إِلَّا الَّذِينَ أُوتُوهُ مِنْ بَعْدِ مَا جَاءَتْهُمُ الْبَيِّنَاتُ بَغْيًا بَيْنَهُمْ ۖ فَهَدَى اللَّهُ الَّذِينَ آمَنُوا لِمَا اخْتَلَفُوا فِيهِ مِنَ الْحَقِّ بِإِذْنِهِ ۗ وَاللَّهُ يَهْدِي مَنْ يَشَاءُ إِلَىٰ صِرَاطٍ مُسْتَقِيمٍ ﴿213﴾

په دې مبارک آيت د بنه پوهيدو لپاره د يوڅه معلومات ذکر کول ضرور دي.

بې خبره خلک چې د قياس،ګُمان او اندازو په بناء تاريخ ليکي،وايي چې انسان دنيا ته د شرک او جهالت په تيارو کې راغلئ دی،او په تدريجي ډول د وخت په تيريدلو سره د جهل او شرک د تيارو څخه راووتو،بلکې د قرآنکريم فرمان بالکل د دې برعکس دی،فرمايي چې:اول انسان د الله تعالی پيغمبر وو،او د علم او توحيد د عقيدې سره دنيا ته راغلئ وو،په اول کې د هغه عليه سلام نسل ټول يو اُمت يا يوه ډله وه،فرقې نه وي،او ټول انسانان صرف د توحيد په عقيده وو،خو د وخت په تيريدو سره د اقتدار او نفسي خواهشاتو د پوره کولو دپاره د خلکو په

منځ کې اختلافات ، يو په بل باندې ظلمونه او فساد شروع شول،نو الله تعالی د انسانانو د اختلافاتو او مشکلاتو د حل کولو دپاره پيغمبران او خپل کتابونه راوليږل،چې هر پيغمبر د الله تعالی دکتاب او هدايت مطابق انسانانو ته د الله تعالی پيغام ورسولو،او د هغوی د مشکلاتو په حلولو کې يې پوره-پوره کوششونه وکړل،خو کله چې پيغمبران عليهم سلام د دنيا څخه لاړل،نو امتيانو يې خصوصاً ځينو علماوو د الله تعالی په کتاب کې اختلافات پيدا کړل،آياتونه يې بدل کړل،د نبي عليه سلام صفتونه يې پټ کړل،او صرف يو بل سره د ضد او د دنيا د قدرت،عزت، او دولت دپاره يې د دين څخه بې خبره خلک د ځان پسې کړل،او هر يو د خپل امارت لاندې يوه ډله يا فرقه جوړه کړه،لکه چې اوس يې مونږ په سترګو ګورو چې د هرې ډلي يا فرقې مشر د امارت د جاه وجلال،دولت او دنياوي عزت مزې او خوندونه اخلي ،چې په دې ډول يوائې په بني

اسرائيلو کې دوه اويا(۷۲) ډلې يا فرقې جوړې شوې، مګر هغه خلک چې:په پيغمبرانو يې د الله تعالی د رضا دپاره ايمان راوړئ وو،ټول پيغمبران او ټول آسماني کتابونه يې منل،او هدف يې دنيا نه وه بلکې د جنت ګټل وو،هغوی ته الله تعالی د اسلام حقه لاره وښودله ،مسلمانان پاتې شول او په قرآن او محمد صلی الله عليه و سلم باندې يې ايمان راوړو.

په اول کې:

كَانَ وو النَّاسُ انسانان أُمَّةً وَاحِدَةً يو امت يا يوه ډله(چې ټول د يو الله تعالی منونکي وو.او د وخت په تيريدو سره په کې اختلافات،شرک او ګمراهي پيداشوه) فَبَعَثَ نو راوليږل اللَّهُ الله تعالی النَّبِيِّينَ پيغمبران مُبَشِّرِينَ زيرئ ورکونکي(نيکانو ته په جنت باندې) وَمُنْذِرِينَ او ويره ونکي(بدکارانو ته د دوزخ نه) وَأَنْزَلَ او نازل ئې کړل مَعَهُمُ د هغوی سره(د پيغمبرانو سره) الْكِتَابَ کتابونه بِالْحَقِّ په حقه سره لِيَحْكُمَ د دې دپاره چې فيصله وکړې بَيْنَ په منځ النَّاسِ د خلکو کې فِيمَا په هغه څه کې اخْتَلَفُوا چې اختلاف کولو دوی فِيهِ ۚ په هغې کې (خو د وخت په تيريدو سره خلکو د دنيا پرستۍ په سبب د الله په دين،کتابونو،پيغمبرانو او الهی احکامو کې هم خبرې شروع کړې،په کتابونو کې يې تغيرات راوستل،ځنې آيتونه يې د الله تعالی د کتاب څخه پټ کړل،سره د دې چې د خپلو ناروا کارونو په کولو ښه پوهيدل،خو د پوهې سره-سره يې د دنيا د عزت او دولت دپاره قصداً اختلافات پيداکول ،ناپوهه خلک به يې ځان پسې کول،خلکو ته به يې ځان په حقه او نور ناحقه معرفي کول او په دې ډول به يې خپله ډله جوړوله وَمَا اخْتَلَفَ او اختلاف نه کولو فِيهِ په دې

کې(د الله په دين او د الله تعالى د کتاب په احکامو کې) إِلَّا مګر
الَّذِينَ هغو خلکو(اختلاف او جګړې کولي) أُوتُوهُ چې ورکول
شوئ ؤ دوى ته هغه(يعني کتاب ورکول شوئ ؤ) مِنْ بَعْدِ مَا
وروسته د هغې(دوى اختلاف او جګړې کولي) جَاءَتْهُمُ چې راغلي
ؤ دوى ته الْبَيِّنَاتُ واضحه او روښانه دلايل(په حقانيت د هغه څه
چې دوى په کې جګړه او اختلاف کولو،نو ښه پوهيدل خو بَغْيًا د
ضد په سبب يې بَيْنَهُمْ ۖ په خپلو منځونو کې (اختلاف کولو)دا دوه
قسمه خلک ؤ،يو هغه خلک او هغه ډلي وي چې د دنيا د ګټو دپاره
به يې اختلاف کولو،لکه يهود او نصارى چې د محمد صلى الله على
وسلم صفتونه به يې پټول او حق به يې پټولو او د حق پرستو
علماوو مخالفت به يې کولو،او بل هغه حق پرست خلک او علما وو
چې ټول کتابونه او پيغمبران يې منل او د باطل پرستو علماوو سره
يې اختلاف کولو او د زړه نه مسلمانان ؤ فَهَدَى نو هدايت وکړو
اللَّهُ الله تعالى الَّذِينَ هغه خلکو ته آمَنُوا چې ايمان يې راوړی ؤ
(او د باطل پرستو علماوو په مقابل کې ولاړ ؤ،د هغوى د خبرو
سره يې اختلاف کولو او د حق نه يې دفاع کوله) لِمَا هغه څه ته
اخْتَلَفُوا چې اختلاف کولو دوى فِيهِ په هغې کې مِنَ الْحَقِّ د حق
بِإِذْنِهِ ۗ په توفيق د هغه جل جلاله(الله تعالى مؤمنانو ته په اختلافي
خبرو کې سمه حقه د اسلام لاره وښودله) وَاللَّهُ او الله تعالى
يَهْدِي هدايت کوي(سمه لار ښايي) مَنْ چاته يَشَاءُ چې غواړي
إِلَىٰ صِرَاطٍ مُسْتَقِيمٍ سمي لارې ته.(اسلام ته) ﴿213﴾

أَمْ حَسِبْتُمْ أَنْ تَدْخُلُوا الْجَنَّةَ وَلَمَّا يَأْتِكُمْ مَثَلُ الَّذِينَ خَلَوْا مِنْ قَبْلِكُمْ ۖ مَسَّتْهُمُ
الْبَأْسَاءُ وَالضَّرَّاءُ وَزُلْزِلُوا حَتَّىٰ يَقُولَ الرَّسُولُ وَالَّذِينَ آمَنُوا مَعَهُ مَتَىٰ
نَصْرُ اللَّهِ ۗ أَلَا إِنَّ نَصْرَ اللَّهِ قَرِيبٌ ﴿214﴾

أَمْ حَسِبْتُمْ آیا تاسو ګُمان کوئ أَنْ تَدْخُلُوا چې داخل به شئ الْجَنَّةَ جنت ته وَ په داسې حال کې لَمَّا چې تر اوسه نه دی يَأْتِكُمْ راغلئ په تاسو مَثَلُ حال(تکلیفونه او مشکلات) الَّذِينَ د هغو خلکو(په شان) خَلَوْا چې تیر شوي دي مِنْ قَبْلِكُمْ مخکې د ستاسو څخه مَسَّتْهُمُ (چې) رسیدلي وو دوی ته الْبَأْسَاءُ مالي تکلیفونه وَالضَّرَّاءُ او ځاني تکلیفونه وَزُلْزِلُوا او لړزول شوي وو حَتَّىٰ تر دې پورې يَقُولَ چې ویل به الرَّسُولُ (د وخت) پیغمبر وَالَّذِينَ او هغو خلکو آمَنُوا چې ایمان یې راوړی وو(مؤمنانو) مَعَهُ د هغه(پیغمبر) سره مَتَىٰ چې کله به وي نَصْرُ اللَّهِ کومک(او مدد)د الله تعالی أَلَا (خوشخبري ورکول شوه) خبردار شئ إِنَّ چې بیشکه نَصْرَ اللَّهِ کومک(مدد) د الله تعالی قَرِيبٌ نیزدې دی.(د الله تعالی کومک خو د مؤمنانو سره دی،مګر امتحان ترې حتماً اخلي) ﴿214﴾

يَسْأَلُونَكَ مَاذَا يُنْفِقُونَ قُلْ مَا أَنْفَقْتُمْ مِنْ خَيْرٍ فَلِلْوَالِدَيْنِ وَالْأَقْرَبِينَ وَالْيَتَامَىٰ وَالْمَسَاكِينِ وَابْنِ السَّبِيلِ وَمَا تَفْعَلُوا مِنْ خَيْرٍ فَإِنَّ اللَّهَ بِهِ عَلِيمٌ ﴿215﴾

د پیغمبر صلی الله علیه وسلم نه د خیرات کولو په باره کې پوښتنه وشوه:جواب یې الله تعالی ورکړو فرمایي:

يَسْأَلُونَكَ پوښتنې کوي دوی ستا نه مَاذَا چې څه شی يُنْفِقُونَ خیرات کړي دوی قُلْ ( ورته) ووایه مَا هر څه(چې هر څومره د خپلې وسې مطابق) أَنْفَقْتُمْ خیراتوئ تاسو مِنْ خَيْرٍ د (حلال)مال نه(د حرام مال نه به خیراتونه نه کوئ)

او ستاسو د خیرات اول مستحق او حقدار ستاسو مور او پلار دي،که احتیاج وي فَلِلْوَالِدَيْنِ نو د مور او پلار دپاره(یې مصرف

کړئ) او دوهم نمبر کي ستاسو دوستان لکه وررور ،خور،کاکا،ماما و غیره مستحق دي داسې نه چې مور او پلار او دوستان دې غریب وي او ته د نوم او شهرت دپاره مسجدونه جوړوي،او په کال کي دوه عمرې کوي، الله تعالی ستا مسجدونو او عمرو ته احتیاج نه دی وَالْأَقْرَبِينَ او دوستانو دپاره(چې غریب وي) او دریم : وَالْيَتَامَىٰ او د یتیمانو دپاره څلورم وَالْمَسَاكِينِ اودمسکینانودپاره پنځم وَابْنِ السَّبِيلِ ۗ او د سوال کوونکو دپاره (خپل مال چې خومره دې وسه کیږي خیرات او مصرف کړه)ای د الله بنده دا مشوره نه ده بلکې د ا د الله تعالی حکم دی،چې داسې به کوې،او که په خیرات کي دې خیانت وکړو،نو دا مه هیروه چې الله تعالی درته ګوري وَمَا تَفْعَلُوا او هر څه چې تاسو کوئ مِنْ خَيْرٍ د نیکو اعمالو نه فَإِنَّ نو بیشکه اللَّهَ الله تعالی بِهِ په هغې باندې عَلِيمٌ پوه دی(که د الله تعالی د رضا دپاره خیرات کوي، که د ریاء دپاره،که مستحق ته یې ورکوي او که غیرې مستحق ته یې د نوم او شهرت دپاره ورکوي دا ټول د الله تعالی په علم کې دي او زره په زره به درسره حساب او پوښتنه کوي ﴿215﴾

كُتِبَ عَلَيْكُمُ الْقِتَالُ وَهُوَ كُرْهٌ لَكُمْ ۖ وَعَسَىٰ أَنْ تَكْرَهُوا شَيْئًا وَهُوَ خَيْرٌ لَكُمْ ۖ وَعَسَىٰ أَنْ تُحِبُّوا شَيْئًا وَهُوَ شَرٌّ لَكُمْ ۗ وَاللَّهُ يَعْلَمُ وَأَنْتُمْ لَا تَعْلَمُونَ ﴿216﴾

كُتِبَ فرض شوئ دی عَلَيْكُمُ په تاسو باندې(د الله تعالی د خوانه) الْقِتَالُ جنګ کول(د کافرانو سره) وَ حال دا چې هُوَ دغه(جنګ د کفارو سره) كُرْهٌ بد ښکاري لَكُمْ ۖ تاسو ته وَعَسَىٰ او کیدای شي أَنْ چې تَكْرَهُوا تاسو بد ګڼی شَيْئًا یو شی وَهُوَ

او هغه(شی) خَيْرٌ ډېر بهتر وي لَكُمْ ۖ تاسو ته وَعَسَىٰ او
كيداى شي أَنْ چې تُحِبُّوا تاسو بنه ګڼئ شَيْئًا يو شى وَهُوَ
او هغه (شی) شَرٌّ ډېر بد وي لَكُمْ ۗ تاسو ته وَاللَّهُ او الله تعالى
يَعْلَمُ پوهيږي(چې په څه شي کې ستاسو خير دی او په څه شي کې
تاسو ته شر دی.) وَأَنْتُمْ او تاسو لَا تَعْلَمُونَ نه پوهيږئ(چې
ستاسو خير په څه کې دی او ستاسو شر په څه کې دی) ﴿216﴾

يَسْأَلُونَكَ عَنِ الشَّهْرِ الْحَرَامِ قِتَالٍ فِيهِ ۖ قُلْ قِتَالٌ فِيهِ كَبِيرٌ ۖ وَصَدٌّ عَنْ سَبِيلِ اللَّهِ وَكُفْرٌ بِهِ وَالْمَسْجِدِ الْحَرَامِ وَإِخْرَاجُ أَهْلِهِ مِنْهُ أَكْبَرُ عِنْدَ اللَّهِ ۚ وَالْفِتْنَةُ أَكْبَرُ مِنَ الْقَتْلِ ۗ وَلَا يَزَالُونَ يُقَاتِلُونَكُمْ حَتَّىٰ يَرُدُّوكُمْ عَنْ دِينِكُمْ إِنِ اسْتَطَاعُوا ۚ وَمَنْ يَرْتَدِدْ مِنْكُمْ عَنْ دِينِهِ فَيَمُتْ وَهُوَ كَافِرٌ فَأُولَٰئِكَ حَبِطَتْ أَعْمَالُهُمْ فِي الدُّنْيَا وَالْآخِرَةِ ۖ وَأُولَٰئِكَ أَصْحَابُ النَّارِ ۖ هُمْ فِيهَا خَالِدُونَ ﴿217﴾

يَسْأَلُونَكَ پوښتنه کوي دوی ستا نه(ای محمد صلی الله عليه و سلم)
عَنِ په باره کې الشَّهْرِ د مياشتې الْحَرَامِ حرامې(رجب المرجب)
قِتَالٍ د جنګ کولو فِيهِ ۖ په دې مياشت کې (چې روا دی که ناروا
؟ ) قُلْ (ورته) ووايه قِتَالٌ (چې)جنګ کول فِيهِ په دې مياشت
کې كَبِيرٌ ۖ لويه ګناه ده وَصَدٌّ او(د خلکو) منع کول عَنْ سَبِيلِ د
لارې(د دين) اللَّهِ د الله تعالى نه وَكُفْرٌ او کافر کيدل بِهِ په هغه
جل جلاله باندې(دالله تعالى نه انکار کول) وَالْمَسْجِدِ الْحَرَامِ (او
منع کول د خلکو)د مسجد الحرام نه وَإِخْرَاجُ او ويستل أَهْلِهِ د
اوسيدونکو د هغه(د حرم په حدودو کې داخل د مکې خلک) مِنْهُ د
هغه نه(د مکې نه) أَكْبَرُ د ټولو نه ډېره لويه ګناه ده عِنْدَ اللَّهِ ۚ په
نزد د الله تعالى او فتنه(د دين نه د خلکو اړول) وَالْفِتْنَةُ أَكْبَرُ (هم)

لويه ګناه ده مِنَ الْقَتْلِ ۗ د جنګ نه وَلَا يَزَالُونَ او دوی به د هغې
پورې يُقَاتِلُونَكُمْ جنګ کوي ستاسو سره حَتَّىٰ تر څو چې
يَرُدُّوكُمْ (بيرته) واړوي تاسو عَنْ دِينِكُمْ د دين د ستاسو نه(اسلام
نه بيرته کفر ته) إِنِ که چيرته اسْتَطَاعُوا ۚ د دوی وسه وشي
وَمَنْ او څوک يَرْتَدِدْ چې ګرځي (بيرته) مِنْكُمْ د ستاسو څخه
عَنْ دِينِهِ د دين خپل نه (د اسلام څخه کفر ته) فَيَمُتْ بيا مړ کيږي
وَ په داسې حال کې هُوَ چې هغه كَافِرٌ کافر وي(د کفر په حالت
کې مړ شي) فَأُولَٰئِكَ نو دغه خلک حَبِطَتْ برباد شو (ضايع شو)
أَعْمَالُهُمْ (تير)عملونه د هغوی فِي الدُّنْيَا په دنيا کې وَالْآخِرَةِ ۖ او
په آخرت کې وَأُولَٰئِكَ او دغه خلک أَصْحَابُ النَّارِ ۖ دوزخيان
دي هُمْ دوی به فِيهَا په دې دوزخ کې خَا لِدُونَ هميشه وی.
﴿217﴾

إِنَّ الَّذِينَ آمَنُوا وَالَّذِينَ هَاجَرُوا وَجَاهَدُوا فِي سَبِيلِ اللَّهِ أُولَٰئِكَ يَرْجُونَ رَحْمَتَ اللَّهِ ۚ وَاللَّهُ غَفُورٌ رَحِيمٌ ﴿218﴾

إِنَّ بيشکه الَّذِينَ هغه خلک آمَنُوا چې ايمان يې راوړئ دی
وَالَّذِينَ او هغه خلک هَاجَرُوا چې هجرت يې کړئ دی(خپل
کورونه او وطن يې د الله تعالی د رضا دپاره پرايښي دي)
وَجَاهَدُوا او جهاد يې کړئ دی فِي سَبِيلِ په لار کې اللَّهِ د الله
تعالی أُولَٰئِكَ دغه خلک يَرْجُونَ دوی اميد لري(او مستحق دي
دوی) رَحْمَتَ د رحمت اللَّهِ ۚ د الله تعالی وَاللَّهُ او الله تعالی غَفُورٌ
ډير ببنونکئ رَحِيمٌ (او)ډېر مهربان دی.﴿218﴾

يَسْأَلُونَكَ عَنِ الْخَمْرِ وَالْمَيْسِرِ ۖ قُلْ فِيهِمَا إِثْمٌ كَبِيرٌ وَمَنَافِعُ لِلنَّاسِ وَإِثْمُهُمَا أَكْبَرُ مِنْ نَفْعِهِمَا ۗ وَيَسْأَلُونَكَ مَاذَا يُنْفِقُونَ قُلِ الْعَفْوَ ۗ كَذَٰلِكَ يُبَيِّنُ اللَّهُ لَكُمُ الْآيَاتِ لَعَلَّكُمْ تَتَفَكَّرُونَ ﴿219﴾

يَسْأَلُونَكَ پوښتنه کوي دوی ستانه(ای محمد صلی الله علیه وسلم) عَنِ په باره الْخَمْرِ د شرابو وَالْمَيْسِرِ ۖ او جوارئ کې قُلْ (ورته)ووایه فِيهِمَا په دې دواړو کې إِثْمٌ ګناه ده كَبِيرٌ لویه وَمَنَافِعُ او فایدې دي لِلنَّاسِ خلکو ته وَإِثْمُهُمَا او ګناه د دوی أَكْبَرُ ډېره زیاته ده مِنْ نَفْعِهِمَا ۗ د فایدې د هغوی نه وَيَسْأَلُونَكَ او دوی پوښتنه کوي ستا نه مَاذَا چې څه شی يُنْفِقُونَ مصرف کړي دوی(د الله تعالی په لار کې) قُلِ (ورته) ووایه الْعَفْوَ ۗ (هغه څه چې د دوی د ضرورت نه) زیات وي كَذَٰلِكَ همدارنګه يُبَيِّنُ بیانوي اللَّهُ الله تعالی لَكُمُ تاسوته الْآيَاتِ احکام لَعَلَّكُمْ د دې دپاره چې تاسو تَتَفَكَّرُونَ فکر وکړئ ﴿219﴾

فِي الدُّنْيَا وَالْآخِرَةِ ۗ د دنیا او آخرت په باره کې. وَيَسْأَلُونَكَ او پوښتنه کوي دوی ستا نه عَنِ په باره الْيَتَامَىٰ ۖ د یتیمانو کې قُلْ (ورته) ووایه إِصْلَاحٌ اصلاح کول(نیکې کول) لَهُمْ دوی ته(یتیمانو سره) خَيْرٌ ۖ بهتر دي وَإِنْ او که چیرته تُخَالِطُوهُمْ ګډوئ تاسو(شریک وسوئ د ځان سره) هُمْ هغوی(یتیمان) فَإِخْوَانُكُمْ ۚ نو هغوی ستاسو وړونه دي وَاللَّهُ او الله تعالی يَعْلَمُ پیژني الْمُفْسِدَ فساد کونکئ(چې په یتیم ظلم کوي) مِنَ (جدا) د الْمُصْلِحِ ۚ مصلح نه(چې د یتیم سره نیکې کوي ) وَلَوْ او که چیرته شَاءَ غوښتلای اللَّهُ الله تعالی لَأَعْنَتَكُمْ ۚ خامخا به ئې تاسو په مشقت(تکلیف) کې اچولي وئ إِنَّ بیشکه اللَّهَ الله تعالی عَزِيزٌ غالب حَكِيمٌ (او) د حکمت خاوند دی. ﴿220﴾

وَلَا تَنْكِحُوا الْمُشْرِكَاتِ حَتَّىٰ يُؤْمِنَّ ۚ وَلَأَمَةٌ مُؤْمِنَةٌ خَيْرٌ مِنْ مُشْرِكَةٍ وَلَوْ أَعْجَبَتْكُمْ ۗ وَلَا تُنْكِحُوا الْمُشْرِكِينَ حَتَّىٰ يُؤْمِنُوا ۚ وَلَعَبْدٌ مُؤْمِنٌ خَيْرٌ مِنْ مُشْرِكٍ وَلَوْ أَعْجَبَكُمْ ۗ أُولَٰئِكَ يَدْعُونَ إِلَى النَّارِ ۖ وَاللَّهُ يَدْعُو إِلَى الْجَنَّةِ وَالْمَغْفِرَةِ بِإِذْنِهِ ۖ وَيُبَيِّنُ آيَاتِهِ لِلنَّاسِ لَعَلَّهُمْ يَتَذَكَّرُونَ ﴿221﴾

وَلَا او مه کوئ تَنْكِحُوا نکاح تاسو الْمُشْرِكَاتِ د مشرکانو ښځو سره حَتَّىٰ تر هغې پورې يُؤْمِنَّ ۚ چه هغوی ایمان راوړي وَلَأَمَةٌ مُؤْمِنَةٌ او بیشکه چې: يوه مؤمنه وینځه خَيْرٌ بهتره ده مِنْ مُشْرِكَةٍ د یوې مشرکي ازادې ښځې نه(یعنی چې وینځه نه وي) وَلَوْ اګر که أَعْجَبَتْكُمْ ۗ هغه په تعجب کې واچوې تاسو(یعنی د هغې خایست،مال او دولت تاسو حیران کړي،خو بیا هم یوه مؤمنه وینځه ترې نه بهتره ده) وَلَا تُنْكِحُوا او مه نکاح کوئ تاسو(لورګانې او خورګانې) الْمُشْرِكِينَ مشرکانو سړیوو ته حَتَّىٰ تر هغې پورې يُؤْمِنُوا ۚ چې دوی ایمان راوړي وَلَعَبْدٌ مُؤْمِنٌ او بیشکه چې یو مؤمن غلام خَيْرٌ بهتر دی مِنْ مُشْرِكٍ د یو ازاد مشرک سړي نه(یعنی چې غلام نه وي) وَلَوْ اګر که أَعْجَبَكُمْ ۗ هغه په تعجب کې واچوي تاسو (یعنی د هغه مال،دولت،ځواني او خایست تاسو حیران کړي،خو بیا هم یو مؤمن غلام ترې نه بهتر دی) ځکه چې أُولَٰئِكَ دغه (مشرکان) يَدْعُونَ دعوت(بلنه) ورکوي دوی إِلَى النَّارِ ۖ اورته(د دوزخ) وَاللَّهُ او الله تعالی يَدْعُو دعوت(بلنه)ورکوي إِلَى الْجَنَّةِ جنت ته وَالْمَغْفِرَةِ او ښننې ته بِإِذْنِهِ ۖ په مهربانۍ سره د هغه جل جلاله وَيُبَيِّنُ او بیانوي آيَاتِهِ آیاتونه د هغه جل جلاله لِلنَّاسِ خلکو ته لَعَلَّهُمْ د دې دپاره چې هغوی يَتَذَكَّرُونَ نصیحت قبول کړي. ﴿221﴾

وَيَسْأَلُونَكَ عَنِ الْمَحِيضِ ۖ قُلْ هُوَ أَذًى فَاعْتَزِلُوا النِّسَاءَ فِي الْمَحِيضِ ۖ وَلَا تَقْرَبُوهُنَّ حَتَّىٰ يَطْهُرْنَ ۖ فَإِذَا تَطَهَّرْنَ فَأْتُوهُنَّ مِنْ حَيْثُ أَمَرَكُمُ اللَّهُ ۚ إِنَّ اللَّهَ يُحِبُّ التَّوَّابِينَ وَيُحِبُّ الْمُتَطَهِّرِينَ ﴿222﴾

وَيَسْأَلُونَكَ او پوښتنه کوي هغوی د ستا څخه(ای محمد صلی الله علیه وسلم) عَنِ په باره الْمَحِيضِ ۖ د حیض کې قُلْ ( ورته) ووایه هُوَ هغه(حیض) أَذًى یو تکلیف دی(د ښځو) فَاعْتَزِلُوا نو بیل شئ تاسو النِّسَاءَ د ښځو نه فِي الْمَحِيضِ ۖ په حیض کې وَلَا تَقْرَبُو او مه نیزدې کیږئ هُنَّ هغوی ته حَتَّىٰ د هغې پورې يَطْهُرْنَ ۖ چې پاکیږي دوی فَإِذَا نو کله چې تَطَهَّرْنَ پاک کړي دوی ځانونه فَأْتُو نو راځئ هُنَّ هغوی ته مِنْ حَيْثُ د کوم ځای نه أَمَرَ چې حکم کړئ دی كُمُ تاسو ته اللَّهُ ۚ الله تعالی إِنَّ اللَّهَ بیشکه الله تعالی يُحِبُّ خوښوي التَّوَّابِينَ توبه کوونکي وَيُحِبُّ او خوښوي الْمُتَطَهِّرِينَ ځان پاکوونکي. ﴿222﴾

نِسَاؤُكُمْ حَرْثٌ لَكُمْ فَأْتُوا حَرْثَكُمْ أَنَّىٰ شِئْتُمْ ۖ وَقَدِّمُوا لِأَنْفُسِكُمْ ۚ وَاتَّقُوا اللَّهَ وَاعْلَمُوا أَنَّكُمْ مُلَاقُوهُ ۗ وَبَشِّرِ الْمُؤْمِنِينَ ﴿223﴾

نِسَاؤُكُمْ ښځې ستاسو حَرْثٌ پټي دي لَكُمْ تاسو ته فَأْتُوا نو راځئ تاسو حَرْثَكُمْ پټیو خپلو ته أَنَّىٰ څنګه چې شِئْتُمْ ۖ خوښوئ تاسو وَقَدِّمُوا او مخکې ولیږئ تاسو لِأَنْفُسِكُمْ ۚ د خپلو ځانونو دپاره(نیک عمل) وَاتَّقُوا او ویریږئ تاسو اللَّهَ د الله تعالی نه وَاعْلَمُوا او پوه شئ تاسو أَنَّكُمْ چې بیشکه تاسو مُلَاقُوهُ ۗ ملاقات کوونکي یئ د هغه جل جلاله سره وَبَشِّرِ او زیری ورکړه(ای محمد صلی الله علیه وسلم) الْمُؤْمِنِينَ مؤمنانو ته (د جنت) ﴿223﴾

وَلَا تَجْعَلُوا اللَّهَ عُرْضَةً لِأَيْمَانِكُمْ أَنْ تَبَرُّوا وَتَتَّقُوا وَتُصْلِحُوا بَيْنَ النَّاسِ ۗ
وَاللَّهُ سَمِيعٌ عَلِيمٌ ﴿224﴾

وَلَا تَجْعَلُوا او مه جوړوئ تاسو اللَّهَ الله تعالى عُرْضَةً
نښه(هدف) لِأَيْمَانِكُمْ قسمونو ستاسو ته(د الله په نوم داسې قسمونه
مه کوئ) أَنْ چې (نه به) تَبَرُّوا نيکې کوئ وَ او (نه به)
تَتَّقُوا پرهيزګاري کوئ وَ او(نه به) تُصْلِحُوا صلحه(او
روغه)کوئ بَيْنَ په منځ النَّاسِ ۗ د انسانانو کې(په قسمونو باندې
ځان د نيکی کولو نه مه منع کوئ،او د داسې قسمونو ماتول واجب
دي ،کفاره به ورکوي،يا به لس مسکينانو ته خواړه،يا کالي
ورکوي،يا به يو غلام ازادوي يا به درې روژې نيسي سورةمائده آيت ٨٩
وَاللَّهُ او الله تعالى سَمِيعٌ ښه اوريدونکئ عَلِيمٌ (او) ښه عالم
دی.(چې آيا تاسو د زړه د کومې او ارادې په بناء قسمونه خورئ او
که هسې بې ارادې د تکيه کلام او عادت په وجه مو د خولې نه
وځې) ﴿224﴾

لَا يُؤَاخِذُكُمُ اللَّهُ بِاللَّغْوِ فِي أَيْمَانِكُمْ وَلَٰكِنْ يُؤَاخِذُكُمْ بِمَا كَسَبَتْ قُلُوبُكُمْ ۗ
وَاللَّهُ غَفُورٌ حَلِيمٌ ﴿225﴾

لَا يُؤَاخِذُكُمُ نه نيسي تاسو اللَّهُ الله تعالى بِاللَّغْوِ په لغوه سره(چې
اراده نه وي) فِي أَيْمَانِكُمْ په قسمونو کې ستاسو (يعنى چې قصداً د
زړه د کومې څخه قسمونه نه خورئ) وَلَٰكِنْ او ليکن يُؤَاخِذُكُمْ
هغه جل جلاله نيسي تاسو بِمَا په هغو قسمونو كَسَبَتْ چې اراده
يې کړې وي قُلُوبُكُمْ ۗ زړونو ستاسو(يعنى کوم قسمونه چې قصداً
د ارادې او د زړه د کومې څخه خورئ نو په دې قسمونو مو الله

تعالى رانيسي او پوښتنه درڅخه كوي) وَاللَّهُ او الله تعالى غَفُورٌ ښه ښبونكئ حَلِيمٌ او ښه تحمل كونكئ دى. ﴿225﴾

لِلَّذِينَ يُؤْلُونَ مِنْ نِسَائِهِمْ تَرَبُّصُ أَرْبَعَةِ أَشْهُرٍ ۖ فَإِنْ فَاءُوا فَإِنَّ اللَّهَ غَفُورٌ رَحِيمٌ ﴿226﴾

د جاهليت د زمانې څخه دا رواج پاتې وو چې ځينو خلكو به د خپلو ښځو نه داسې قسمونه كول چې:زه به نور تاته ټول عمر يا كال يا دوه كاله نه در نيژدې كيږم نو بيا به نه په خپله ورنيژدې كيدلو او نه به ئې طلاق وركولو چې د بل چا سره نكاح وكړي،نو الله تعالى قانون راوليږلو چې:

لِلَّذِينَ هغې خلكو ته يُؤْلُونَ چې قسمونه كوي هغوى مِنْ نِسَائِهِمْ د ښځو خپلو نه تَرَبُّصُ (دوى ته) مهلت دى أَرْبَعَةِ څلور أَشْهُرٍ ۖ مياشتې(يعنى دې خلكو ته څلور مياشتې وخت وركول كيږي) فَإِنْ نو كه چيرته(د څلور مياشتو پورې ) فَاءُوا رجوع وكړي دوى(د خپلو ښځو سره نيژدې شي) فَإِنَّ نو بيشكه اللَّهَ الله تعالى غَفُورٌ ښه ښبونكئ رَحِيمٌ (او)ښه مهربان دى ﴿226﴾

وَإِنْ عَزَمُوا الطَّلَاقَ فَإِنَّ اللَّهَ سَمِيعٌ عَلِيمٌ ﴿227﴾

مګر كه چيرته نارينه د څلور مياشتو نه مخكې او يا كه څلور مياشتې پوره شي او د ښځو سره نيژدې نشي،نور نو ټول عمر يې په دې ځوړند حالت كې نشي ساتلاى،مجبور دى يا به پخپله ورسره نيژدې كيږي او يا به طلاق او ازادې وركوي چې د بل چا سره نكاح وكړي،تر څو چې په ښځو ظلم ونه شي،او كه نارينه يوه خبره هم نه مني،نه په خپله ورنيژدي كيږي او نه طلاق وركوي نو په دې صورت كې به قاضي نارينه مجبوروي چه يو خبره حتماً ومني،او

که بیا هم یوه خبره نه مني نو بیا به قاضي د دواړو تر منځ په طلاق سره جدایي راولي د دې دپاره چې په ښځه ظلم ونه شي.

وَإِنْ او که چیرته عَزَمُوا قصد(او اراده) کوي دوی الطَّلَاقَ د طلاق(ورکولو) فَإِنَّ نو بیشکه اللَّهَ الله تعالی سَمِيعٌ ښه اوریونکئ عَلِيمٌ (او) ښه پوه دی. ﴿227﴾

وَالْمُطَلَّقَاتُ يَتَرَبَّصْنَ بِأَنْفُسِهِنَّ ثَلَاثَةَ قُرُوءٍ ۚ وَلَا يَحِلُّ لَهُنَّ أَنْ يَكْتُمْنَ مَا خَلَقَ اللَّهُ فِي أَرْحَامِهِنَّ إِنْ كُنَّ يُؤْمِنَّ بِاللَّهِ وَالْيَوْمِ الْآخِرِ ۚ وَبُعُولَتُهُنَّ أَحَقُّ بِرَدِّهِنَّ فِي ذَٰلِكَ إِنْ أَرَادُوا إِصْلَاحًا ۚ وَلَهُنَّ مِثْلُ الَّذِي عَلَيْهِنَّ بِالْمَعْرُوفِ ۚ وَلِلرِّجَالِ عَلَيْهِنَّ دَرَجَةٌ ۗ وَاللَّهُ عَزِيزٌ حَكِيمٌ ﴿228﴾

وَالْمُطَلَّقَاتُ او طلاقي شوي ښځي يَتَرَبَّصْنَ باید انتظار وکړي بِأَنْفُسِهِنَّ په خپلو ځانونو باندې(په خپلو ځانونو باندې تیر کړي) ثَلَاثَةَ درې قُرُوءٍ ۚ حیضه (یعنی چې پوره درې حیضه یا درې میاشتنی مریضی وربانديې تیري شي. دې مودې ته «عدت» وایي،او ترڅو چې دا موده یا عدت وربانديې تیر نشي ،د بل چا سره نکاح نشي کولای،دا موده یا عدت د هغو ښځو دپاره دی چې د نکاح نه وروسته یې د خاوندانو سره شرعي صحبت کړئ وي،ځکه چې معلومه شي چې ښځه خو به د مخکیني خاوند د اولاد مور نه جوړیږي،او په ښځه فرض ده چې که د مخکیني خاوند ښځه مور جوړیدو والا وي باید چې ښکاره یې کړي.او هغه ښځې چې د نکاح ښځه وروسته ورته د خاوندانو سره د شرعي صحبت نوبت نه وي ورسیدلای نو د دوی دپاره «عدت» نشته دی. وَلَا يَحِلُّ او نه ده روا لَهُنَّ دوی ته(دې ښځو ته) أَنْ چې يَكْتُمْنَ پټوي دوی مَا هغه شی خَلَقَ چې پیدا کړئ دی اللَّهُ الله تعالی فِي أَرْحَامِهِنَّ په

رحمونو د هغوی کې إِنْ که چیرته كُنَّ يُؤْمِنَّ ایمان لري دوی
بِاللَّهِ په الله تعالی وَالْيَوْمِ او په ورځ الْآخِرِ ۚ د آخرت سره
وَبُعُولَتُهُنَّ او خاوندان د دوی أَحَقُّ حق لري بِرَدِّهِنَّ (په خپله
نکاح کې)د بیا راوستلو د هغوی فِي ذَٰلِكَ په دغه (د عدت په دوران
کې) إِنْ (په دې شرط) که چیرته أَرَادُوا د دوی اراده(د
خاوندانو) إِصْلَاحًا ۚ د اصلاح(او اړیکو د سمولو وي) وَلَهُنَّ او د
هغوی (ښځو) دپاره ( حقونه دي په خاوندانو باندې) مِثْلُ په شان
الَّذِي د هغې(حقونو) عَلَيْهِنَّ چې په دوی دی،(د خاوندانو دپاره)
بِالْمَعْرُوفِ ۚ د دستور مطابق وَلِلرِّجَالِ اود سړیو دپاره شته دی
عَلَيْهِنَّ په ښځو باندې دَرَجَةٌ ۗ یوه درجه(مرتبه) وَاللَّهُ او الله
تعالی عَزِيزٌ ډېر غالب حَكِيمٌ (او)ښه حکمت والا دی. ﴿228﴾

الطَّلَاقُ مَرَّتَانِ ۖ فَإِمْسَاكٌ بِمَعْرُوفٍ أَوْ تَسْرِيحٌ بِإِحْسَانٍ ۗ وَلَا يَحِلُّ لَكُمْ أَنْ
تَأْخُذُوا مِمَّا آتَيْتُمُوهُنَّ شَيْئًا إِلَّا أَنْ يَخَافَا أَلَّا يُقِيمَا حُدُودَ اللَّهِ ۖ فَإِنْ خِفْتُمْ أَلَّا
يُقِيمَا حُدُودَ اللَّهِ فَلَا جُنَاحَ عَلَيْهِمَا فِيمَا افْتَدَتْ بِهِ ۗ تِلْكَ حُدُودُ اللَّهِ فَلَا
تَعْتَدُوهَا ۚ وَمَنْ يَتَعَدَّ حُدُودَ اللَّهِ فَأُولَٰئِكَ هُمُ الظَّالِمُونَ ﴿229﴾

د جهالت په زمانه کې او د اسلام په اولو وختونو کې داسې وو چې:
خاوندانو به خپلو ښځو ته ډېر زیات طلاقونه ورکول داسې چې:یو
طلاق به یې ورکړو خو د عدت د مودې د خلاصیدو نه به ئې
مخکې رجوع وکړه،(رجوع د خاوند او ښځې شرعي نیزدې کیدلو
ته وایي،د عدت په موده کې) طلاق به ختم شو، خو څه وخت
وروسته به یې بیا طلاق ورکولو او د عدت د مودې د ختمیدو نه به
یې مخکې بیا رجوع کوله او په دې ترتیب به یې ښځې
ځورولې،یعنی نه به یې ازادولې چې د بل چا سره نکاح وکړي او

نه به یې پخپله ښځې کولي.مګر قرآن دا ظالمانه رواج ختم کړو،او خاوندانو ته یې په ټول عمر کې صرف د درې ځله طلاق ورکولو حق ورکړو،چې د دې جملې څخه اول ځل او دوهم ځل طلاق ورکول رجعي دي یعني د طلاق ورکولو نه وروسته د عدت په موده کې چې درې حیضه یا تقریباً درې میاشتې دي،خاوند کولاى شي چې پرته دنکاح اومهر څخه خپلې ښځې ته رجوع وکړي یعنی شرعي صحبت سره وکړي،او شریک ژوند ته دوام ورکړي.او یا خاوند کولاى شي چې د عدت په موده کې ښځې ته رجوع ونه کړي،نو په دې صورت کې د عدت په تیریدو سره نوره ښځه د خاوند د نکاح نه ووته،ازاده شوه،خو بیا هم په اول ځل طلاق ورکولو کې فایده دا ده چې اوس هم د خاوند او ښځې دپاره دا چانس او موقع شته دی چې بیا نوی مهر او نوي نکاح وتړي خو په دې شرط چې د ښځې خوښه او رضا وي.او یا لکه مخکې چې مو ذکر کړل،که چیرته خاوند د عدت په موده کې یعنی د درې حیضونو په داخل کې رجوع وکړي،او خپل شریک ژوند ته دوام ورکړي،نو اوس د خاوند سره صرف د دوه طلاقو حق پاتي شو یعنی د دې نه وروسته نور په ټول عمر کې صرف د دوه طلاقو ورکولو حق لري.

دوهم طلاق ورکول.

پاس ذکر شوئ مثال کلک په پام کې ونیسئ.فرضاً که ذکر شوي خاوند او ښځه چې د اول طلاق څخه وروسته یا یې بیا د سره نوي نکاح وکړه ،او یا د عدت د مودې په داخل کې خاوند رجوع وکړه،سره راضي او خوشاله شول او شریک ژوند ته یې سره دوام ورکړو ،خوشاله ژوند یې سره تیرولو خو د وخت په تیریدلو سره

بیا وران شول روزمره جنګونه او اختلافات په کې پیداشول،تر دې پورې چې خبره یې بیا طلاق ته ورسیده،اوس خاوند بیا د دوهم ځل دپاره بل طلاق ورکړو،خو دا ځل هم لکه د اول طلاق په شان خاوند حق لري چې د عدت په موده کې یعنی د درې حیضونو په دوران کې کولای شي چې خپلې ښځې ته پرته د بیا نکاح کولو څخه رجوع وکړي او شرعي صحبت سره وکړي،او خپل شریک ژوند ته دوام ورکړي.او که رجوع ونه کړي نو د عدت د تیریدو وروسته ته طلاق واقع کیږي ،ښځه یې د نکاح نه وځې،خو دا ځل هم که د دواړو خوښه وي تازه مهر او نکاح کولئ شي، لیکن اوس خاوند د یو بل طلاق حق هم د لاسه ورکړو،یعنی د درې طلاقونو د جملې څخه یې دوه استعمال کړل او صرف د یو طلاق د ورکولو حق ورته پاتې دی یعنی په پاتې ټول عمر کې نور فقط یو طلاق ورکولای شي.

دریم طلاق.

پورته مثال ته ادامه ورکوو،ذکر شول چې د دوهم طلاق ورکولو وروسته بیا هم سره خاوند او ښځه پخلا او راضي شول،شرعي صحبت او خوشاله ژوند سره کوي،خو د وخت په تیریدو سره یې بیا په منځ کې اختلافات او جنګونه پیداشول ،اختلافات او جګړې دومره زیات شول چې خبره بیا طلاق ته ورسیده،اوبلاخره د دریم ځل دپاره یې بیا طلاق ورکړو،اوس نو د خاوند او ښځې دپاره ټولې دروازې بندې شوي،د دې نه وروسته نوره ښځه د خاوند د نکاح نه بالکل ووته،نور نو خاوند نه د رجوع کولو حق لري او نه بیا ورسره نکاح کولای شي،او د همیشه دپاره جدا شول ،اوس که چېرته بیا دواړه ښځه او خاوند پښیمانه شي او بیا سره یو ځای کول

وغواړي نو صرف يوه لار شته هغه دا چې: ښځه به د بل چا سره د دايمي او هميشه اوسيدلو په نيت واده کوي،نو که چيرته يې نوی خاوند مړشو او يا يې پخپله خوښه طلاقه کړه،نو بيا کولای شي چې د خپل اولني خاوند سره د عدت د تيريدلو څخه وروسته نکاح وکړي،او که داسې ونه کړي يعنی د بل چا سره په دې نيت واده وکړي چې د نوي خاوند سره يو څه وخت تير کړي او بيا يې نوی خاوند بيرته طلاقه کړي تر څو چې د اول خاوند سره بيرته نکاح وکړي، نو په دې صورت کې د اول خاوند دپاره نه حلاليږي،او شرعي صحبت يې په زنا کې حسابيږي.

که پورتنی معلومات په خلاصه ډول ذکر کړو داسې به وي چې: الله تعالی خاوندانو ته په ټول عمر کې خپلو ښځو ته د درې ځله طلاق ورکولو حق ورکړئ دی.چې اول ځل طلاق ورکول رجعي دي،خاوند حق لري چې د عدت په موده کې يا رجوع وکړي او يا يې ونکړي،که رجوع يې ونه کړه،عدت تيرشو،نو ښځه نوره د خاوند د نکاح نه ووته ازاده شوه،نوره يي خپله خوښه ده چې د اولني خاوند سره نکاح کوي او که د بل چا سره. او که خاوند د عدت په وخت کې رجوع وکړه ، نو ښځه پرته د نوي نکاح او مهر څخه د خاوند په نکاح کې پاتي شوه خو خاوند د طلاق ورکولو يو حق د لاسه ورکړو.خو که بيا يې همدې ښځې ته د دوهم ځل دپاره طلاق ورکړو،نو د اول ځل په شان که د عدت په موده کې يې رجوع ونه کړه ښځه يي د نکاح نه وځي،او د نکاح نه د وتلو نه وروسته د ښځې خوښه ده چې د اول خاوند سره نکاح کوي او که د بل چا سره. او که رجوع يې وکړه ښځه يې په نکاح کې پاتي کيږي،نو په دواړو صورتونو کې که رجوع وشوه او که نوي نکاح ، خو خاوند د طلاق ورکولو دوه حقونه يې دلاسه ورکړل اوس په

ټول عمر کې صرف يو طلاق ورکولای شي. او که همدې ښځې ته د دريم ځل دپاره طلاق ورکړي ،نور نو ښځه يې د نکاح نه ووته او ده ته نه د رجوع حق شته او نه د بيا نکاح کولو،تر څو چې د هميشه اوسيدلو په نيت بل خاوند سره نکاح ونکړي،او هغه ئې پخپله خوښه طلاقه نه کړي.

د طلاق ورکولو فايدې او ګټې :

الله تعالی حکيم دی،په هر کار کې د الله تعالی حکمت دی،ظاهراً داسې معلوميږي چې په طلاق ورکولو کې د انسانانو ضرر او نقصان دی،مګر حقيقت بالکل د دې برعکس دی. پوهيږو چې د اکثره ښځو او خاوندانو تر منځ اختلافات،جنګ او جګړې پيدا کيږي،چې کله کله خو دومره شدت اختياروي چې يو زندان او بل قبر ته ځي،او يا ټول عمر هره ورځ وړې او غټې ناندرۍ ،خفګان او کله-کله جنګ هم وي،چې بلآخره د اولادونو په تربيه او اخلاقي شخصيت باندې هم بد اثر کوي،د دې اختلافاتو سبب يا خاوند يا ښځه او يا دواړه دي چې د واده نه يې وروسته پيداکړي دي ځکه چې د واده نه مخکې خو دوی په خپله خوښه او خوشالۍ سره نکاح کړي وه، خو د واده نه وروسته يا خاوند يا ښځه او يا دواړه يو د بل د حقونو د خيال د نه ساتلو په سبب يو د بل نه خفه او متنفر شو،او يو د بل د خبرو او رنګ ليدلو څخه نفرت کوي،چې کله کله يې ډېرې بدې او خطرناکې نتيجې منځ ته راځې،نو د داسې اختلافاتو دپاره بهترين علاج دا دی چې دا ښځه او خاوند سره د يو وخت پورې جدا شي،ترڅو چې يو د بل په قدر پوه شي،د يو څه وخت په جداکولو کيدای شي چې دوی ته يو د بل په باره کې د ازاد فکر وهلو فرصت او وخت پلاس ورشي،کيدای شي چې دوستان ،مشران

او پوه خلک مداخله وکړي او دواړو ته خپلي غلطۍ ورپه ګوته کړي،نصیحت ورته وکړي او دواړه ځانونه اصلاح کړي، کیدای شي چې پخوانۍ دوستي او مینه دوباره ورپه یاد شي،یو د بل په مثبت شیانو باندې فکر وکړي،کیدای شي چې په دې پوه شي چې دوی دواړه یو د بل دپاره څومره ضرور دي؟ او آیا یو د بل نه په غیر ګذاره کولای شي او که نه؟ او که کولای شي نو هغه ژوند به د دي ژوند په مقایسه څنګه وي؟د اولادونو به څه کیږي و غیره-وغیره یعنی هم په سړه سینه د فکر کولو وخت په لاس ورځې او هم یو د بل څخه د بیلیدلو عملي تجربه ګوري.نو کیدای شي چې په یخو مغزو د فکر کولو او یو د بل نه د بیلیدلو د تجربې په نتیجه کې دواړه خپل ځانونه اصلاح کړي،خویونه بدل کړي،یو د بل د حقونو خیال وساتي،اختلافات یې ختم شي،او خفګان یې په خوشالۍ بدل شي،چې داسې کول صرف او فقط په اول ځل طلاق ورکولو کې ممکن دي،ځکه چې په اول ځل طلاق ورکولو کې د درې حیضونو یا تقریباً درې میاشتې وخت ورکول کیږي،چې په دې موده کې هم ښه سوچ او فکر کیږي او هم پوره تجربه اخستل کیږې.نو که اصلاح او روغه جوړه اورجوع وشوه،خفګان په خوشالۍ بدل شو خو زر یا وروسته د وخت په تیریدو سره بیا د پخوا په شان اختلافات او جنګونه شروع شول،پلار خفه،مور خفه اولاد خفه نو دوی ته یو ځل بیا د پخوا پشان درس ورکول ضرور دي تر څو چې کور یې د ورانیدو او اولادونه یې د کوڅو نه بچ شي نو داسې کول صرف د دوهم ځل طلاق ورکولو په واسطه ممکن دي ځکه چې په دوهم ځل طلاقو کې هم د عدت موده تقریباً درې میاشتې یا درې حیضونه دي چې د سوچ او فکر،نصیحت او د عقل د استعمالولو دپاره پوره وخت دی کیدای شي چې رجوع وکړي،نو که دا ځل هم

اصلاح راغله ،خاوند رجوع وکړه،او شریک ژوند بیرته شروع شو،لیکن که د دې نه وروسته بیا لکه د پخوا په شان مخالفتونه او جنگونه شروع شي نور نو دوی قابل د اصلاح نه دي،او د دوی یوځای اوسیدل یوازې دا نه چې ښځې او خاوند ته خطرناک او ژوند یې په عذاب کې دی بلکې د اولادنو او ټولني دپاره هم خطر دی،نو دوی دواړه باید نور سره جدا شي تر څو چې د ډېر لوی خطر مخنیوئ وشي چې دا کار صرف د دریم ځل طلاق ورکولو پواسطه ممکن دی ځکه چه د دریم ځل طلاقو ورکولو نه وروسته نه د رجوع حق شته او نه بیا پرته د بل چا سره د نکاح کولو نه مخکې سره نکاح کولای شي .که په لنډ ووایو د قرآنکریم اوسنتو مطابق د طلاق ورکولو پواسطه د ښځو او خاوندانو په منځ کې اصلاح او روغه جوړه راځې او په اینده کې د خطرناکو عواقبو او نتایجو مخنیوئ کیږي.

<u>په اول ځل او دوهم ځل طلاق ورکولو کې د عدت فایده.</u>

په اول ځل او دوهم ځل طلاق ورکولو کې د درې حیضونو موده یا د عدت یوه فایده دا ده چې الله تعالی خپل بنده ته وخت او مهلت ورکوي چې د خپل آینده ژوند او اولادونو وغیره په باره کې ښه فکر او سوچ وکړي،د عقل نه کار واخلي،په غصه او عصبي ټینشن کې باید نه وي،بلکې په یخو مغزو او د پوره عقل نه باید کار واخلي.ځکه چې که ښه خواږه ښځه او خاوند وي او ناڅاپي د دواړو تر منځ داسې کومه خبره راشي چې غوصه شي او خاوند په غوصه کې ښځې ته طلاق ورکړي،خو کله یې چه غوصه سړه شي سمدستي پښیمانه شي او وایې چې ښه کار مې ونکړو،نو که د عدت موده نه وه نو خاوند خو بیا ښځې ته رجوع نشوه کولای او طلاق به

واقع شوئ وو،خو د عدت د موديې په داخل کې هر وخت کولای
شي چې د ښه سوچ او فکر نه وروسته پرته د نکاح او مهر ښځه
خپلې ښځې ته رجوع وکړي او د پخوا په شان خپل ژوند ته دوام
ورکړي.

الطَّلَاقُ (رجعي) طلاق مَرَّتَانِ دوه ځله دي: په مرّتان کې اشاره
دوه عددو او دوه زمانو ته ده،يعنی رجعي طلاق چې خاوند په کې د
عدت په موده کې رجوع کولای شي صرف دوه ځله په جدا-جدا
وختونو کې ورکولای شي،داسې نه شي کولای چې په يوخت ،يو
ځای او يو مجلس کې دوه طلاقه ورکړي،دا طريقه غلطه ده ځکه
چې د قرآنکريم او سنتو خلاف طريقه ده.او د دې مبارک آيت نه دا
خبره هيڅکله نه معلوميږي چې که څوک په يو ځل دوه طلاقه
ورکړي،دواړه واقع کيږي.

د درې طلاقو مسئله:

الله تعالی دا خبره خوښوي چې د ښځې او خاوند رشته دې د مينې او
محبت په فضاء کې د هميشه دپاره پاتې وي.او که ځينې مؤقتي
اختلافات پيدا شي نو د هغې د لرې کولو کوشش دې وشي.د دې
دپاره الله تعالی يو د بل پسې په جدا-جدا وختو کې د درې طلاقو
مهلت ورکړو،تر څو چې انسان ته په وار-وار په سړه سينه د فکر
او سوچ کولو موقع او فرصت پيدا شي،دوستان او مشران مداخله او
نصيحت وکړي تر څو چې مؤقتي اختلافات ختم شي،او خاوند ښځې
ته رجوع وکړي،نو که چيرته په اول ځل طلاق ورکولو سره
خاوندانو ته د وخت ورکولو،په سړه سينه د فکر او سوچ کولو ، د
غصې ښخه عادي او نارمل حالت ته د راګرزيدلو او د رجوع کولو
مخه ونيول شي او طلاق واقع شي،نو بيا خو به په طلاق کې دا لوی

الَهي حکمت او مقصد ختم شي،او ډېرې کورنۍ به تباه شي،او ډېر بچي به د هلاکت په لار روان شي،او د ډېرو بي ګناه ښځو په ژوند به اور صرف په دې سبب و لږېږي چې:د هغې خاوند په مؤقتي توګه په غوصه شوئ وو،او درې کرته یې د طلاق کلمه د خولې نه وتلي وه.نو په دې سبب د شریعت مصلحت دا دی چې: د یو سړي دپاره چې د قرآنکریم خلاف درې طلاقه په یو ځل په یو مجلس کې ورکوي ،شریعت ئې په یو حسابوي ،ځکه چې د قرآنکریم او سنتو په رڼا کې د طلاقو ورکولو قانون او طریقه داسې ده چې: خاوند ښځې ته په یو وخت او یو مجلس کې صرف یو طلاق ورکولای شي،نو که یو سړی په یو وخت او یو مجلس کې درې طلاقه ورکړي،نو دا خو سړي د الله تعالی د حکم او هدایت مخالف کار وکړو،د دې مثال داسې دی لکه چې د قرآنکریم او سنتو په رڼا کې پینځه لمونځونه په پینځه جُدا -جدا یا بیلو-بیلو وختونو کې فرض دی،لیکن که یو سړی ټول پینځه لمونځونه په یو وخت کې وکړي،نو دا لمونځونه خو د قرآن او سنتو په رڼا کې نه قبلیږي،او که قبلیږي هم ،صرف یولمونځ به قبلیږي د کوم چې د کولو وخت وي،دا ځکه نه قبلیږي چې داسې کول د قرآن او سنتو خلاف کار دی،همدارنګه درې طلاق په یو وخت ورکول هم د قرآن د احکامو او هدایت خلاف کار دی،دا چې د الله تعالی د احکامو خلاف څوک طلاق ورکوي، د دې به بیله جزا هغه چاته الله ورکړي،څوک چې د الله تعالی د احکامو خلاف عمل کوي،ځکه چې د عدت په دوران کې دوهم طلاق نه ورکول کیږي،حال دا چې کله د سړي د خولې څخه د طلاق لفظ ووځي سمدستي په هماغه لحظه کې عدت شروع کیږي،او په عدت کې دوهم او دریم طلاق نه ورکول کیږي یعنی د اول طلاق د لفظ د ویلو سره سمدستي عدت شروع کیږي،او په

عدت کې بل طلاق نه ورکول کيږي ، نعوذبالله الله تعالی ظالم نه دی،عادل دی، يو د بل په ګناه نه نيسي،هم هغه ته جزا ورکوي چا چې ګناه کړي وي،د خاوند په ګناه او د غلطئ په سبب د وړو بي ګناه ماشومانو او تورسرو کورونه ورانول نه غواړي،بلکې الله تعالی د خپلو بنده ګانو کورونه جوړول غواړي. فلهذا د قرآنکريم نه د يو بی خبره انسان په يو وخت او يو مجلس کې درې طلاقه ورکول دا خو د قرآنکريم د حکم خلاف عمل دی، ځکه چې درې طلاقه په يو وخت ورکول په قرآن او سنتو کې نشته دی ،او دا خبره د الله تعالی د سنتو خلاف ده چې نعوذباالله الله تعالی دې د قرآنکريم نه د يو بي خبره انسان غيري شرعي خبره ومني،او خپل الَهي قانون دې ورته مات کړي.ځکه چې قرآن فرمايي: لَا تَبْدِيلَ لِكَلِمَاتِ اللَّهِ ۚ د الله تعالی خبرې نشي بدليدلئ(سورةاليونوس نو د طلاق آيت(۶۴) اوپه سورةالاحزاب کې فرمايي: وَلَنْ تَجِدَ لِسُنَّةِ اللَّهِ تَبْدِيلًا ﴿62﴾ او ته به د الله تعالی په کړنلاره کې هيڅ تبديلي ونه مومې.او همدارنګه الله تعالی په خپلو بندګانو باندې اسانتيا راوستل غواړي سختي راوستل پرې نه غواړي (يُرِيدُ اللَّهُ بِكُمُ الْيُسْرَ وَلَا يُرِيدُ بِكُمُ الْعُسْرَ) (سورةالبقره:۱۸۵).نو د طلاق احکام الله تعالی په خپلو بنګانو باندې د اسانتيا راوستلو دپاره نازل کړي دي،چې په کورونو کې يې اختلافات ختم شي او خوشاله ژوند وکړي،نه د دې دپاره چې اولادونه په يوه شي،مور په بله او پلار په عصبي تکليف اخته شي.

نبي عليه سلام ته دچا باره کې خبر ورکول شو چه فلانکي سړي خپلې ښځې ته په يو ځل درې طلاقه ورکړي دي،نو پيغمبر عليه سلام په غصه شو، ودريدو،او وئې فرمايل چې:د الله تعالی د کتاب سره لوبې کيږي،حال دا چې زه ستاسو په منځ کې موجود يم،په دې

کې يو سړی ودريدو او وئې ويل چې:ای د الله رسوله آيا زه دا سړی و نه وژنم؟(النسائي كتابالطلاق ص ٩٨ جلد٢ )

امام احمد رحمت الله عليه د ابن عباس رضی الله عنهما نه روايت کړئ چې:رکانه بن عبد يزيد خپلي ښځې ته په يو ځل په يو مجلس کې درې طلاقونه ورکړل،خو ورسته ډېر خفه او غمجن شو،نو رسول الله صلی الله عليه وسلم ترې پوښتنه وکړه چې تا څنګه طلاق ورکړئ دی؟هغه وويل چې په يو ځل مې درې طلاقه ورکړي دي،نبي صلی الله عليه وسلام ترې نه پوښتنه وکړه چې آيا په يو مجلس کې دې ورکړي دي؟هغه وويل چې هو. نو نبي صلی الله عليه وسلم وفرمايل چې دا ټول په يو طلاق شمارل کيږي،که غواړې نو رجوع وکړه،نو هغه رجوع وکړه.(صحيح ابي داود—حكمت القران)

امام مسلم د ابن عباس رضی الله عنهما نه روايت کوي چې:د نبي صلی الله عليه وسلم او ابوبکر رضی الله عنه په دور يا وخت کې او د عمر فاروق رضی الله عنه د خلافت په ابتدائي دوه کلونو کې به درې طلاقه يو منل کيدل،----عمر فاروق رضی الله عنه د خپل خلافت په دور کې وليدل چې خلکو ډېر زيات طلاق ورکول شروع کړي دي،نو وئې ويل چې خلکو په دې معامله کې د چالاکۍ نه کار اخستل شروع کړي دي،په دې سبب به مونږ درې طلاقه درې نافذ کوو،نو هغوی نافذ کړل.بايد ووايو چې د طلاق مسئله کې د علماوو اختلاف دی،خو د افسوس خبره ده چې: قرآنکريم زمونږ په منځ کې موجود دی ليکن بيا هم مونږ په داسې مسائلو کې اختلاف کوو،چې په قرآنکريم کې د لمر غوندې واضحه او روښانه دي،نو که مونږ په قرآنکريم باندې ځانونه پوه کړو او قرآن ته مراجعه وکړو،نو په قرآن کې خو د طلاق مسئله ډېره واضحه ده،هيڅ شک او سوال

سړي ته نه پيدا کيږي،نو بيا خو ډيره د تعجب خبره ده چې: مونږ په دې مسئله کې ولې اختلاف کوو؟

فَإِمْسَاكٌ نو(د رجعي طلاقو يا د اول يا دوهم ځل د طلاقو ورکولو نه وروسته) يا ساتل دي د ښځې

بِمَعْرُوفٍ په ښايسته طريقه سره (يا به يې د ځان سره ساتې،رجوع به ورته کوي،او ښه ژوند به ورسره تيروې) أَوْتَسْرِيحٌ يا پريښودل دي د ښځې بِإِحْسَانٍ په ښايسته طريقه (حق به ئې نه خوري،ضرر به ورته نه رسوي،د جداکيدلو نه وروسته به يې بدي نه وايې او د خلکو نفرت به ترې نه پيدا کوی) وَلَا او نه دي يَحِلُّ رواه(حلال) لَكُمْ تاسو ته أَنْ چې تَأْخُذُوا اخلئ تاسو مِمَّا د هغه څه نه (لکه مهر،جوړې جامې او تحفې) آتَيْتُمُو چې ورکړې دي تاسو هُنَّ هغوي ته(ښځو ته) شَيْئًا يو شی(يعنی هيڅ يو شی ترې اخستلای نه شئ) إِلَّا مګر(اوس خطاب عامو خلکو مشرانو او قاضي ته دی،مګر په هغې صورت کې ترې يو شی اخستلای شي) أَنْ چې يَخَافَا ويريږي دوی(ښځه او خاوند) أَلَّا چې نشي يُقِيمَا ساتلای دوی(ښځه او خاوند) حُدُودَ حدود(احکام) اللَّهِ د الله تعالی(چې دوی ته دا ويره پيدا شي چې کوم حقوق چې شريعت ښځې او خاوند دپاره ټاکلي دي هغه نه شي ساتلای،او ښځه د خاوند د نکاح نه ازادول غواړي د دې دپاره چې د ګناه نه بچ شي،او تاسو تحقيق او لټه وکړئ او حقيقت درته معلوم شي،) فَإِنْ نو که چيرې خِفْتُمْ ويريږئ تاسو(ای خلکو يا د وخت قاضي يا ای د جرګې خلکو) أَلَّا چې نشي يُقِيمَا ساتلای دوی حُدُودَ حدود(احکام) اللَّهِ د الله تعالی فَلَا نو نشته جُنَاحَ ګناه عَلَيْهِمَا په دوی(ښځه او خاوند) باندې فِيمَا په هغې څه کې(مهر يا

مال) افْتَدَتْ چې فديه ورکړي(ښځه خاوند ته د نکاح نه د ځان د ازادولو په بدل کې) بِهِ ۗ په دغه(مال يا مهرسره يعنى چې قاضي يا مشران ښځه د يو څه مال په ورکولو خو چې د مهر څخه زيات نه وي،او خاوند د دې مال د اخستلو په مقابيل کې په طلاق ورکولو راضي کړي،نو په دې صورت کې ښځې ته د مال په ورکولو او خاوند ته يې په اخستلو کې ګناه نشته،دې ته خُلع وايې.) تِلْكَ دا حُدُودُ حدود(احکام) اللَّهِ د الله تعالى دي فَلَا نو مه کوئ تَعْتَدُو تيرئ(تجاوز) هَا ۚ د دې(حدودو)نه وَمَنْ او څوک چې يَتَعَدَّ تيرئ(تجاوز)کوي حُدُودَ د حدودو اللَّهِ د الله تعالى نه فَأُولَٰئِكَ نو دغه خلک هُمُ همدوى الظَّالِمُونَ ظالمان دي(په خپلو ځانونو باندې) ﴿229﴾

فَإِنْ طَلَّقَهَا فَلَا تَحِلُّ لَهُ مِنْ بَعْدُ حَتَّىٰ تَنْكِحَ زَوْجًا غَيْرَهُ ۗ فَإِنْ طَلَّقَهَا فَلَا جُنَاحَ عَلَيْهِمَا أَنْ يَتَرَاجَعَا إِنْ ظَنَّا أَنْ يُقِيمَا حُدُودَ اللَّهِ ۗ وَتِلْكَ حُدُودُ اللَّهِ يُبَيِّنُهَا لِقَوْمٍ يَعْلَمُونَ ﴿230﴾

فَإِنْ که چيري بيا طَلَّقَهَا هغه(خاوند دريم) طلاق ورکړو هغې ته(يعنى که چيرته خاوند د دوه ځله طلاق ورکولو نه وروسته د دريم ځل دپاره بيا ښځې ته طلاق ورکوي) فَلَا تَحِلُّ نو(په دې صورت کې) نه روا کيږي هغه(نه حلاليږي هغه ښځه) لَهُ هغه ته(خاوند ته) مِنْ بَعْدُ وروسته د(دريم ځل طلاق ورکولو نه ) حَتَّىٰ د هغې پورې تَنْكِحَ چې نکاح شي هغه(ښځه) زَوْجًا يو خاوند ته غَيْرَهُ ۗ پرته د هغه نه(يعنى د خپل اولني خاوند سره يې د هغې پورې دوباره نکاح نه کيږي د څو پورې چې پرته د مخکيني خاوند څخه د بل چا سره نکاح ونکړي) فَإِنْ بيا که چيرته طَلَّقَهَا

هغه(نوى خاوند) طلاق ورکړي هغې (ښځې)ته فَلَا نو نشته جُنَاحَ گناه عَلَيْهِمَا په دې دواړو(ښځې او خاوند باندې) أَنْ يَتَرَاجَعَا چې رجوع وکړي دوى يوبل ته(يعنى چې نکاح او شرعي صحبت سره وکړي) إِنْ (خو په دې شرط) که چيرته ظَنَّا دوى دواړه گمان کوي أَنْ يُقِيمَا چې وبه ساتي دوى حُدُودَ حکمونه اللَّهِ ۗ د الله تعالى(يعنى د ښځې او خاوند چې کوم حقوق شريعت مقرر کړي دي ،د هغې څخه به تيرئ او تجاوز نه کوي) وَتِلْكَ او دغه حُدُودُ حدود(احکام) اللَّهِ د الله تعالى دي يُبَيِّنُهَا (چې) هغه جلا جلاله بيانوي دغه احکام لِقَوْمٍ هغه قوم ته يَعْلَمُونَ چې هغو پوهيږي. ﴿230﴾

وَإِذَا طَلَّقْتُمُ النِّسَاءَ فَبَلَغْنَ أَجَلَهُنَّ فَأَمْسِكُوهُنَّ بِمَعْرُوفٍ أَوْ سَرِّحُوهُنَّ بِمَعْرُوفٍ ۚ وَلَا تُمْسِكُوهُنَّ ضِرَارًا لِتَعْتَدُوا ۚ وَمَنْ يَفْعَلْ ذَٰلِكَ فَقَدْ ظَلَمَ نَفْسَهُ ۚ وَلَا تَتَّخِذُوا آيَاتِ اللَّهِ هُزُوًا ۚ وَاذْكُرُوا نِعْمَتَ اللَّهِ عَلَيْكُمْ وَمَا أَنْزَلَ عَلَيْكُمْ مِنَ الْكِتَابِ وَالْحِكْمَةِ يَعِظُكُمْ بِهِ ۚ وَاتَّقُوا اللَّهَ وَاعْلَمُوا أَنَّ اللَّهَ بِكُلِّ شَيْءٍ عَلِيمٌ ﴿231﴾

وَإِذَا او کله چې طَلَّقْتُمُ تاسو طلاق ورکوئ (په اول ځل يا په دوهم ځل) النِّسَاءَ ښځو ته فَبَلَغْنَ بيا نيزدې شي هغوى(ښځې) أَجَلَهُنَّ خپلو مقررو مودو ته(د عدت يعنى درې حيضه يې نور په خلاصيدو وي) فَأَمْسِكُو نو يا ساتئ تاسو هُنَّ هغوى(ښځې) بِمَعْرُوفٍ په ښايسته طريقې سره(يعنى رجوع کوئ ، شرعي صحبت،او ښه خوشاله ژوند سره کوئ أَوْ يا سَرِّحُو پريږدئ تاسو هُنَّ هغوى(ښځې) بِمَعْرُوفٍ ۚ په ښاسته طريقې سره(يعنى

مهر،جوړې جامې او هغه تحفې چې تاسو ورکړې دي هغه به ترې
بیرته نه اخلئ،ضرر به ورته نه رسوئ،بدې خبرې به يې نه کوئ
او د خلکو نفرت به ترې نه پیدا کوئ) وَلَا تُمْسِكُو او مه
ساتئ(مه بندوئ،مه ایساروئ) تاسو هُنَّ هغوی ضِرَارًا دپاره د
ضرر رسولو(هغوی ته) لِتَعْتَدُوا ۚ د دې دپاره چې تاسو تیرئ(او
ظلم)پرې وکړئ(یعنی چې د خپلې غصې سړولو دپاره صرف د دې
دپاره ورته رجوع کوئ چې ویې ساتئ او ظلمونه پرې وکړئ او
خپل زړونه پرې یخ کړئ خو په رښتیا مو ورسره په زړه کې د
اوسیدلو اراده نه وي ) وَمَنْ او څوک چې يَفْعَلْ هغه کوي ذَٰلِكَ
دا(کار یعنی چې د دې دپاره ښځې ساتي چې ظلم پرې وکړي) فَقَدْ
نو یقیناً ظَلَمَ هغه ظلم کوي نَفْسَهُ ۚ په خپل ځان باندې(ځکه چې
الله تعالی به سخته جزا ورکړي) وَلَا تَتَّخِذُوا او مه نیسئ تاسو
آيَاتِ اللَّهِ آیاتونه(حکمونه) د الله تعالی هُزُوًا ۚ توقې(او سپک یعنی
د الله تعالی حکمونو ته په سپکه سترګه مه ګورئ) وَاذْكُرُوا او
یادوئ تاسو نِعْمَتَ اللَّهِ نعمت د الله تعالی عَلَيْكُمْ په تاسو باندې(د
اسلام دین) وَمَا او هغه أَنْزَلَ چې هغه جلا جلاله نازل کړې دي
عَلَيْكُمْ په تاسو باندې مِنَ الْكِتَابِ د کتاب(قرآنکریم) وَالْحِكْمَةِ او د
حکمت(سنتو)نه يَعِظُكُمْ هغه جلا جلاله نصیحت کوي تاسو ته
بِهِ ۚ په دغې (قرآنکریم او سنتو)سره وَاتَّقُوا او ویرېږئ تاسو اللَّهَ
د الله تعالی نه وَاعْلَمُوا او پوه شئ أَنَّ چې بیشکه اللَّهَ الله
تعالی بِكُلِّ شَيْءٍ په هر شي باندې عَلِيمٌ ښه پوه دی(که تاسو
په ښه نیت سره ښځو ته رجوع کوئ او که په بد نیت سره ،الله
تعالی ستاسو په نیتونو او ارادو باندې پوهیږي).﴿231﴾

وَإِذَا طَلَّقْتُمُ النِّسَاءَ فَبَلَغْنَ أَجَلَهُنَّ فَلَا تَعْضُلُوهُنَّ أَنْ يَنْكِحْنَ أَزْوَاجَهُنَّ إِذَا تَرَاضَوْا بَيْنَهُمْ بِالْمَعْرُوفِ ۗ ذَٰلِكَ يُوعَظُ بِهِ مَنْ كَانَ مِنْكُمْ يُؤْمِنُ بِاللَّهِ وَالْيَوْمِ الْآخِرِ ۗ ذَٰلِكُمْ أَزْكَىٰ لَكُمْ وَأَطْهَرُ ۗ وَاللَّهُ يَعْلَمُ وَأَنْتُمْ لَا تَعْلَمُونَ ﴿232﴾

وَإِذَا او هر كله چې طَلَّقْتُمُ طلاق ورکړئ تاسو(په اول یا دوهم ځل) النِّسَاءَ ښځو ته فَبَلَغْنَ او ورسيږي هغوی أَجَلَهُنَّ ټاکلې مودې (دعدت )د هغوی ته(یعنی چې درې حیضونه وربانديې تیر شي،او خاوند ورته رجوع او شرعي صحبت ورسره ونه کړي،نور نو طلاق واقع شو،نکاح ماته شوه،یعنی ښځه د خاوند د نکاح څخه ووته او بالکل ازاده شوه،خو دا بهتر طلاق دی،ځکه چې اوس هم د دواړو ښځې او خاوند دپاره چانس شته دی،که چیرته دواړه سره جوړ او راضي شي او وغواړي چې بیرته سره یو ځای شي،نو کولای شي چې بیا نوی مهر ورکړي او نوی نکاح وکړي،نو که چیري دوی دوباره نکاح کول غواړي فَلَا تَعْضُلُو نو مه منع کوئ تاسو هُنَّ هغوی(خطاب د ښځې ولي ته دی) أَنْ چې يَنْكِحْنَ نکاح کوي هغوی أَزْوَاجَهُنَّ د خپلوخاوندانو د سره(د خپلو هغو خاندانو سره چې دوی يې طلاقي کړي دي نو تاسو يې د هغوی سره د دوباره نکاح کولو څخه مه منع کوئ إِذَا كله چې تَرَاضَوْا راضي وي دوی بَيْنَهُمْ په خپلو منځونو کې بِالْمَعْرُوفِ ۗ په ښه طریقه سره(یعنی ښځه او خاوند دواړه په خپل منځ کې په دې رضا وي چې آینده کې به د شریعت مطابق خوشاله ژوند تیروو .

(مَعقل رضی الله تعالی عنه خپله خور یو مسلمان ته په نکاح ورکړي وه څه وخت وروسته هغه طلاق ورکړو،او د عدت په دوران کې ئې رجوع ونکړه یعنی درې حیضونه تیر شو خو هغه رجوع او شرعي صحبت ونکړو،طلاق واقع شو،ښځه د نکاح څخه

خلاصه او ازاده شوه،خو څه وخت وروسته يې بيا يو بل سره
اړيکي جوړي شوي،د يو بل ته ميلان پيدا شو او غوښتل يې چې بيا
سره نکاح وکړي او دوباره ئې دمَعقل رضی الله عنه د خور سره د
نکاح کولو پيغام وروليږلو خو مَعقل رضی الله عنه ته غصه ورغله
،چې ما خور ستا په نکاح کې درکړه او تا طلاقه کړه،او بيا د عدت
په وخت کې دې رجوع هم ونه کړه اوس چې طلاقه او ازاده شوه
نو قسم ئې وخوړو چې نوره به ئې تا ته په نکاح در نه کړم،نو همدا
مبارک آيت نازل شو نو کله چې مَعقل رضی الله عنه دا آيت
واوريدو نو ويې ويل چې:ای الله ما ستا خبره واوريده،زه ستا
اطاعت کوم،بيا ئې هغه سړی راوغوښتلو او ورته ئې وويل زه خپله
خور تا ته په نکاح درکوم او زه ستا عزت کوم،او د قسم کفاره ئې
وکړه بخاري-ابو داود-ترمذي) ذَٰلِكَ دغه (حکم چې ښځه د اول او دوهم
ځل طلاق ورکولو څخه وروسته د اولني خاوند سره د نکاح کولو
څخه مه منع کوئ) يُوعَظُ نصيحت کيږي بِهِ په دې(حکم)سره
مَنْ كَانَ هغه چا ته مِنْكُمْ د ستاسو نه يُؤْمِنُ چې ايمان (او
باور) لري بِاللَّهِ په الله تعالی باندې وَالْيَوْمِ او په ورځ الْآخِرِ ۗ د
آخرت باندې

ذَٰلِكُمْ دا(حکم چې ښځې د مخکينيو خاوندانو سره د اول ځل او يا
دوهم ځل يعنی د رجعي طلاق ورکولو څخه وروسته د نکاح کولو
څخه مه منع کوئ أَزْكَىٰ ډير بهتر دی لَكُمْ تاسو ته وَأَطْهَرُ ۗ او
ډېر پاکيزه دی(يعنی که تاسو خپله لور او خور د رجعي طلاق نه
وروسته بيرته خپلو مخکينيو خاوندانو ته دوباره په شرعي نکاح
ورکړئ،دا ستاسو بې غيرتي او بې عزتي نه ده بلکې د الله تعالی د
دې حکم په منلو سره ستاسو او ستاسو د خورګانو او لورګانو عزت
نور هم زياتيږي ځکه چې:) وَاللَّهُ او الله تعالی يَعْلَمُ پوهيږي(چې

ستاسو عزت او خير په څه شي کې دی) وَأَنْتُمْ او تاسو لَا تَعْلَمُونَ نه پوهيږئ(چې عزت مو په څه کې دی او خير مو په څه کې دی). ﴿232﴾

وَالْوَالِدَاتُ يُرْضِعْنَ أَوْلَادَهُنَّ حَوْلَيْنِ كَامِلَيْنِ ۖ لِمَنْ أَرَادَ أَنْ يُتِمَّ الرَّضَاعَةَ ۚ وَعَلَى الْمَوْلُودِ لَهُ رِزْقُهُنَّ وَكِسْوَتُهُنَّ بِالْمَعْرُوفِ ۚ لَا تُكَلَّفُ نَفْسٌ إِلَّا وُسْعَهَا ۚ لَا تُضَارَّ وَالِدَةٌ بِوَلَدِهَا وَلَا مَوْلُودٌ لَهُ بِوَلَدِهِ ۚ وَعَلَى الْوَارِثِ مِثْلُ ذَٰلِكَ ۗ فَإِنْ أَرَادَا فِصَالًا عَنْ تَرَاضٍ مِنْهُمَا وَتَشَاوُرٍ فَلَا جُنَاحَ عَلَيْهِمَا ۗ وَإِنْ أَرَدْتُمْ أَنْ تَسْتَرْضِعُوا أَوْلَادَكُمْ فَلَا جُنَاحَ عَلَيْكُمْ إِذَا سَلَّمْتُمْ مَا آتَيْتُمْ بِالْمَعْرُوفِ ۗ وَاتَّقُوا اللَّهَ وَاعْلَمُوا أَنَّ اللَّهَ بِمَا تَعْمَلُونَ بَصِيرٌ ﴿233﴾

وَالْوَالِدَاتُ او مور ګاني يُرْضِعْنَ به تَیْ ورکوي أَوْلَادَهُنَّ خپلو اولادونو ته حَوْلَيْنِ دوه کلونه كَامِلَيْنِ ۖ پوره لِمَنْ (دا حکم) د هغه چا دپاره دی أَرَادَ چې اراده لري أَنْ يُتِمَّ چې پوره کړي الرَّضَاعَةَ ۚ د شيدو د ورکولو موده وَعَلَى الْمَوْلُودِ لَهُ او په پلار باندې رِزْقُهُنَّ د دوی خوراک وَكِسْوَتُهُنَّ او د دوی جامې دي بِالْمَعْرُوفِ ۚ د رواج مطابق(څنګه چې په خواوشاه ټولنه کې رواج وي) لَا تُكَلَّفُ نه مکلف کيږي نَفْسٌ هيڅ څوک إِلَّا مګر وُسْعَهَا ۚ د هغه د توان(او طاقت)سره سم (يعنی پلار به د خپل توان او وسې سره د رواج سره سم هغوی ته خوراک او کالي ورکوي) لَا تُضَارَّ (او بايد) ضرر(او تکليف)ونه رسول شي وَالِدَةٌ مور ته بِوَلَدِهَا په سبب د هغې د بچي وَلَا مَوْلُودٌ لَهُ او نه د بچيو پلار ته(يعنی د بچيو پلار ته هم بايد ضرر او تکليف ونه رسول شي) بِوَلَدِهِ ۚ په سبب د هغه د بچي(يعنی مور او پلار بايد

يوبل ته د وړوکي ماشوم په سبب تکليف ورنکړي.مثلاً ښځه بايد بي سببه د شودو ورکولو نه انکار ونکړي،او يا پلار بي سببه ماشوم د مور څخه جدا نه کړي او د بلي ښځې په شودو يې ونه روزي،او يا ئې په نفقه ورکولو يعنى خوراک او کاليو ورکولو کې څه تنګي و نه کړي) وَعَلَى الْوَارِثِ او په وارث باندې(هم لازم دي) مِثْلُ ذَٰلِكَ ۗ په شان د دې(يعنى که پلار مړ شي نو د ماشوم په وارثانو لازم دي چې د شودو رودلو په موده کې د هغه مور ته د خوراک او کاليو مصارف ورکړي،او هيڅ تکليف ورته ونه رسوي). فَإِنْ نو که چيرته أَرَادَا دواړه(ښځه او خاوند)وغواړي فِصَالًا بيلول(د ماشوم د تي څخه مخکي د دوه کلونو نه) عَنْ تَرَاضٍ په خوښه سره مِنْهُمَا د دواړو(ښځې او خاوند) وَتَشَاوُرٍ او په مشوره (د دواړو) فَلَا نو نشته جُنَاحَ څه ګناه عَلَيْهِمَا ۗ په دوى دواړو باندې وَإِنْ او که چيرته أَرَدْتُمْ تاسو غواړئ أَنْ تَسْتَرْضِعُوا چې دائيه ونيسئ(د خپلي مور نه پرته بله ښځه چې ماشوم ته تَى ورکړي) أَوْلَادَكُمْ خپل اولاد ته فَلَا بيا(هم) نشته جُنَاحَ ګناه عَلَيْكُمْ په تاسو باندې إِذَا (په دې شرط) کله چې: سَلَّمْتُمْ سپارئ تاسو(ورکوئ تاسو) مَا هغه څه آتَيْتُمْ چې تاسو يي ورکوئ(دائيانو ته) بِالْمَعْرُوفِ ۗ د رواج مطابق(ستاسو د ټولني د رواج سره سم به دائې ته تنخواه ورکوئ) وَاتَّقُوا او تاسو ويريږئ اللَّهَ د الله تعالى څخه وَاعْلَمُوا او تاسو پوه شئ أَنَّ بيشکه چې اللَّهَ الله تعالى بِمَا په هر هغه څه سره تَعْمَلُونَ چې تاسو يي کوئ بَصِيرٌ ليدونکئ دى. ﴿233﴾

وَالَّذِينَ يُتَوَفَّوْنَ مِنْكُمْ وَيَذَرُونَ أَزْوَاجًا يَتَرَبَّصْنَ بِأَنْفُسِهِنَّ أَرْبَعَةَ أَشْهُرٍ وَعَشْرًا ۖ فَإِذَا بَلَغْنَ أَجَلَهُنَّ فَلَا جُنَاحَ عَلَيْكُمْ فِيمَا فَعَلْنَ فِي أَنْفُسِهِنَّ بِالْمَعْرُوفِ ۗ وَاللَّهُ بِمَا تَعْمَلُونَ خَبِيرٌ ﴿234﴾

وَالَّذِينَ او هغه خلک يُتَوَفَّوْنَ چې مړه کيږي مِنْكُمْ د ستاسو ځيني وَيَذَرُونَ او پريږدي(او ترې پاتې کيږي) أَزْوَاجًا کونډې ښځې يَتَرَبَّصْنَ (نودا کونډې ښځې به) انتظار کوي(تيروي به) بِأَنْفُسِهِنَّ په خپلو ځانونو باندې أَرْبَعَةَ څلور أَشْهُرٍ مياشتې وَعَشْرًا ۖ او لس ورځې(عدت) فَإِذَا نو کله چې بَلَغْنَ هغوی ورسيږي أَجَلَهُنَّ خپلې نيټې ته(يعنى چې د عدت څلور مياشتې او لس ورځې يې پوره شي) فَلَا جُنَاحَ نو نشته ګناه عَلَيْكُمْ په تاسو باندې فِيمَا په هغه څه کې فَعَلْنَ چې هغوی يې کوي فِي أَنْفُسِهِنَّ د خپلو ځانونو په اړه بِالْمَعْرُوفِ ۗ په ښه طريقه سره(يعنى چې کونډې دشريعت مطابق د عدت د تيريدو نه وروسته د ځان په باره کې څه فيصله کوي نو تاسو به يې نه منع کوئ،او تاسو نه ګنهګاريږئ) وَاللَّهُ او الله تعالى بِمَا په هغې (اعمالو) تَعْمَلُونَ چې تاسو يې کوئ خَبِيرٌ خبر دى. ﴿234﴾

وَلَا جُنَاحَ عَلَيْكُمْ فِيمَا عَرَّضْتُمْ بِهِ مِنْ خِطْبَةِ النِّسَاءِ أَوْ أَكْنَنْتُمْ فِي أَنْفُسِكُمْ ۚ عَلِمَ اللَّهُ أَنَّكُمْ سَتَذْكُرُونَهُنَّ وَلَٰكِنْ لَا تُوَاعِدُوهُنَّ سِرًّا إِلَّا أَنْ تَقُولُوا قَوْلًا

مَعْرُوفًا ۚ وَلَا تَعْزِمُوا عُقْدَةَ النِّكَاحِ حَتَّىٰ يَبْلُغَ الْكِتَابُ أَجَلَهُ ۚ وَاعْلَمُوا أَنَّ اللَّهَ يَعْلَمُ مَا فِي أَنْفُسِكُمْ فَاحْذَرُوهُ ۚ وَاعْلَمُوا أَنَّ اللَّهَ غَفُورٌ حَلِيمٌ ﴿235﴾

وَلَا او نشته جُنَاحَ ګناه عَلَيْكُمْ په تاسو باندې فِيمَا په هغې
(خبره کې )عَرَّضْتُمْ چې تاسو اشاره کوئ بِهِ په هغې(خبرې
سره) مِنْ خِطْبَةِ د غوښتلو النِّسَاءِ د ښځو(يعنى چې کونډې
ښځې د عدت په دوران کې وي او تاسو په غيرې مستقيم ډول د
کنايې په شکل د هغوى د غوږ ځخه اشارتاً دا خبره تيره کړئ، لکه
چې ووايئ چې د يوې نيکې ښځې سره واده کول غواړم ) أَوْ أَكْنَنْتُمْ
(او)يا که تاسو پټه ساتئ فِي أَنْفُسِكُمْ ۚ په خپلو زړونو کې(يعنى
غواړئ چې د کونډې سره نکاح وکړئ خو د عدت په دوران کې
ښځې ته هيڅ اشاره ونکړئ او پوهه يې نه کړئ،چې زه د نکاح
کولو اراده لرم او دا خبره په زړه کې پټه وساتئ،نو دا دواړه خبرې
روا دي که اشارتاً ئې پوه کړي او که پوه ئې نه کړي) عَلِمَ اللَّهُ الله
تعالى پوهيږي أَنَّكُمْ چې بيشکه تاسو سَتَذْكُرُونَهُنَّ به هغوى
يادوئ(تاسو ته به د دوى خيال راځي) وَلَٰكِنْ او ليکن لَا تُوَاعِدُو
تاسو وعده مه کوئ هُنَّ د هغوى سره سِرًّا په پټه(د نکاح کولو د
عدت په وخت کې) إِلَّا پرته د دې نه أَنْ تَقُولُوا چې تاسو
وايئ(چې تاسو کوئ) قَوْلًا مَعْرُوفًا ۚ (د شرعت مطابق) رواه خبره
وَلَا تَعْزِمُوا او قصد مه کوئ عُقْدَةَ النِّكَاحِ د نکاح د تړلو(د نکاح د
کولو) حَتَّىٰ تر هغې پورې يَبْلُغَ چې رسيږي الْكِتَابُ عدت
أَجَلَهُ ۚ خپلې ټاکلې نيټې ته(يعنى چې د خاوند د مرګ نه وروسته
څلور مياشتې او لس ورځې تيرې شي،نو اوس کولاى شئ چې
کونډې ته په ښکاره سره د نکاح پيغام ورکړئ او د موافقې په
صورت کې نکاح ورسره وکړئ) وَاعْلَمُوا او تاسو پوه شئ أَنَّ اللَّهَ
چې بيشکه الله تعالى يَعْلَمُ پوهيږي مَا په هغه څه فِي أَنْفُسِكُمْ
چې ستاسو په زړونو کې دي فَاحْذَرُوهُ ۚ نو وويريږئ د هغه جلا
جلاله ځينې وَاعْلَمُوا او تاسو پوه شئ أَنَّ اللَّهَ چې بيشکه الله

تعالى غَفُورٌ ډېر بښونکئ حَلِيمٌ (او ډېر) صبر کوونکئ دى.﴿235﴾

لَا جُنَاحَ عَلَيْكُمْ إِنْ طَلَّقْتُمُ النِّسَاءَ مَا لَمْ تَمَسُّوهُنَّ أَوْ تَفْرِضُوا لَهُنَّ فَرِيضَةً ۚ وَمَتِّعُوهُنَّ عَلَى الْمُوسِعِ قَدَرُهُ وَعَلَى الْمُقْتِرِ قَدَرُهُ مَتَاعًا بِالْمَعْرُوفِ ۖ حَقًّا عَلَى الْمُحْسِنِينَ ﴿236﴾

لَا جُنَاحَ نشته ګناه عَلَيْكُمْ په تاسو باندې إِنْ طَلَّقْتُمُ که چيرته تاسو طلاقوئ النِّسَاءَ ښځې مَا هغه(ښځې) لَمْ تَمَسُّو چې تاسو ګوتې نه وي وروړي هُنَّ هغوى ته(نيزدې شوي ورته نه ياستئ) أَوْ تَفْرِضُوا يا تاسو(نه وي) ټاکلئ(يا تاسو نه وي مقرر کړئ) لَهُنَّ هغوى ته فَرِيضَةً ۚ مهر وَمَتِّعُو او تاسو ورکړئ څه مال هُنَّ هغوى ته عَلَى الْمُوسِعِ چې په مالدار باندې قَدَرُهُ د هغه د توان په اندازه وَعَلَى الْمُقْتِرِ او په غريب (او فقير) باندې قَدَرُهُ د هغه د توان په اندازه مَتَاعًا مال ورکول دي بِالْمَعْرُوفِ ۖ په ښه طريقه سره(د رواج مطابق) حَقًّا دا (يو څه مال ورکول) حق دي عَلَى الْمُحْسِنِينَ په نيکانو باندې ﴿236﴾

وَإِنْ طَلَّقْتُمُوهُنَّ مِنْ قَبْلِ أَنْ تَمَسُّوهُنَّ وَقَدْ فَرَضْتُمْ لَهُنَّ فَرِيضَةً فَنِصْفُ مَا فَرَضْتُمْ إِلَّا أَنْ يَعْفُونَ أَوْ يَعْفُوَ الَّذِي بِيَدِهِ عُقْدَةُ النِّكَاحِ ۚ وَأَنْ تَعْفُوا أَقْرَبُ لِلتَّقْوَىٰ ۚ وَلَا تَنْسَوُا الْفَضْلَ بَيْنَكُمْ ۚ إِنَّ اللَّهَ بِمَا تَعْمَلُونَ بَصِيرٌ ﴿237﴾

وَإِنْ او که طَلَّقْتُمُو تاسو طلاق ورکوئ هُنَّ هغوى ته(يعنى ستاسو ښځو ته) مِنْ قَبْلِ مخکې د دې نه أَنْ تَمَسُّو چې مسه

کړئ هُنَّ هغوی(یعنی چې د نیزدېوالي او شرعي صحبت څخه مخکې طلاق ورکړئ) وَقَدْ او یقیناً فَرَضْتُمْ تاسو ټاکلئ وي لَهُنَّ هغوی ته فَرِيضَةً مهر فَنِصْفُ نو نیمایي مَا د هغه(مهر) فَرَضْتُمْ چې تاسو ټاکلئ دی(د طلاق په صورت کې به یې ښځو ته بیرته ورکوئ) إِلَّا مګر (په هغه صورت کې به یې نه ورکوئ) أَنْ يَعْفُونَ چې هغوی عفوه وکړي(یعنی چې ښځې ټول مهر خاوند ته معاف او پرېږدي) أَوْ يَعْفُوَ یا عفوه وکړي(معاف کړي) الَّذِي هغه څوک بِيَدِهِ چې د هغه پلاس کې عُقْدَةُ النِّكَاحِ ۚ د نکاح غوټه ده(یعنی چې خاوند ټول مهر چې ښځې ته ئې ورکړئ دی،هغه ټول ښځې ته پرېږدي او نیم ترې وانخلي) وَأَنْ تَعْفُوا او عفوه کول أَقْرَبُ نیزدې دي لِلتَّقْوَىٰ ۚ پرهیزګاری ته وَلَا تَنْسَوُا او تاسو مه هیروئ الْفَضْلَ فضل(احسان کول) بَيْنَكُمْ ۚ په خپلو منځونو کې إِنَّ اللَّهَ بیشکه الله تعالی بِمَا په هغو(اعمالو) تَعْمَلُونَ چې تاسو یې کوئ بَصِيرٌ ښه لیدونکئ دی. ﴿237﴾

حَافِظُوا عَلَى الصَّلَوَاتِ وَالصَّلَاةِ الْوُسْطَىٰ وَقُومُوا لِلَّهِ قَانِتِينَ ﴿238﴾

حَافِظُوا تاسو حفاظت(او ساتنه)کوئ عَلَى الصَّلَوَاتِ د ټولو لمونځونو وَالصَّلَاةِ الْوُسْطَىٰ او په خاص ډول د مازدیګر د لمونځ(ډېر حفاظت کوئ) وَقُومُوا او ودرېږئ لِلَّهِ الله تعالی ته قَانِتِينَ په عاجزی سره ﴿238﴾

فَإِنْ خِفْتُمْ فَرِجَالًا أَوْ رُكْبَانًا ۖ فَإِذَا أَمِنْتُمْ فَاذْكُرُوا اللَّهَ كَمَا عَلَّمَكُمْ مَا لَمْ تَكُونُوا تَعْلَمُونَ ﴿239﴾

فَإِنْ او که چیرته خِفْتُمْ تاسو ویرېږئ (چې په لمانځه کې به دښمن یا ځناور دربانديې حمله وکړي) فَرِجَالًا نو پیاده (یعنی په

روانه کې په اشاره لمونځ کوئ که مخ مو هرې خواته وي، أَوْ رُكْبَانًا ۖ يا سواره(كه په اوبښ،آس، موټر،كشتئ يا طياره كې سواره ياستئ په اشاره لمونځ كوئ،كه مخ مو هر طرف ته وي) فَإِذَا بيا چې كله أَمِنْتُمْ تاسو په آمن كې شئ فَاذْكُرُوا نو يادوئ اللَّهَ الله تعالى (په هغه طريقه) كَمَا لكه څنګه عَلَّمَكُمْ چې ئې تاسو ته ښودلي ده مَا هغه (طريقه د الله تعالى د ذكر په كومه چې) لَمْ تَكُونُوا تَعْلَمُونَ تاسو نه پوهيدلئ. ﴿239﴾

وَالَّذِينَ يُتَوَفَّوْنَ مِنْكُمْ وَيَذَرُونَ أَزْوَاجًا وَصِيَّةً لِأَزْوَاجِهِمْ مَتَاعًا إِلَى الْحَوْلِ غَيْرَ إِخْرَاجٍ ۚ فَإِنْ خَرَجْنَ فَلَا جُنَاحَ عَلَيْكُمْ فِي مَا فَعَلْنَ فِي أَنْفُسِهِنَّ مِنْ مَعْرُوفٍ ۗ وَاللَّهُ عَزِيزٌ حَكِيمٌ ﴿240﴾

وَالَّذِينَ او هغه (خلک) يُتَوَفَّوْنَ چې مړه كيږي مِنْكُمْ د ستاسو څيني وَيَذَرُونَ او پريږدي(ترې پاتې كيږي) أَزْوَاجًا كونډې ښځې (نو لازم دي په دوى) وَصِيَّةً وصيت كول لِأَزْوَاجِهِمْ د خپلو ښځو دپاره(وارثانو ته) مَتَاعًا د نفقې وركولو إِلَى الْحَوْلِ د يو كال پورې غَيْرَ إِخْرَاجٍ ۚ پرته د كور څخه د وښكلو نه(يعنى د كور نه به يې نه وباسي) فَإِنْ خو كه چيرته خَرَجْنَ هغوى (پخپله خوښه د څلور مياشتو او لس ورځو عدت تيرولو نه وروسته د خاوند د كور نه) وځي فَلَا جُنَاحَ نو نشته ګناه عَلَيْكُمْ په تاسو باندې فِي مَا په هغه(كار)كې فَعَلْنَ چې هغوى يې كوي فِي أَنْفُسِهِنَّ د خپلو ځانونو په اړه مِنْ مَعْرُوفٍ ۗ دنيكئ نه (يعنى د شريعت مطابق د عدت د پوره كيدلو نه وروسته د بل چا سره نكاح كوي،نه يې منع كولاى شئ،او نه يې نور په تاسو د نفقې او د

اوسیدلو د ځای حق شته دی.) وَاللَّهُ او الله تعالی عَزِيزٌ ډېر
زورور دی(که حکم يې ونه منئ،چې يا كونډې د عدت د تيريدو نه
وروسته د كور نه وتلو ته او يا پخپله خوښه د بل چا سره نكاح
كولو ته نه پرېږدئ، نو سخته جزا به دركړي) حَكِيمٌ (او) حكمت
والا دی.(يو كار ئې هم د حكمت څخه خالي نه دی.) ﴿240﴾

وَلِلْمُطَلَّقَاتِ مَتَاعٌ بِالْمَعْرُوفِ ۖ حَقًّا عَلَى الْمُتَّقِينَ ﴿241﴾

وَلِلْمُطَلَّقَاتِ او د طلاقو شوو ښځو دپاره مَتَاعٌ يو څه(مال)
وركول بِالْمَعْرُوفِ ۖ د شريعت او رواج سره سم حَقًّا لازم دي
عَلَى الْمُتَّقِينَ په پرهيزګارانو باندې. ﴿241﴾

كَذَٰلِكَ يُبَيِّنُ اللَّهُ لَكُمْ آيَاتِهِ لَعَلَّكُمْ تَعْقِلُونَ ﴿242﴾

كَذَٰلِكَ همدارنګه يُبَيِّنُ بيانوي اللَّهُ الله تعالى لَكُمْ تاسو ته آيَاتِهِ
خپل احكام لَعَلَّكُمْ د دې دپاره چې تاسو تَعْقِلُونَ پوه شئ(او
شرعي احكامو ته عقل متوجه كړئ) ﴿242﴾

أَلَمْ تَرَ إِلَى الَّذِينَ خَرَجُوا مِنْ دِيَارِهِمْ وَهُمْ أُلُوفٌ حَذَرَ الْمَوْتِ فَقَالَ لَهُمُ
اللَّهُ مُوتُوا ثُمَّ أَحْيَاهُمْ ۚ إِنَّ اللَّهَ لَذُو فَضْلٍ عَلَى النَّاسِ وَلَٰكِنَّ أَكْثَرَ النَّاسِ لَا
يَشْكُرُونَ ﴿243﴾

أَلَمْ تَرَ (اَلَم تَرَ د هغې واقعې نه مخكې راځې چې عبرت اخستل ترې
ضرور وي) آيا تا نه دې كتلي إِلَى الَّذِينَ هغو خلكو ته (ايا تا د
هغو خلكو په باره كې غور نه دی كړئ) خَرَجُوا چې وتلي وو

مِنْ دِيَارِهِمْ د خپلو کورونو نه وَهُمْ او هغوی أُلُوفٌ په زرګونو
وو حَذَرَ الْمَوْتِ د مرګ د ويري نه(دا د بني اسرائيلو يوه ډله وه
تقريباً لس زره خلک وو چې د جهاد د ويري د خپل کلي او کورونو
نه وتښتيدل د دې دپاره چې مړه نشي فَقَالَ نو وفرمايل لَهُمُ
هغوی ته اللَّهُ الله تعالی مُوتُوا چې مړه شئ(نو ټول مړه شول،
خو د وخت د پيغمبر حزقيل عليه سلام په دعاء سره) ثُمَّ بيا
أَحْيَاهُمْ ۚ الله تعالی هغوی راژوندي کړل إِنَّ اللَّهَ بيشکه الله تعالی
لَذُو يقيناً خاوند فَضْلٍ د فضل(او مهرباني) دی عَلَى النَّاسِ په
انسانانو باندې وَلَٰكِنَّ او ليکن أَكْثَرَ اکثره النَّاسِ انسانان لَا
يَشْكُرُونَ شکر نه وباسي ﴿243﴾

وَقَاتِلُوا فِي سَبِيلِ اللَّهِ وَاعْلَمُوا أَنَّ اللَّهَ سَمِيعٌ عَلِيمٌ ﴿244﴾

وَقَاتِلُوا او تاسو جنګ کوئ فِي سَبِيلِ په لار کې اللَّهِ د الله
تعالی وَاعْلَمُوا او پوه شئ تاسو أَنَّ چې بيشکه اللَّهَ الله تعالی
سَمِيعٌ ښه اوريدونکئ عَلِيمٌ (او)ښه عالم دی ﴿244﴾

مَنْ ذَا الَّذِي يُقْرِضُ اللَّهَ قَرْضًا حَسَنًا فَيُضَاعِفَهُ لَهُ أَضْعَافًا كَثِيرَةً ۚ وَاللَّهُ
يَقْبِضُ وَيَبْسُطُ وَإِلَيْهِ تُرْجَعُونَ ﴿245﴾

مَنْ ذَا الَّذِي څوک دی هغه کس يُقْرِضُ چې قرض ورکوي اللَّهَ
الله تعالی ته قَرْضًا حَسَنًا قرض حسنه(چې خاص د الله تعالی د
رضا دپاره د الله په لار کې د زړه د کومې مصرف وکړي)
فَيُضَاعِفَهُ نو الله تعالی به زيات کړي(ثواب د قرض حسنه) لَهُ
هغه ته أَضْعَافًا په زياتوالي كَثِيرَةً ۚ ډېر سره وَاللَّهُ او الله تعالی

يَقْبِضُ تنګوي (رزق) وَيَبْسُطُ او فراخوي (رزق) وَإِلَيْهِ تُرْجَعُونَ او خاص الله تعالى ته به بيرته ورګرځول کيږئ(د حساب دپاره به الله تعالى ته وروستل کيږئ) ﴿245﴾

أَلَمْ تَرَ إِلَى الْمَلَإِ مِنْ بَنِي إِسْرَائِيلَ مِنْ بَعْدِ مُوسَىٰ إِذْ قَالُوا لِنَبِيٍّ لَهُمُ ابْعَثْ لَنَا مَلِكًا نُقَاتِلْ فِي سَبِيلِ اللَّهِ ۖ قَالَ هَلْ عَسَيْتُمْ إِنْ كُتِبَ عَلَيْكُمُ الْقِتَالُ أَلَّا تُقَاتِلُوا ۖ قَالُوا وَمَا لَنَا أَلَّا نُقَاتِلَ فِي سَبِيلِ اللَّهِ وَقَدْ أُخْرِجْنَا مِنْ دِيَارِنَا وَأَبْنَائِنَا ۖ فَلَمَّا كُتِبَ عَلَيْهِمُ الْقِتَالُ تَوَلَّوْا إِلَّا قَلِيلًا مِنْهُمْ ۗ وَاللَّهُ عَلِيمٌ بِالظَّالِمِينَ ﴿246﴾

أَلَمْ تَرَ إِلَى الْمَلَإِ ايا تا فکر نه دی کړئ په باره د (يوي) ډلي مِنْ بَنِي إِسْرَائِيلَ د بني اسرائيلو مِنْ بَعْدِ وروسته د مُوسَىٰ موسیَ عليه سلام(چې وروسته د موسى عليه سلام څخه تيره شوي ده) إِذْ کله چې قَالُوا هغوی وويل لِنَبِيٍّ لَهُمُ خپل پيغمبر ته ابْعَثْ مقرر کړه لَنَا مونږ ته مَلِكًا يو باچا نُقَاتِلْ چې جنګ وکړو مونږ(د هغه په مشرى) فِي سَبِيلِ په لار کې اللَّهِ ۖ د الله تعالى قَالَ هغه وويل هَلْ عَسَيْتُمْ کيدای شي تاسو إِنْ كُتِبَ که چيرته فرض شي عَلَيْكُمُ په تاسو باندې الْقِتَالُ جنګ أَلَّا تُقَاتِلُوا ۖ چې جنګ به ونکړئ قَالُوا هغوی وويل وَمَا لَنَا او په مونږ څه شوي دي أَلَّا نُقَاتِلَ چې جنګ به نه کوو فِي سَبِيلِ په لار کې اللَّهِ د الله تعالى وَقَدْ أُخْرِجْنَا په داسې حل کې چې بيشکه مونږ ويستل شوي يو مِنْ دِيَارِنَا د خپلو کورونو نه وَأَبْنَائِنَا ۖ او د خپلوځامنو نه(جدا شوي يو،د موسىَ عليه سلام نه وروسته بني اسرائيل د يو څه مودې پورې ښه وو،خو کله يې چې نيتونه خراب شو يو ظالم کافر پاچا چې جالوت نوميده پرې مسلط شو،ښار يې ترې ونيوو،کورونه يې ورته وران ويجاړ کړل ځامن يې غلامان

کړل) فَلَمَّا نو کله چې كُتِبَ فرض شو عَلَيْهِمُ په هغوی باندې
الْقِتَالُ جنګ کول تَوَلَّوْا نو وګرزيدل دوی(د جنګ نه) إِلَّا
مګر(ونه ګرزيدل د جنګ نه) قَلِيلًا ډېر لږ مِنْهُمْ ۗ د هغوی نه
وَاللَّهُ او الله تعالی عَلِيمٌ عالم دی بِالظَّالِمِينَ په ظالمانو باندې.
﴿246﴾

وَقَالَ لَهُمْ نَبِيُّهُمْ إِنَّ اللَّهَ قَدْ بَعَثَ لَكُمْ طَالُوتَ مَلِكًا ۚ قَالُوا أَنَّىٰ يَكُونُ لَهُ
الْمُلْكُ عَلَيْنَا وَنَحْنُ أَحَقُّ بِالْمُلْكِ مِنْهُ وَلَمْ يُؤْتَ سَعَةً مِنَ الْمَالِ ۚ قَالَ إِنَّ اللَّهَ
اصْطَفَاهُ عَلَيْكُمْ وَزَادَهُ بَسْطَةً فِي الْعِلْمِ وَالْجِسْمِ ۖ وَاللَّهُ يُؤْتِي مُلْكَهُ مَنْ
يَشَاءُ ۚ وَاللَّهُ وَاسِعٌ عَلِيمٌ ﴿247﴾

وَقَالَ او وويل لَهُمْ هغوی ته نَبِيُّهُمْ د هغوی پيغمبر إِنَّ اللَّهَ
بيشکه الله تعالی قَدْ بَعَثَ يقيناً مقرر کړې دی لَكُمْ تاسو ته
طَالُوتَ طالوت مَلِكًا ۚ پاچا قَالُوا هغوی وويلې أَنَّىٰ څنګه
يَكُونُ کيدای شي لَهُ د هغه الْمُلْكُ پاچاهي عَلَيْنَا په مونږ و
حال دا چې نَحْنُ مونږ أَحَقُّ ډېر حقدار يو بِالْمُلْكِ د بادشاهۍ
مِنْهُ د هغه نه وَلَمْ يُؤْتَ او نه دی ورکول شوئ هغه ته سَعَةً
پراخه مِنَ الْمَالِ ۚ د مال(او دولت)څيني قَالَ پيغمبر عليه سلام
وويلې إِنَّ اللَّهَ بيشکه الله تعالی اصْطَفَاهُ غوره کړې دی هغه
عَلَيْكُمْ په تاسو باندې وَزَادَهُ او زياته کړي يې ده هغه ته بَسْطَةً
پراخي فِي الْعِلْمِ په علم کې وَالْجِسْمِ ۖ او په جسم کې وَاللَّهُ او الله
تعالی يُؤْتِي ورکوي مُلْكَهُ بادشاهي خپله مَنْ يَشَاءُ ۚ چاته چې
وغواړي وَاللَّهُ او الله تعالی وَاسِعٌ خاوند د پراخه فضل دی
عَلِيمٌ (او)پوه دی. ﴿247﴾

وَقَالَ لَهُمْ نَبِيُّهُمْ إِنَّ آيَةَ مُلْكِهِ أَنْ يَأْتِيَكُمُ التَّابُوتُ فِيهِ سَكِينَةٌ مِنْ رَبِّكُمْ وَبَقِيَّةٌ مِمَّا تَرَكَ آلُ مُوسَىٰ وَآلُ هَارُونَ تَحْمِلُهُ الْمَلَائِكَةُ ۚ إِنَّ فِي ذَٰلِكَ لَآيَةً لَكُمْ إِنْ كُنْتُمْ مُؤْمِنِينَ ﴿248﴾

وَقَالَ او وويلي لَهُمْ هغوی ته(بني اسرائيلو ته) نَبِيُّهُمْ پيغمبر د دوی إِنَّ آيَةَ (چې)بيشکه نښه(علامه) مُلْكِهِ د بادشاهۍ د هغه(يعنی د طالوت د بادشاهۍ دا ده) أَنْ چې يَأْتِيَكُمُ رابه شي تاسو ته التَّابُوتُ (هغه) صندوق فِيهِ چې په هغه کې به سَكِينَةٌ سکون وی(د زړه ارام وي) مِنْ رَبِّكُمْ ستاسو د رب د طرفه وَبَقِيَّةٌ او پاتي شوي مِمَّا د هغو شيانو(به په کې وي چې ) تَرَكَ پرايښي وو آلُ مُوسَىٰ اولاد د موسی عليه سلام وَآلُ هَارُونَ او اولاد د هارون عليه سلام تَحْمِلُهُ (چې)راوړي به دا(صندوق) الْمَلَائِكَةُ ۚ پرښتي إِنَّ بيشکه فِي ذَٰلِكَ په دغه (دصندوق په راوړلو کې) لَآيَةً نښه ده(علامه ده) لَكُمْ ستاسو دپاره(د طالوت د بادشاهۍ) إِنْ كُنْتُمْ که چيرته ياستئ تاسو مُؤْمِنِينَ مؤمنان(باورکونکي) ﴿248﴾

فَلَمَّا فَصَلَ طَالُوتُ بِالْجُنُودِ قَالَ إِنَّ اللَّهَ مُبْتَلِيكُمْ بِنَهَرٍ فَمَنْ شَرِبَ مِنْهُ فَلَيْسَ مِنِّي وَمَنْ لَمْ يَطْعَمْهُ فَإِنَّهُ مِنِّي إِلَّا مَنِ اغْتَرَفَ غُرْفَةً بِيَدِهِ ۚ فَشَرِبُوا مِنْهُ إِلَّا قَلِيلًا مِنْهُمْ ۚ فَلَمَّا جَاوَزَهُ هُوَ وَالَّذِينَ آمَنُوا مَعَهُ قَالُوا لَا طَاقَةَ لَنَا الْيَوْمَ بِجَالُوتَ وَجُنُودِهِ ۚ قَالَ الَّذِينَ يَظُنُّونَ أَنَّهُمْ مُلَاقُو اللَّهِ كَمْ مِنْ فِئَةٍ قَلِيلَةٍ غَلَبَتْ فِئَةً كَثِيرَةً بِإِذْنِ اللَّهِ ۗ وَاللَّهُ مَعَ الصَّابِرِينَ ﴿249﴾

فَلَمَّا نو کله چې فَصَلَ و وتلو طَالُوتُ طالوت بِالْجُنُودِ د (بني اسرائيلو) د لښکر سره قَالَ ( نو بني اسرائيلو ته ئې)وويل إِنَّ (چې) بيشکه اللَّهَ الله تعالی مُبْتَلِيكُمْ امتحانوي تاسو بِنَهَرٍ

(د اوبو) په يو نهر سره فَمَنْ نو څوک شَرِبَ (چې اوبه) وڅکي
مِنْهُ د دغه(نهر څخه په مړه ګيډه) فَلَيْسَ نو هغه نه دی مِنِّي څما
د ملګرو نه(هغه څما ملګری نه دی) وَمَنْ او څوک لَمْ يَطْعَمْهُ
(چې اوبه) ونه څکي د دغه(نهر نه) فَإِنَّهُ نو بيشکه هغه مِنِّي
څما د ملګرو نه دی(نو بيشکه هغه څما ملګری دی) إِلَّا مګر مَنِ
څوک چې اغْتَرَفَ راواخلي غُرْفَةً يو ورغوی(يو غړپ اوبه)
بِيَدِهِ ۚ په خپل لاس سره(يعنی څوک چې صرف يو ورغوی يا يو
غړپ اوبه وڅکي هغه هم څما ملګری دی) فَشَرِبُوا (خو کله چې
د بني اسرائيلو لښکر نومړي نهر ته ورسيدو،نو ټولو ښه په مړه
ګيډه) وڅکلي مِنْهُ د دغه (نهر نه اوبه) إِلَّا مګر قَلِيلًا ډېرو
لږو خلکو مِنْهُمْ ۚ د هغوی څينې(اوبه ونه څکې) فَلَمَّا نو کله چې
جَاوَزَهُ تير شول د هغه(نهر نه) هُوَ هغه(طالوت) وَالَّذِينَ او
هغه خلک آمَنُوا چې هغوی مؤمنان وو مَعَهُ د هغه سره(د
طالوت سره د بني اسرائيلو د ځوانانو ۸۰۰۰۰ لښکر وو،خو کله
چې نهر ته ورسيدل پرته د ۳۱۳ ځلميانو نه نورو ټولو ښه په مړه
ګيډه اوبه وڅکلي، نور نو د مخکې تلو څخه پاتي شول،او د طالوت
نه بيل شول،صرف طالوت د ۳۱۳ ځوانانو سره د نهر يا درياب
څخه پوريوتلو،چون د جالوت لښکر ډېر زيات وو، نو) قَالُوا
هغوی وويلي(د طالوت ملګرو وويلي) لَا طَاقَةَ چې نشته طاقت
لَنَا زمونږ الْيَوْمَ نن ورځ بِجَالُوتَ د جالوت وَجُنُودِهِ ۚ او د
هغه د لښکر سره(د مقابلي کولو،يعنی چې نن په مونږ کې د جالوت
او د هغه د لښکر سره د مقابلي طاقت نشته دی.) قَالَ (نو) وويلي
الَّذِينَ هغو خلکو يَظُنُّونَ چې يقين يې لرلو أَنَّهُمْ چې بيشکه
هغوی (يوه ورځې) مُلَاقُو ملاقات کوونکي دي اللَّهِ د الله تعالی
سره(نو دوی وويلي ) كَمْ ډېر ځله(داسې شوي دي چې) مِنْ فِئَةٍ

قَلِيلَةٍ د(مؤمنانو) يوه وړه ډله غَلَبَتْ غالبه شوي ده(کامیاب شوي ده) فِئَةً كَثِيرَةً (د کافرانو) په يوه لويه ډله بِإِذْنِ اللَّهِ ۗ د الله تعالی په حکم سره وَاللَّهُ او الله تعالی مَعَ الصَّابِرِينَ د صبر کوونکو سره دی. ﴿249﴾

وَلَمَّا بَرَزُوا لِجَالُوتَ وَجُنُودِهِ قَالُوا رَبَّنَا أَفْرِغْ عَلَيْنَا صَبْرًا وَثَبِّتْ أَقْدَامَنَا وَانْصُرْنَا عَلَى الْقَوْمِ الْكَافِرِينَ ﴿250﴾

وَلَمَّا او هر کله چې بَرَزُوا هغوی مخامخ شول(او هر کله چې طالوت او د هغه (۳۱۳) ملګري مخامخ شول لِجَالُوتَ جالوت ته وَجُنُودِهِ او د هغه لښکر ته قَالُوا (نو) دوی وويلي(دعا يې وغوښتله چې) رَبَّنَا ای زمونږه ربه أَفْرِغْ نازل کړي عَلَيْنَا په مونږ باندې صَبْرًا صبر(اي ربه: مونږ ته صبر راکړي) وَثَبِّتْ او محکم کړي(کلک کړي) أَقْدَامَنَا قدمونه زمونږ(په جنګ کې) وَانْصُرْنَا او مرسته وکړي زمونږ سره عَلَى الْقَوْمِ په قوم الْكَافِرِينَ د کافرانو باندې﴿250﴾

فَهَزَمُوهُمْ بِإِذْنِ اللَّهِ وَقَتَلَ دَاوُودُ جَالُوتَ وَآتَاهُ اللَّهُ الْمُلْكَ وَالْحِكْمَةَ وَعَلَّمَهُ مِمَّا يَشَاءُ ۗ وَلَوْلَا دَفْعُ اللَّهِ النَّاسَ بَعْضَهُمْ بِبَعْضٍ لَفَسَدَتِ الْأَرْضُ وَلَٰكِنَّ اللَّهَ ذُو فَضْلٍ عَلَى الْعَالَمِينَ ﴿251﴾

فَهَزَمُو نو شکست(ماتې) ورکړه دوی(طالوت او د هغه ملګرو ) هُمْ هغوی ته(جالوت او د هغه لښکر ته) بِإِذْنِ اللَّهِ د الله تعالی په حکم سره وَقَتَلَ او ووژلو دَاوُودُ داود علیه سلام جَالُوتَ جالوت وَآتَاهُ او ورکړ ده ته(داود علیه سلام ته) اللَّهُ الله تعالی الْمُلْكَ بادشاهي وَالْحِكْمَةَ او حکمت (او نبوت د طالوت اواشموئيل علیه سلام د مرګ نه وروسته) وَعَلَّمَهُ او وئې ښودل هغه ته(داود علیه سلام ته) مِمَّا د هغو شيانو نه يَشَاءُ ۗ چې هغه جل جلاله

غوښتل وَلَوْلَا دَفْعُ او (دغه شان) كه چيرته مخنيوئ نه كولو اللَّهِ الله تعالى النَّاسَ د انسانانو بَعْضَهُمْ ځينې د هغوى (چې په ځمكه كې فساد كوي) بِبَعْضٍ په ځينو (نورو چې حق پرست دي،مؤمنان دي،يعنى كه الله تعالى د يوې ډلې مخنيوئ په بلې ډلې سره نه كولو) لَفَسَدَتِ (نو)خامخا به ورانه شوي وه الْأَرْضُ ځمكه(ځمكه به خامخا ورانه شوي وه ) وَلَٰكِنَّ او ليكن اللَّهَ الله تعالى ذُو فَضْلٍ څښتن د فضل(احسان) دى عَلَى الْعَالَمِينَ په عالمونو باندې.
﴿251﴾

كله چې طالوت او د هغه ٣١٣ تنه ملګري د جالوت د لښكر سره مخامخ شول،چې په دې ٣١٣ كسانو كې د داود عليه سلام پلار او د ده شپږ ورونه او په خپله داود عليه سلام هم وو.هركله چې دواړه لښكري سره مخامخ شوي،په خپله جالوت ميدان ته راووت،او وئې ويل چې:زه يوازې ستاسو سره د جنګ دپاره بس يم،ټول به مات او مغلوب كړم يو-يو ماته راتير شئ،اشموئيل عليه سلام چې نبي وو،هغه عليه سلام هم په دوى كې موجود وو،نو ده د داود عليه سلام پلار وغوښتلو،او ورته ئې وويل چې ټول ځامن دې ماته راوښيه!نو ده خپل شپږ ځامن چې ډېر جګ،پياوړي او قوي ځلميان وو،ورووښودل،او داود عليه سلام ئې ورسره مخ نه كړ،ځكه چې داود عليه سلام يو ټيټكى،غونډكى شپون وو،او پسونه ئې څرول،اشموئيل عليه سلام هغه هم راوغوښتلو،او ورته ئې وويل چې:«ته جالوت وژلئ شي؟) داود عليه سلام وويل چې هو! بيا د جالوت مخي ته ورووت،او هغه درې تيږې چې په لار كې ئې د ځان سره راخستي وې،په ميچينوغزي (مچنوغي)كې ئې كيښودې،او جالوت ئې په تندي داسې پرې وويشت،چې د څټ څخه يې درې واړه تيږې دباندې ووتلې،ځكه چې د جالوت نور ټول

وجود په اوسپنه کې پټ وو،د جالوت لښکر وتښتيدو او مسلمانان بريالي شول،بيا طالوت خپله لور داود عليه سلام ته واده کړه،او د طالوت نه وروسته داود عليه سلام بادشاه شو،خو دی د باچاهۍ سره-سره نبي هم وو،او اوسپنه به ئې په لاس باندې لکه د موم په شان نرمولای شوه،ډېري ښکلي ځغري به ئې جوړولي،د مرغانو په خبرو هم پوهيدو.

تِلْكَ آيَاتُ اللَّهِ نَتْلُوهَا عَلَيْكَ بِالْحَقِّ ۚ وَإِنَّكَ لَمِنَ الْمُرْسَلِينَ ﴿252﴾

تِلْكَ آيَاتُ اللَّهِ دا د الله تعالی آياتونه دي(دا د الله تعالی د قدرت دلايل دي) نَتْلُوهَا چې مونږ ئې لولو عَلَيْكَ پر تا باندې(ای محمد صلی الله عليه وسلم) بِالْحَقِّ ۚ په حقه سره وَإِنَّكَ او بيشکه ته لَمِنَ الْمُرْسَلِينَ ( زمونږ) د مرسلانو څخه يې. ﴿252﴾ خامخا د